د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د پکتیکا لوړو زده کړو موسسه

# د سلیمان غر علمي - څېړنیزه مجله
## (ساینسي علوم)

لومړۍ ګڼه ، لومړی چاپ ، ۱۴۰۳ ل.ل/ ۱۴۴۵ ل.س




وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ١٤ المومنون ۱۲-۱۳-۱۴

**ژباړه:** بېشکه، موږ انسان له خالصي نرۍ خټې څخه جوړ کړ؛ بیا مو هغه په یو محفوظ ځای (رحم) کښې په څڅېدلي څاڅکي (نطفې) تبدیل کړ؛ بیا مو هغه څاڅکي (نطفه) ته د برغنډ (ترلي ویني) بڼه ورکړه. بیا مو برغنډ د غوښي بوټۍ وګرځوله، بیا مو بوټۍ هډوکي جوړ کړل، بیا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله؛ بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ. نو الله ډېر زیات برکتناك او تر ټولو پیدا کوونکو ښه پیدا کوونکی دی.

د سلیمان غر علمي- **څېړنیزه مجله (ساینسي علوم)**
د امتیاز خاوند: **پکتیکا لوړو زده کړو موسسه**
د څېړنې او علمي مجلې آمر: **پوهنمل صمیم الله میاخېل**
مسئول مدیر: **پوهنمل محمد طارق درویش**
سردبیر: **پوهنمل حزب الله رحماني**
ډیزاین: **عبدالحکیم حکمت**
د چاپ نوبت: **لومړی**
الیکټرونیکي پته: **paktikahei.sulaimangharjournal@pktku.edu.af**
د اړیکو شمېرې: **+93786906066 - +93744762994**

## د لیکنې هیئت غړي

**پوهندوی حبیب الله همایون د هارتیکلچر څانګې استاد.**
**پوهنمل صمیم الله میاخیل د ریاضي څانګې استاد.**
**پوهنمل حزب الله رحماني د بیولوژي څانګې استاد.**
**پوهنمل محمد یوسف واحد یار د حیواني علومو څانګې استاد.**
**پوهنیار عجب خان سایل زوی د کیمیا څانګې استاد.**
**پوهنیار رحمت الله لیوال د فزیک څانګې استاد.**
**پوهنیار سلطان محمد احمد د بیولوژي څانګې استاد.**

## یادوونه

۱. د سلیمان غر علمي- څېړنیزې مجلې ته رالېږونکې مقالې باید علمي، نوې او د اکاډمیکو معیارونو سره برابرې وي.

۲. دې مجلې ته باید رالېږونکې مقالې په بله مجله کې نه وي خپرې شوې او یا د خپرېدو په موخه نه وي لېږل شوي.

۳. لېږل شوې مقاله د کتنې په موخه کتنپلاوو ته لېږل کېږي، کتنپلاوي هغه په دقیقه توګه مطالعه کوي او د هغې اړوند پرېکړه کوي.

۴. د مجلې تحریر هیئت چې د علمي کادر غړو څخه جوړ دی، د مجلې د پالیسي سره سم د مقالې خپرېدو اړوند پرېکړه کوي او د مجلې مدیر مسئول د تحریر هیئت پرېکړه لیکوال ته د خبراوي په موخه رسوي.

۵. د مقالې ټول محتوایي مسئولیت د لیکونکي/لیکوالانو، کتنپلاوو او تقریظ ورکوونکو په غاړه دی.

| گڼه | سرلیک | لیکوال/لیکوالان | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | په چاپیریال باندې د هارټیکلچري محصولاتو د تولید اغیزې. | پوهنمل محمد طارق درویش، پوهنیار روح الله نیازی، نامزد پوهنیار ریاض احمد همت. | ۱ |
| ۲ | د غواګانو د وینې په بیوشیمیکي پارامترونو د شیدو ورکولو بېلابېلو دورو تاثیرات. | پوهنیار عبد المجید بندارخېل، پوهندوی دوکتور احمد فرید روان، پوهنیار فضل اکبر خلیلي. | ۱۶ |
| ۳ | ارزیابی و مقایسه سطح پایداری زراعت با تأکید بر مخاطرات زیستمحیطی، اقتصادی و اجتماعی (مطالعه موردی: ولسوالی قرهباغ ولایت غزنی افغانستان) | پوهنیار ذبیح الله عابد، پوهنمل محمدطارق درویش، پوهنیار سیدالرحمن مجیدي. | ۳۰ |
| ۴ | بررسی آثرات کودهای نیتروژنی در سطوح متفاوت بر رشد و ویژگیهای مورفولوژیکی گیاه بادنجان رومی(Lycopersicon esculentum Mill.) | پوهنیار سیدالرحمن مجیدی، پوهنیار ذبیح الله عابد، پوهنمل محمد طارق درویش. | ۵۰ |
| ۵ | دکوډ ګذاري نظریې پېژندنه او د هغې استعمال. | پوهنمل صمیم الله میاخېل، پوهنیار محمد عظیم نظري، پوهندوی عبدالمحمد قدوسي. | ٦۴ |
| ٦ | د حقیقي معین انټګرالونو محاسبه کې د باقيمانده قضیې کارونه. | پوهنیارحیات الله سعید، پوهنیار صدیق الله قاسمي. | ۸۰ |
| ۷ | په افغانستان کې د انرژي نوې کېدونکې سرچینې. | پوهنیار رحمت الله لیوال | ۱۰۰ |
| ۸ | د قرآن او ساینس په رڼا کې د انساني جنین د تکامل څېړنه. | پوهنمل محمد عزیز خان امیرزی، پوهنیار سلطان محمد احمد. | ۱۱۲ |
| ۹ | په بکټریاوو کې د حرکت څېړنه. | پوهنیارفضل معبود عادل*[۱]، پوهنیار زاهدالله ذهین[۲] | ۱۲۴ |
| ۱۰ | ارجاع ګروپ کاربونیل. | نامزد پوهنیار جمعه خان واثق. | ۱۳۵ |
| ۱۱ | د ښوونیز وېب سایټ اهمیت د پکتیکا لوړو زده کړو موسسې لپاره. | پوهنیار حضرت محمد وحدتي | ۱٦۲ |
| ۱۲ | Economic importance of saffron. | Ahmad sultan Mohammad, Amirzai Mohammad Aziz khan. | ۱۷۸ |

# د پکتیکا لوړو زده کړو موسسې د رئیس پیغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله القائل (وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ۸۹) والصلوة والسلام على خير خلق الله كلهم سيد نا ونبينا محمد و على آله و صحبه أجمعين أما بعد :

هر څومره چې د عصر له پرمختګونو سره نوي امور کشف کېږي مونږ په قرآن کریم کې د هغوی لپاره دقیق اشارات پیدا کوو؛ نو دا څه نا اشنا امر نه دی، چې الله جل جلاله خپل کتاب په دې صفت موصوف کړی چې (تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ) یعنې دهر څه لپاره بیانوونکی، نو د عصري علومو پوهان چې د کائناتو په ظاهري کون کې په خپلو څېړنو سره هر نوی او دقیق کشف کوي اتفاقا له قرآن کریم سره برابرېږي؛ چې دا د قرآن کریم علمي اعجاز دی، او پر دې دلالت کوي چې دا قران کریم د بشر کلام نه بلکې حق او د خدای جل جلاله له لوري نازل شوی کتاب دی، ددې خبرې د اثبات لپاره مونږ زیاتې بیلګې لرو چې ذکر کول یې د یو پیغام له محتوا سره نه ښايي؛ له دې څخه معلومیږي چې قرآن کریم او د اسلام مبارک دین له ساینس سره په هیڅ معنی ټکر نه لري، دا خو پر ګرانو افغانانو د غرب پالو له لوري تپل شوی فکر وو چې داسلام دین به یې له ساینس سره په ټکر باله، د اسلامي امت د متفرق کیدلو په موخه به یې د دین د عالم او عصري پوهانو تر مینځ جلاوالی راوست، لله الحمد چې د کفر د اشغال له ختمېدو، د مبارکې فتحې پر راتللو او د افغانستان اسلامي امارت پر واکمنېدو سره دغه مهلک فکرونه خنثی او له مینځه ولاړل .

په دې اساس زما پیغام ټولو هغو استادانو او علمي شخصیتونو ته چې د تکنالوي او عصري علومو په برخه کې څېړنې او اکتشافات کوي دا دی؛ ستاسو هره څېړنه چې ده، د قرآن کریم رازونه را برسېره کوي نو د خپلې څېړنې پر مهال د لوی الله جل جلاله په کامل قدرت کې سوچ او فکر کوئ!

خپلې څېړنې مو د غریبې او په عصري لحاظ د وروسته پاتې اسلامي نړۍ د ښه‌اینې او او پر ځان بسیا ګرځولو په موخه تر سره کړئ!

ستاسو څېړنو ته د افغانستان د غریب ولس او مقدس اسلامي نظام امیدونه دي په دې اساس څېړنې مو د قیقې او په پوره تحقیقي او واقعې شکل ترسره کړئ! د افغانستان اسلامې امارت

ستاسو د څېړنو ملاتړ کوي او په هر لحاظ ستاسو حمایت کوي ، هغه وختونه تیر شول چې د کفري استعمار له امله استادانو او علمي شخصیتونو خپل کمالات نشوای اظهارولای او که به یې اظهارول له ستونزو سره به مخ کېدل او یا به زندانونو ته استول کېدل؛ بلکې برعکس د استاد د هرې څېړنې تقدیر کیږي او د څېړنې پایلې یې په نظام کې عملي کېږي؛ ستاسو هر فکر او تحقیق چې تاسو یې کوئ په اوس وخت کې د خپل مستقل نظام لپاره دی، او ستاسو د ګران هیواد او خپلې اسلامي ټولنې د رفاه او سوکالي لپاره به کارول کیږي، دا نو ستاسو مسؤولیت جوړیږي چې د تحقیق په میدان کې شپه او ورځ پر ځان یوه کړئ تر څو په دې برخه کې شته ستونزې حل او خپل نظام او ګران هیواد په مادي لحاظ له نورو سره سیال کړئ!

په درنښت

مولوي شبیر احمد عباس

د پکتیکا لوړو زده کړو موسسې رئیس

# په چاپېریال باندې د هارټیکلچري محصولاتو د تو لید اغیزې

پوهنمل محمدطارق درویش۱*، پوهنیار روح الله نیازی۲، نامزد پوهنیار ریاض احمد همت۳
(۱،۲ او ۳) هارټیکلچر څانګه، کرنې پوهنځي، پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه
ایمیل آدرس: tariqdarwis143Qgmail.com

## لنډیز

د ټولو مخلوقاتو لپاره چې دځمکې په مخ ژوند کوي د چاپیریال پاکوالي ورته داهمیت وړ دی، په همدې اساس هارټیکلچر یا باغداري د سالم چاپیریال په پراختیا کې مرسته کوي مګر احتمالي زیانونه هم لري. هارټیکلچري نباتات دمحیط ښکلا زیاتیدو، اتموسفیر د ککړتیا جذب ، شور او غوغا جذب، په ګرمه هوا دیخولو اغیز،خاورې تخریب مخنیوي، دانسانانو او حیواناتو لپاره اکسیجن چمتو کول او نورو ګټورو اغیزو په درلودلو سره په چاپیریال کې دخالت او مشارکت لري. متاسفانه دهارټیکلچر ځینې فعالیتونه شاید په غیر مستقیم ډول او د ناسمو کړنو په پایله کې د چاپیریال لپاره ستونزې منځته راوړي،دمثال په توګه په ناسم ډول د کیمیاوي سرو او آفت وژونکو استعمال اوبه.هوا .خاوره . نباتات.حیوانات او انسانانو ته ډیر زیان رسیږي، ممکن د ککړتیا یا د خاورې تخریب، دغذایي سرچینو ویجاړیدو او ضایع کیدو همدارنګه د اتمو سفیر د قشر د تخریب سبب ګرځي د ماوراي بنفش ( ultra violet ) وړانګو د تیریو سبب ګرځي چې مختلفو ناروغیو لکه د وینې سر طان او د نورو ناروغیو لامل کیږي هم د تودوخې درجه لوړیږي او د نباتاتو د ودي بطي کیدو لامل ګرځي .همدا رنګه یو شمیرPesticide لکه Mercury ،DDT او داسې نورو استعمال ډیر زیات خطر لري ځکه دا په شحمي غدو کې ذخیره کیږي او د بدن څخه نه وځي د مختلفو نا روغیو لامل ګرځي په ښځو کې د رحم سرطان منځ ته راوړي او په ټوله کې په ځمکه کې د ژوند تنوع محدودیدو لامل شي. همدارنګه دآفت وژونکو کارول خوراً جنجالي بحث دی، په همدې اساس یې ګټې او ستونزې بیان شوې ، برسیره پردې د آفتونو کنټرولولو لپاره ژوندي، کرنیز ، میخانیکي ، کیمیاوي او جینتیکي طریقو ته اشاره شوی .

**کلیدي کلمې:** آفت وژونکي، چاپیریال، کیمیاوي سرې، هارټیکلچري نباتات.

## سریزه

د انسان شا و خوا ته موجود ټول کاینات د الله تعالی مخلوقات دي،الله تعالی( ج ) انسان په ځمکو، ځنګلونو، دریابونو، سیندونو او نورو ډول ډول شیانو سره اباد کړي دي ځمکه یې د انسان په واک کښې ورکړې ده، اسمان یې پر انسان د هسک بام په ډول په ښکلو ستورو او سیارو سره ښایسته کړي دي تر اسمان لاندې ډکې وریځې یې د انسان د اوبو د اړتیا پوره کیدو لپاره پیداکړي دي. د الله تعالی ارشاد دی:(هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا) (هود:٦١) ژباړه : الله تعالی تاسو له خاورې څخه پیدا او پر ځمکه اباد کړي یاست. ددې ایات غوښتنه دا ده چې الله تعالی ج انسان ته دا مسولیت ور سپارلي دي چې ددې نړۍ د جوړېدلو کوښښ وکړي د هغو شیانو څخه په پوره ډول پرهیز وکړي چې د ځمکې د ابادۍ او پر ځمکه د ابادو مخلوقاتو د ژوند او بریالیتوب سره په ټکر کې وي( عمري، ۲۰۱۷). دا چې چاپیریال د انسان، حیوان، نبات او هر ژوندی موجود د اوسیدو اصلي ځای بلل کیږي او هر څو مره چې د اوسیدوځای پاک وي په همغه اندازه مشکلات او ستو نزې کمې وي، چټل او ککړ چاپیریال د مشکلاتو او ستونزو څخه ډک وي په همدې اساس چاپیریال ککړ تیا د مخنیوي د پاره په نړیواله سطحه ډېر مصارف کیږي. چاپیریال ککړتیا له مختلفو عواملو څخه کیمیاوي سرې او آفت وژونکي هم دي کوم چې چاپیریال د ککړتیا لامل ګرځي او زیان یې هم له اقتصادي ډېر وي ځکه هر کال میلیونونه ډالر لګښت پرې راځي، تر څو ناروغي او آفتونه کنترول شي. که چېرې کیمیاوي سرې او آفت وژونکي په صحیح ډول استعمال نشي له ځان سره بدې اغیزې او خطرونه هم لري چې له کنترول څخه وتلي وي او د بېلا بېلو ناروغیو سبب ګرځي او همدا رنګه ددې د نه استعمال په وجه هم ډېر تاوانونه منځ ته راځي په نباتي محصولاتو کې د ۳۵٪-۵۰٪ کموالی راځي (جاهد ۲۰۱۹). کله چې دوهم نړیوال جنګ پیل شو او انسان به غیر له کتنې یا ملاحظې څخه له آفت وژونکو او کیمیاوي سرو څخه استفاده وکړه په همدې اساس د تکنالوژي ورځنی پرمختګ خپله د کرنې منفي اغیزې زیاتې روښانه او د ژوند چاپیریال یې ډیر ګډوډ او خراب کړ( تقوی او کامیار، ۱۳۹۴). دا چې زیاتره انسانان ټول شیان د ځان لپاره غواړي او دا هم نامکنه ده چې خپل ځان د طبیعت او چاپیریال څخه بېل وګڼي،دا مفکوره ددې باعث شوې ده چې انسان له طبیعت څخه بې فکره او بې رحمانه ګټه واخلي، هم دې مفکورې انسان هڅولی تر څو یوازې خپلې اقتصادي ګټې په پام کې ونیسي په همدې بنسټ اړینه ده چې انسانان د چاپیریال په باره کې نوې نظریه او مفکوره پیدا کړي. د دې کار لپاره اړینه ده، چې د چاپیریال په اړه لازمه پوهه لاس ته راوړي(جاویداحمد، ۱۳۹۸). داچې د ژوند چاپیریال له ژوندیو او غیر ژوندیو

عواملو څخه تشکیل شوی نو د ټولو هغو عواملو کنټرول کوم چې د ژوندیو موجوداتو په ژوند باندې اثر لري یو ستونزمن کار ده، د دې مسئلي حل په موخه دهارټیکلچر څو مثالونو ته اشاره شوې چې د ژوند چاپیریال لپاره څومره ګټور دي (نادری او جعفرپور، ۱۳۹۲). یواځې ۱۵ دقیقو لپاره دآپارتمان نباتاتو تعامل د سترس یا فشار کچه راکمه وي. د آپارتماني نباتات زموږ ذهني او فزیکي هوساینې او د چاپیریال ښه ښه کوي همدارنګه ۱۵٪ د تولید کچه ډیروي.هغه وګړي چې په خپل کاري ځای کې ډیر نباتات لري لږ ناروغه یا ناروغۍ په صورت کې بیرته زر صحت پیدا کوي. د کور یا اپارتمان داخلي نباتات یوازې په ۲۴ ساعتونو کې تر ۸۷٪ پورې له هوا څخه زهرجن مواد لیري کوي هارټیکلچري نباتات د کور دننه هوا ککړتیا مخنیوي لپاره دوامداره او لږ لګښته بیولوژیکي درملنې سیستم چمتو کوي(خوشنویس ،۱۳۹۴). بهرنۍ باغداري کولی شي د انسان بدن سره د ناروغۍ په وړاندې مبارزه کې مرسته وکړي د لمر وړانګو په کارولو سره د انسان پوست کولای شي یو له اړینو مغذي موادو څخه تولید کړي چې ویټامین ډي نومیږي د مختلفو تجربو په ترسره کولو سره، څیړونکي اټکل کوي چې هر نیم ساعت د لمر لاندې وخت تیرول کولای شي د ۸۰۰۰ څخه تر ۵۰،۰۰۰ واحدونو ویټامین ډي تولید کړي همدارنګه باغداري د انسان بدن استقامت زیاتوي او د وزن په مدیریت کې مرسته کوي(مرضایی، ۱۴۰۱). په تیرو څو لسیزو کې دځمکې کره په بې ساري توګه ګرمه او د تودوخې درجه په دوامداره توګه لوړیږي د دې تودوخې اصلي لامل د ځمکې اتموسفیر ته د انساني فعالیتونو لخوا رامینځته شوي ګلخانه یي ګازونو اخراج دی د کرنې سکټور د ګلخانه یي ګازونو په زیاتوالي کې خورا ښه اغیزه لري لکه کاربن ($CO_2$) او میتان ($CH_4$) د ګلخانې مهم ګازونه دي یو له هغو عواملو څخه چې په اتموسفیر کې د میتان مقدار زیاتوي د وریجو د کروندو زیاتوالی دی، باید یادونه وشي چې یوازې د وریجو کرونده د ۵۰٪ څخه ډیر تولید شوي اتموسفیر میتان سرچینه ده (تینا ۱۳۰۰). کیمیاوي سرې په خاوره کې منرالونوچمتو کول همدارنګه د آفتونو او ناروغیو او هرزه بوټو د له منځه وړلو لپاره استعمالیږي، د دویمې نړیوالې جګړې څخه مخکې په کرنه کې د اړتیا وړ نایتروجن، پوتاشیم او فاسفورس د څارویو له سرو څخه چمتو کیده له هغه وخت راهیسې تر اوسه پورې په عمده توګه نایتروجن په خالصه بڼه دپام وړ زیاتوالی کړی (ګزارش توسعه جهانی، ۱۳۸۹). باید دکیمیاوي سرو کارولو غوره میتودونو څخه استفاده وشي چې زیانونه حداقل او ګټه یې حداکثر ته ورسیږي دبېلګې په توګه سرو سطحي استعمال څخه باید پرهیز وشي او بهترینه طریقه داده چې له خاورو سره ګډ شي او یا دنباتاتو ریښو ته نږدې واچول شي( ګلرید او همکاران، ۱۳۸۵). اوس مهال په ایران کې د کیمیاوي سرې مصرف

د نړۍ لـه مصرف څخه لـوړ دی (۱۱۰ کیلو ګرامه پـه هکتـار) او پـه پرمختللو هیوادونـو کې د اوسط مصرف معـادل سره مسـاوي دی (۱۱٦ کیلو ګرامه پـه هکتـار) مګر پـه سـاحه کې د هـر واحـد تولید پـه عمده توګـه د کروندګرو د پوهـې نشتوالی، د نباتاتـو دارټیـا وړ سرو پـه اړه د پوهـې نشتوالی، د لـږ مصرفـه او زیاتـه مصرفـه عناصرو ترمنځ تعـادل نشتوالی پـه پرمختللو هیوادونـو کې دفعالیت پـه پرتلـه لـږ ده(رحمانی، ۱۳۸۹). دا چې د چاپیریـال لـه لحاظـه هارټیکلچري نباتـات زیـات ارزښـتونه لـري لـه بـل پلـوه ځینـې کیمیـاوي توکي چې پـه کرونـده کې استفاده کیـږي لـه ځـان سـره خطرونـه یـا زیانونه منځتـه راوړي پـه دې مقالـه کې بـه واضـح شي چې نـا سم او بې پـروا کرنـه د ژونـد پـه چاپیریـال بانـدې کومـې ویجاړونکـې اغیـزې لـرلای شي او هـم بـه پـه باغـدارۍ کې د کیمیـاوي سـرو او آفت وژونکو دصحیـح استعمال لارې چـارې روښـانه شـی.

## مواد او کړنلاره

دا څېړنـه د موخـې لـه اړخـه تطبیقـي ده او د نوعیـت لـه اړخـه یـوه کیفـي څیړنـه ده چـې تشـریحي کړنـلاره غـوره کـوي. د موضـوع اړونـد مـې د بېلابېلـو معتبـره کتابونـو، انترنیتـي سـایټونو او ژورنالونـو څخـه کـوم چـې نـوې څېړنیـزې مقالـې پـه کـې نشـر شـوی ګټـه پورته کـړې هغـه مهـم او رزښـتناکه ټکي چـې د موضـوع د ښـه وضاحـت د پـاره اړیـن بلـل کیـږي راټـول او پـه لانـدې ډول تشـریح شـوي دي.

### په چاپیریال ساتنه کې د هارتیکلچري نباتاتو اهمیت

الـف- چاپیریـال ښـکلا زیاتـوي: ښـې سـېمې یـا د ودانیـو بهـر د هارټیکلچـري نباتاتـو پـه کارولـو سره ښـکلې او پـه زړه پـورې کیـږي اوهـم د املاکـو ارزښـت لـوړوي( بهـرام، ۱۳۸۳).همدارنګـه هارټیکلچري نباتـات ودانیـو اوسـیدونکو روانـي فشـار د څـو دلیلونـو پـه اسـاس راکمـوي.د دې دلیلونـو لـه جملې څخـه هارټیکلچرنباتـات د بهرنـي چاپیریـال پـه سـمولو سره یـو ه آرامـه فضـا رامنځتـه کـوي همدارنګـه پـه پارکونـو کـې طبیعـي چاپیریـال رامنځتـه کیـږي او د ودانیـو بهـر فضـا تـه بهبـود ور کـوي (نادري او جعفرپور، ۱۳۹۲).

**ب- خـاوري تخریـب مخنیـوي:** هغـه خـاوره چـې تخریـب شـوې وي پـه هیـڅ صـورت کـې د کرنـې لپـاره مناسـبه نـه ده، ځکـه دا خـاورې داوبـو سـاتلو تـوان نـه لـري او هـم یـې غذایـي مـواد لـه لاسـه ورکـړي(خوشـنویس، ۱۳۹۴). نباتاتـو کـرل پـه درسـت ډول کیـدای شـي خـاروه لـه تخریـب څخـه

وساتي، د خاورې تخريب كنترول سربېره د آفت وژونكو او كيمياوي سرو زيان را كموي كوم چې د اوبو ككړتيا سرچينې دي( حيدر،۲۰۱۸).له نباتاتو څخه كيداې شي د خاروې تخريب كنترول لپاره ګټه واخيستل شي. په دې ترتيب چې هيڅ كله هم دخاورې سطحه به غير له پوششي (Cover crops) نباتاتوڅخه پاتې نه شي.د مثال په توګه په هغه ځايونو كې چې كرنيز نباتات نه كرل كيږي نو زينتي يا چمني نباتات وكرل شي.په پنسيلواينا كې د جادو په څنډو كې (Crown vetch) كرل كيږي ترڅو خاورې تخريب مخنيوي سربيره سړكونو څنډو د ښكلا لامل هم وګرځي(اسدی، ۱۳۹۸).

**ج- اتموسفير ككړتيا جذب:** دا چې په اتموسفير كې ۷۸٪ نايتروجن، ۲۱٪ اكسيجن ، ۰،۹٪ ارګون او ۰،۰۰۳٪ كاربن داى اكسايد وجود لري كه څه هم په اتموسفير كې د CO2 اندازه د نايتروجن او اكسيجن ګازونو په پرتله خورا كمه ده؛ مګر په هر حال د اتموسفير يو له مهمو برخو څخه دی او نن ورځ په اتموسفير كې د دې غلظت تر ۴۰۰ppm ( په مليون برخو كې) ته رسيږي (Defra , ۲۰۰٦). نباتات له هغې هوا څخه چې موږ يې تنفس كوو كاربن ډاى اكسايد، كاربن مونواكسايد، سلفر دا اكسايد او نور ككړونكي جذب يا پاكوي (FalloonP , ۲۰۱۰). په نړيواله كچه د نباتاتو له منځه تللو سره په اتموسفير كې د كاربن ډاې اكسايد اندازه لوړه شوې لكه څرنګه چې پوهيږئ نباتات له هوا څخه كاربن ډاې اكسايد اخلي او په مقابل كې اكسين بيرته وركوي (خوشنويس، ۱۳۹۴). په همدې اساس په ښاری سيمو كې دهر نفر لپاره څه كم ۱۵مترمربع شنه فضا اړينه ده چې دككړتيا سره سمه دا اندازه هم پورته ځي اوتر۵۰متره مربع پورې رسيږي همدارنګه كله چې له چاپيريال څخه نباتات له منځه لاړشي طبيعي توازن ګډوډيږي.د ودانيو داخلي شنه فضا داخل لپاره ګټوره ده ځكه همدا هارتيكلچري نباتات ودانيو داخلي هوا ككړونكي لكه كاربن داى اكسايد له منځه وړي(Wiburg D , ۲۰۰۷).

**د- د شور او غوغا جذب:** كله چې هارتيكلچري نباتات په مناسب ډول وكرل شي، نوكولاى شي شور او غوغا چې د هر عامل په واسطه رامنځته كيږي(د شور او غوغا لرونكي همسايه څخه نيولې تر لويو لارو ته نږدې كورنو پورې) شور او غوغا راكمه كړي دمثال په توګه د كور شاوخوا ته چې د ونو قطارونه موجود وي ممكن تر زياتې اندازې پورې د همسايه شور او غوغا راكمه كړي. ديادو ونو اوږدوالی او ګڼوالی د رامنځته كيدونكي شور او غوغا په اندازې پورې اړه لري (سرينيواس ،۱۳۹۸).

**ح- په ګرمه هوا د يخولو اغيز:** دا چې له صنعتي انقلاب څخه مخكې د كاربن داى اكسايد

اندازه تقریباً ۲۷۰ppm وه یا له صنعتي انقلاب وروسته په هوا کې کاربن ډاې اکساید ۴۰٪ زیاتوالي د ځمکې ګرموالي لامل شوی دی.(Cooper J, Dobson H ,۲۰۰۷). چاپیریال ګرمې هوا په سړولو کې نباتات مهم رول لري.همدارنګه ونې کیداې شي دیوې سېمې هوا تر ۱۱ سانتي ګرید پورې یخه کړې. دمثال په توګه که چیرې تاسو په ګرمو ورځو کې د چمن شوو ځمکو په مابین کې کښیني د زیاتې سړې هوا احساس به وکړي دهغه پارکینګ په پرتله چې مابین ته یې کانګریټ شوی یا کله چې په اوړي کې جنګلونو ته نږدې یا داخل شي نو حتماً به دسړې هوا احساس وکړي(اسدی، ۱۳۹۸).

**و- کیمیاوي سرو او آفت وژونکو له منځه وړل:** نباتات د ودې لپاره له سرو څخه استفاده کوي دا حالت د دې لامل کیږي چې عناصر د اوبو سرچینو ته لاړ نه شي برسیره پر دې ښکاره ده چې نباتات آفت وژونکي د ژوند له چاپیریال څخه لرې کوي او هغه په غیر زهري شکلونو تبدیلوي(Cooper J, Dobson H ,۲۰۰۷).

## په چاپیریال باندې د هارتیکلچري محصولاتو د تولید ناوړه اغیزې

په باغداري کې د تولید لپاره له زیاتو طریقو څخه استفاده کیږي چې ځینې یې د ژوند چاپیریال لپاره زیان راوړنکي دي، ټولې هغه غیر مسلکي، غیر معیاري او بې وخته کړنې ددې باعث کیږي چې یو لړ ناوړه اغیزې په چاپیریال باندې ولري(نادری او جعفرپور، ۱۳۹۲).

**الف- په خاوره اغیزې:** دځمکې او خاوري تخریب (د اوبو او باد) له امله رامنځته کیږي دا ممکن د عضوي موادو کمښت، خاوري تیزابیت، خاورې خاصلخیزی کموالي او ککړتیا په چاپیریال کې دباغداري د ناسم مدیریت له امله وي او ورسره تخریب او پدې توګه د راتلونکي تولید بایو امنیت خنډ لامل کیږي. څېړونکي اخیر دې موضوع ته ورسیدل چې د خاورې حاصلخیزي زیاتوالي لپاره له کرنې او نوې تکنالوژي څخه ناسمه استفاده ددې لامل شوې چې د خاورې په سیستم او کیمیاوي او فزیکي جوړښت کې زیات بدلونونه منځته راوړي دا د دې سبب کیږي چې د نباتاتو او خاوري ترمنځ د مایکرو اورګانیزمونو اړیکې ګډوډې شي (Carson R ,۱۹٦۲). تر ټولو لویه ستونزه یې د خاورې تخریب دی چې د زراعتي محصولاتو د بې پروا زیات تولید په علت رامنځته شوی دی، متاسفانه زموږ په هیواد کې د خاورې تخریب د اندیښنې وړ دی. هر کال څو هکتاره ځنګلونه تخریبیږي چې د زیاتې خاورې له لاسه وتلو سبب کیږي.(برى، ۱۳۹۴). د دې موضوع په څنګ کې بله ستونزه دخاورې زیات کیمیاوي تیزابیت دی کوم چې داستفادې وړ نه ده اوپه خپل حال پاتې شوې. په کرنه

کې بله رامنځته شوې ستونزه کیمیاوي مواد، آفت وژونکي او سرې دي چې په خاورې باندې ویجاړونکي اغیزې لري کوم چې د کرنې، ژوند چاپیریال او د اقتصاد په برخو کې زیاتو ستونزو رامنځته کیدو لام کیږي(اسدی، ۱۳۹۸). متاسفانه هغه هیوادونه چې د توسعه په حال کې دي، ورځ په ورځ یې له کیمیاوي موادو او آفت وژونکو څخه استفاده په شدت سره ډیریږي.نایتروجن او فاسفورس عناصرو خاورې ککړتیا رامنځته کړي ده(Defra, ۲۰۰۶) همدارنګه کله چې خاوره یا ځمکه د لږ وخت لپاره لوڅه یا به غیر له نباتاتو څخه پاتې شي د تیزو بارانونو له امله په اسانۍ سره مینځل کیږي.نن ورځ د خاورې تخریب کموالي لپاره له څو طریقو څخه استفاده کیږي په دې وروستیو کې د خاورې حاصلخیزې ساتنې(Conservation Tillage) ته زیاته توجه شوې که څه هم تر اوسه پورې تجارتي نده.( خاورې نرمولو یوه طریقه تالج ده چې کښت تر وخته پورې د خاورې فزیکي حالت ساتلو په خاطر ترسره کیږي. وروسته د محصول له کرلو څخه دې پروسې ته کرنه یا Cultivation ویل کیږي. خاورې ساتونکي تالیج له طریقو څخه په زیات احتمال مروجه طریقه پټې تالیج ده کوم چې نباتات د قطارونو په منځ کې پریښودل کیږي ترڅو خاورې تخریب مخنیوي وکړي(Burr P and Hillary R,۲۰۱۱).

**ب- اوبه:** د اوبو مصرف د کرنې او باغدارۍ تقریباً ۷۰٪ وي عموماً په ټوله نړۍ کې اوبخور لپاره استعمالیږي، د اقلیم بدلون او د نفوس زیاتوالي اټکلونو په اساس د تازه اوبو د کمښت او د تقاضا د زیاتوالي خبرداری ورکوی (فالون او بیټس۲۰۱۰). تر ۲۰۳۰ کال پورې به د تازه اوبو د عرضې او تقاضا ترمنځ ۴۰ سلنه کمبود وجود ولري(Anon, ۲۰۱۲). څرنګه چې باغداري زیاتره فصلونه خړوبیږي، دا صنعت د اوبو د کمښت ستونزې سره مرسته کوي په همدې اساس د اوبو کمښت او ککړتیا مسولیت هم لري.

**ت- دغذایي سرچینو ویجاړیدل او ضایع کیدل:** په عمومې توګه په خاوره کې ضایع کیدونکو غذایي موادو اندازه ګیری سخت کار دی. مګر دا ضایع کیدونکي مقدار په اصل کې د ځمکې په میلان او کرلو په سیستم پورې اړه لري.(نادری او جعفرپور، ۱۳۹۲).

**ج- اقلیمي بدلون:** د نړیوالې تودوخې او اقلیمي بدلون کې د باغدارۍ ونډه د انرژۍ احتراق، ترانسپورت، په یخچال کې د ذخیره کولو له لارې ده دځمکې کارونه اود کرنې بدلون په برخه کې له حد څه زیات تولید همدارنګه دګلخانو ګاز زیاتوالي ټول د دې لامل شوی چې په اقلیم کې اساسي بدلونونه منځته راوړي. دا اقلیمي بدلونونو نه د دریابونو اوبو لوړیدو او د مختلفو ناروغیو رامنځته کیدو سبب کیږي ( حیدر،۲۰۱۸).همدارنګه په بې پروایي توګه د ځنګلونو

قطع کول او د شنې فضا له منځه وړل او له حد څخه زیات د فوسیلي موادو سوځیدنې په پایله کې کاربن داې اکساید زیات آزاد وي او په ټوله کې له حد څخه زیات د ځمکې ګرموالي لامل کیږي (عمري، ۲۰۱۷).

## په ځمکه کې د ژوند محدوده تنوع اوکرنه

نا سمه کرنه د حیواناتو او نباتاتو مختلفو نوعو له منځه تللو سره د جنیتکي ذخایرو کمېدو لامل کیږي. ډیربست ، زیاته اندازه تولید همدارنګه اصلاح کېدل او په زراعتي محصولاتو کې جنتیکي بدلونونه او د نوو نوعو منځته راتلل ټول ددې لامل شوي ترڅو د جنیتکي سرچنې پایه او اساس تغیر کړي او له منځه لاړه شي.کوم چې د وخت په تېرېدو سره د حیواناتو او نباتاتو تنوع را کمیدو لامل کیږي. همدارنګه له کیمیاوي سرو او آفت وژونکو څخه استفاده د زیاتو حیواناتو د ژوند تنوع له منځه تللو لامل شوی(نادري او جعفرپور، ۱۳۹۲).

## کیمیاوي سرې او آفت وژونکي

کیمیاوي سرې او آفت وژونکي له اندازې زیات هیڅ کله مفید نه شي تمامېداې.په داسې حال کې چې له حد څخه زیاته اندازه کارول د زیاتو مصارفو او چاپیریال ککړتیا لامل کیږي چې د ټولو لپاره زیان منځته راوړي( سرینیواس، ۱۳۹۸). ممکن له اندازې څخه زیاته سره او آفت وژونکي په دې دلیل چې په محاسبه کې داړتیا وړ مقدارڅخه زیاتوالی راغلی وي د ژوند چاپیریال ته داخلیلدو لامل شي،دمثال په توګه که یوازې دیو قسم په اعشاره کې اشتبا وي ممکن د یادو موادو مناسب مقدار له ۱۰څخه تر ۱۰۰ برابر کیدولامل شي .نورې طریقې هم شته چې شاید ستونزې منځته راوړي لکه له وسایلو یا تجهزاتو څخه په صحیح طریقه استفاده نه کول ممکن د مشکلاتو یا ناورین رامنځته کیدو یوه ساده غلطي وي( بهرام، ۱۳۸۳).

## چاپیریال ککړتیا اغیزې

ککړتیا رامنځته کیدو مختلف دلایل وجود لري، چې د ځینو برخو کنترول او تنظیم اسانه مګر د ځینو نورو سخت او ستونزمنه وي ککړتیا هغه وخت منځته راځي چې زیان راوړونکي یا نا تجربه کیدونکي مواد چاپیریال ته داخل شي.ممکن دککړتیا دوه مهم مرکزونو څخه یو متمرکزه ککړتیا: چې ښکاره او د پیژندنې وړ وي لکه د فابریکو، کارخانو او کورونو فاضله مواد متمرکزه ککړتیا ده ځکه له یادو مرکزونو څخه چې فاضله مواد راوځي په اساني پیژندل کیږي. همدارنګه اتومي

فابریکو چې هغوي هم کاملاً واضح او په اسانۍ سره څارل کیداې شي. (۱۹۹۹. Schroeder. et al). او بل غیر متمرکز ککړتیا په دې کې نشي کیدای ککړتیا په اسانۍ سره واضح او وپېژندل شي. دبیلګې په توګه غیرمتمرکزه ککړتیا ممکن باغدارۍ وي چې په اوبو کې د منحلو غذایې موادو او آفت وژونکو په اثر منځته راځي.(اسدی، ۱۹۸). په نړۍ کې دکښت شمیر خوراَ لوړ ده او زیات توپیر لري چې د ټولو څارنه ستونزمنه ده. زیاتره کښتونه دآفت وژونکو یا سرو له لحاظه ستونزه نه لري یا د هغوی ستونزه لږ ده. په هر صورت مشکلات معمولآ د انساني تیروتنو څخه وي. د ککړتیا وخت او ځاې مشخصول سخت دی ځکه داستونزه په باراني شرایطو کې چې آفت وژونکي او سرې له یوي نقطی څخه ډیر لرې ځاې ته انتقالوي لا پیچلي کوي. له همدې امله چاپیریال په ککړتیا کې دباغدارۍ زیاتې پیښې غیر متمرکزې وي ځکه نو د هغو ټولو کنترول ډیر مشکل وي. ککړتیا لري کولو لپاره له دوو طریقو څخه استفاده کیږي.( مقدم، ۱۳۹۳). نباتاتو تصفیه Phytoremediation؛ له چاپیریال څخه د آفت وژونکو، درنو فلزاتو او نورو ککړتیاوو پاکولو لپاره له نباتاتو څخه استفاده کیږي. په نباتې تصفیه کې له داسې نباتاتو څخه استفاده کیږي چې د چټکې ودې په لرلو سره له خاوري څخه د زیات مقدار آفت وژونکو جذب لپاره او د هغوی تبدیل په داسې شکل چې په چاپیریال باندې منفي تاثیر ونه لري.(اسدی، ۱۳۹۸). دا نباتات ځمکې ته د عضوي موادو په توګه علاوه کیږي ځکه چاپیریال لپاره هیڅ ډول زیان نه لري.همدارنګه د فابریکو د فعالیتونو له کبله هواته چې کوم ګاز پورته کیږي په همدې اساس ځنګل په کال ۶۰۰۰ میلیون ټنه کاربن ډای اکساید ګاز تصفیه کوي همدارنګه د حفظ الصحی متحصیصینو د راپورونو په اساس د ورځې ۵۰۰۰۰۰ ټنه کاربن مونو اکساید ،، ۱۰۰۰۰۰ټنه هایدروسلفراکساید او ۲۶۰۰۰ ټنه نایتروجن اکساید دعراده جاتو د ګرځیدو له کبله هواته پورته کیږي.چې نومورې هوا دځنګل په وسیله تصفیه کیږي. په همدې اساس هرهکتارځنګل په کال کې تقریبآ ۲.۵ ټنه اکسیجن تولیدوي اوپه ضمنأ کې هرکال تقریبآ دوه زره متره مکعبه اوبه او درې ټنه ګرد اوغبار هوا جذبوي او هوا پاکوي.(تقوی او کامیار، ۱۳۹۴). همدارنګه یوه ونه په کال کې په منځني توګه دوه کیلو ګرامه اکسیجن تولیدوي او د ۲۵۰ نه تر ۴۰۰ لیترو پورې اوبه دب خار په شکل له خپله ځانه خپروي.په همدې خاطر لا ډیرو څېړنو ته اړتیا ده ترڅو معلومه شي چې کوم نباتات د کوم خاص هدف لپاره خورا مهم دي. ترټولو دا مهمه ده چې معلومه شي چې کوم کارول شوي نباتات په پراخه توګه آفت وژونکي، درانه فلزات او نورې ککړتیاوې چاپیریال ته داخلوي چې دا هم یو سخت او پیچلی کار دي(کوهستاني، ۱۳۸۸). ژوندۍ تصفیه Bioremediation ؛ له چاپیریال څخه د آفت وژونکو، درنو فلزاتو او نورو ککړتیاوو د پاکولو لپاره

له ژونديو موجوداتو څخه استفاده کيږي. کلونه کيږي چې له چاپيريال څخه د مضره موادو او اضافي مواو پاکولو په موخه له ژونديو موجوداتو څخه کار اخيستل کيږي او دا طريقه په چټکۍ سره د پرمختګ په حال کې ده. مثلاً په وروستيو کلونو کې په بکترياوو کې جنيتکي تغيرات رامنځته شوي چې د نفت يا تيلو تصفيه کولو لپاره ځينې کار اخلي.همدارنګه ډېرې نورې طريقې لکه د خاورې فزيکي ککړتيا لرې کول او په بل ځاي کې د هغوی دفن کول کاريږي چې زيات مصارف لري(اسدی ،۱۳۹۸).

## آفتونو کنترول

**الف- ژوندي کنترول:** په دې کې له ژونديو موجوداتو څخه استفاده کيږي لکه Bacillus theragnosis (BT) بکتريا په مزرعه کې آزاديږي او دچنجيو مختلفې نوعې له منځه وړي. نن ورځ د جنيتيکي اغيزې په واسطه نبات ته جين داخليږي او نبات دې ته اړ کوي چې BT توليد کړي او وکولاې شي له ځانه ساتنه وکړي.(Burr P and Hillary R ۲۰۱۱ ).همدارنګه ګټوري حشري لکه کفشروزک ، سيخک او نيماتودونه يې ښه مثالونه دي.ددې لپاره چې ژوندی کنترول ښه واقع شي بايد آفتونه دامکان تر حده لږ وي کله چې د افتونو ټولنه له ټاکلی حد څخه لوړ شي ژوندی کنترول کار نه شی کولاې او دهغوي تکميل لپاره له نورو ګټورو لارو څخه کار واخيستل شی(نادري او جعفرپور، ۱۳۹۲).

**ب- کرنيز کنترول:** افتونو کنترول لپاره دکښت مديريت له تخنيکونو څخه استفاده کيږي. روغ او قوي نباتات دآفتونو لږ يا ټيټې ټولنې زغملي شي په دې اساس ښه کروندګر د افت وژونکو اړتيا راکمه کړي وي په دې خاطر چې دآفتونو کنترول لپاره له مطلوبو کرنيزو طريقو څخه استفاده کوي.(نادری او جعفرپور، ۱۳۹۲).دکرنيز کنترول نورو مثالونو کې مناسب اوبخور، سره ورکونه، ښاخه بری ، خاورې مديريت او له ملچ څخه استفاده کول دي، دا طريقې ممکن ډيرې ساده او معمولي وي خو په زياتره مواردو کې د کرنيزو عملياتو ناسم مديريت مشکلات را منځته کوي (Carson R ,۱۹۶۲).

**ج- ميخانيکي کنترول:** په دې کې دآفتونو کنترول لپاره له وسايلو او تجهزاتو څخه استفاده کيږي. لکه د ځمکې قلبه کول، سر قطع کول يا Mowing ، هموارول او ملچ استعمال ( په نباتې پاڼې شونو او پاڼو خاوري پوښل) . مثال له ژورې قلبې سره هرزه بوټي کنتروليږي او د خاورې فزيکي حالت ښه کيږي. بل مثال د رومي بانجانو Horn worm چينجی دی چې لوی جسامت لري او کيداې شي په فزيکي شکل له بوټو څخه لرې شي(نادري او جعفرپور، ۱۳۹۲).

**د- کیمیاوي کنترول:** د آفتونو کنترول لپاره ګټور ګڼل کیږي. دا مواد معمولآ دانسانانو لپاره زهرجن وي او باید په احتیاط وکارول شی. دښه موثریت لپاره باید مناسب آفت وژونکي انتخاب شي، ترڅو چاپیریال ته لږ زیان ورسوي(تقوی او کامیار ،۱۳۹۸).دمناسبو آفت وژونکو په انتخاب کې باید: ۱- د آفت وژونکو تعین ول چې آیا ستونزي لري کنه؟ ۲- کله چې ستونزه مشخصه شوه باید حشرې یا پاتوجن عامل وپیژندل شي ۳- کنترول مصارف باید د لاسه ورکوونکي محصول له مقدار څخه زیات نه وي په دې اساس د هغوی مؤثریت تعین شي.۴- باید معلومه شي چې آفت په کوم وخت کې ستونزه منځته راوړي او باید معلومه شي چې آفت د ژوند په کومه مرحله کې زیان زیات وي او په کوم وخت کې کیمیاوي مواد ورته زیان رسوي .۵- تائید شوي او اغیزمن آفت وژونکي انتخاب شي او د آفت وژونکو له لږ زهری مقدار څخه دې استفاده وشي.٦- د آفت وژونکو کارولو باید اغیزمنه طریقه انتخاب شي.۷- باید دا ډاډ ترلاسه شي چې آفت وژونکي د آفت کنترول لپاره کار کوي.۸- باید د آفت وژونکو د اغیزمن استعمال څخه وروسته دوباره استعمال اړتیا تصمیم ونیول شي، مهم گامونه په نظر کې ونیول شي(Cooper J, Dobson H , ۲۰۰۷).

**و- جنیتکي کنترول:** په دې کنترول کې د نباتاتو تغیر لپاره له جنیتیکي انجینري او نباتاتو اصلاح څخه استفاده کیږي ترڅو هغوی د ځانګړي آفت په مقابل کې مقاوم کړي.نباتاتو اصلاح او تغیرولو له علم او هنر څخه عبارت ده دا کار دمختلفو نباتاتو په القاح او دهغوی په ټاکنه پورې اړه لري چې د ښو صفاتو لرونکي وي. نباتاتو اصلاح په اهدافو کې دمحصولاتو کمیت او کیفیت زیاتوالی او د ناروغي، آفت او تیزابیت په مقابل کې د مقاومو نباتاتو تولید دی. جنیتیکي انجینری دنباتاتو اصلاح سره چندان اختلاف نه لري مګر د جنیتیکې انجینري دوه تخنیکونه په معمولي توګه کارول کیږي.(Henao and Baanante , ۲۰۰٦).

دآفت وژونکو استعمال صحیح طریقه :د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره کیداې شي آفت وژونکي په مناسب او بې خطره ډول استفاده شي.

۱. باید ډاډمن شي چې کیمیاوي مواد په هغه اندازه کوم چې په لیبل کې ذکر شوي استعمالوي که له لاربنود څخه استفاده ونه شي هر ډول ستونزې چې منځته راځي ممکن مسؤلیت یې تاسو ته متوجه وي.
۲. هغه وسایل چې د آفت وژونکو لپاره په کار وړل کیږي په درست ډول په کار واچول شي او په ترتیب سره پاک ومنځل شي.
۳. په خپله محاسبه کې دقت وکړي ترڅو مطمن شي چې څومره مقدار دا مواد په کار یو وړل کیږي او ډاډ ترلاسه کړي چې دستګاه په مناسب شکل تنظیم شوي ترڅو واقعآ مناسبه

اندازه وکارول شي.

۴. پاتې کیمیاوي مواد او دهغوي وسایل په مناسب ډول لرې واچوي یا تر ځمکې لاندې کړي.

۵. وروسته له استفادې څخه ټول وسایل په دقت سره پاک کړي.

## ۴. پایله اخیستنه

هارټیکلچري نباتات ښکلا زیاتیدو،اتموسفیرککړتیا جذب ، شور او غوغا جذب، په ګرمه هوا د یخولو اغیز، د انسانانو او حیواناتو لپاره اکسیجن چمتو کول او نورو ګټورو اغیزو په درلودلو سره په چاپیریال کې دخالت او مشارکت لري. متاسفانه د هارټیکلچر ځینې فعالیتونه شاید په غیر مستقیم ډول او د ناسمو کړنو په پایله کې دچاپیریال لپاره ستونزي منځته راوړي،دمثال په توګه په ناسم ډول د کیمیاوي سرو او آفت وژونکو استعمال دځمکې مالګیتوب، خاوري تخریب، اوبو منابع ککړتیا، له خاورې په بې پروا ډول دمغذی موادو استخراج، ځنګل له منځه وړل او نور ټول دکرنې هغه نامطلوب اثرات چې په ځمکه باندې کیمیاوي موادو د استعمال له امله رامنځته کیږي. د یاد شوو مطالبو له مخې داسې ویلی شوو چې نن ورځ په کرنه کې دنامناسبو کیمیاوي سرو او افت وژونکو استعمال سره نه یوازې محصولاتو صدمه لیدلې بلکې په اوبو، خاورې، حیواناتو، انسانانو او ایکوسیتم باندې زیانمنونکي او وژونکي اغیزې لرلای شي له همدې امله کیمیاوي توکي چاپیریال ته زیان رسوي او نه جبرانیدونکي دي. همدارنګه د بې پروا کرنې په وسیله د خاورې تخریب مخنیوي لارو څخه یوه هم د کرنې ارګانیک طریقې څخه استفاده کول دي. په دې طریقه کې دمحصولاتو تولید په چاپیریال ساتنه او د زیاتو او باکیفیته محصولاتو تولید کې مرسته کوي چې لږ زیان چاپیریال ته رسوي.

## اخځلیکونه

۱. اسدی، هـ ، (۱۳۹۸). بررسی مقایسه اي اثر آلودگی زیست محیطی یزد، مرکز مطالعات فناوری تهران، ص ۳.

۲. بهرام،س،( ۱۳۸۳). محیط زیست مجموعه مباحث و روش های شهرسازی تهران ،مرکز مطالعات و تحقیقات شهرسازی و معماری ایران، ص۵.

۳. بری، ش، (۱۳۹۴)، چاپیریال ، تعلیم الاسلام ویب پاڼه. https://www.taleemulislam.net/sanga.php

۴. تقوی،ع او کامیار،م(۱۳۹۴)،مطالعه ی تطبیقی رابطه ی انسان و محیط زیست در تفکر توسعه

ی پایدار و تفکر اسلام، دانشگاه تربیت مدرس دانشکده هنر، ۶،۲۲.
۵. تینا، ح (۱۴۰۰)، ایا به کشاورزی دقیق به محیط زیست کمک می کنیم؟ ، کشتیار، ایران، ص،۴.
۶. جاهد، ج (۲۰۱۹)، په چاپیریال باندي د افت وژونکو درملو اغېزې، دزراعت عمومي مالوماتو پاڼه.
۷. خوشنویس، م(۱۳۹۴)،بررسی مقایسه اي اثر آلودگی زیست محیطی بر شاخص توسعه انسانی در کشورها با سطوح مختلف توسعه یافتگی، دانشگاه آزاد تهران، ص ۱۱.
۸. رحمانی، حمیدرضا ( ۱۳۸۹ )، کشاورزي پایدار و چالشهاي تولید محصول سال،اصفهان، نصوح،ص ۴.
۹. سرینیواس،هـ( ۱۳۸۳) . محیط زیست شهری و سیاست گذاری و اقدام شهرداری، مرکزفناوری تهران . ص، ۱۵
۱۰. سیادت،س او مرادي، س(۱۳۸۹)، جنبهای کاربری کشاورزی ارگانیک، تهران، انتشارات اموزش ترویج کشاورزی.
۱۱. عمري،ع(۲۰۱۷).چاپیریالی ککړتیا او اسلام تعلیم اسلام ویب پاڼه. https://www.taleemulislam.net/sanga.php
۱۲. نادری، د او جعفرپور، م( ۱۳۹۲). مقدمه ای بر علوم باغبانی، دانشگاه ازاد اسلامی واحد خوراسگان اصفهان، ص ۱۷۵-۱۸۷.
۱۳. مقدم،ع(۱۳۹۳). بررسی تآثر کاربری زمین برمحیط زیست شهری،تهران، آزادگان،ص ۱۳.
۱۴. مرضایی، ع (۱۴۰۱)، فواید نگهداری گیاه درمحیط خانه و وکار، پایگاه اطلاع رسانی صنعت گل وگیاه، ایران، ص ۱.
۱۵. گرید، ام و همکاران ( ۱۳۸۵ )؛ کشاورزي، کود و محیط زیست، ترجمه بهنام کامکار وهمکاران، مشهد، دانشگاه فردوسی مشهد.
۱۶. گزارش توسع جهانی(۱۳۸۹)، کشاورزی برای توسعه، ترجمه هوشنگ ایروانی و حجت ورمزیاری، تهران ، انتشارات دانشگاه تهران، ص ۲۷۱.
17. Anon (2011) PAS 2050 specification for the assessment of the life cycle greenhouse gas emis-sions of goods and services. BSI, London H. Wain-wright et al.521.
18. Anon (2006) BS EN ISO 14040:2006 Environmental management Life cycle assessment—Prin-ciples and framework. BSI, London.
19. Burr P, Hillary R (2011) An Evidence-based study into the benefits of EMSs

for SMEs. WYG environment for the Department of Environment, Food & Rural Affairs (Defra), UK.

20. Carson R (1962) Silent spring. Houghton Mifflin, Boston Cary J, Roberts A (2011) The limitations of environmental management systems in Australian agriculture. J Environ Manage 92(3):878–885.
21. Cooper J, Dobson H (2007) The benefits of pesticides to mankind and the environment. Crop Prot 26:1337–1348.
22. Dreistadt, S. H., J. K. Clark and M. L. Flint. 1994. Pests of landscape trees and shrubs: An nitrated pest management guid. Oakland;Univ.Calif. Agric.Nat. Res. Publ.
23. DEFRA (2006) Pesticides—code of practice for using plant protection products. Department for Environment, Food and Rural Affairs, London.
24. Henao J, Baanante C (2006) Agricultural production and soil nutrient mining in Africa: Implica-tion for resource conservation and policy development. IFDC Tech. Bull. International Fertilizer Development Center. Muscle Shoals15 Environmental Impact of Production Horticulture.p522.
25. Falloon P, Betts R (2010) Climate impacts on European agriculture and water management in the context of adaptation and mitigation: the importance of an integrated approach. Sci Total Environ 408(23):5667–5687.
26. P, Fatnassi H (2012) The ecological approach of greenhouse agro-ecosystem: practical interest for IPM. Acta Hort 927:173–186.
27. Wiburg D (2007) Climate change impacts on irrigation wa-ter requirements: effects of mitigation, 1990-2080. Technol Forecast Soc Change 74:1083–1107.

# Effects of Horticultural Crops Products on Environment

*1 Teaching assistant Mohammad Tariq Darwish, 2 Teaching assistant Rohullah Niazai, 3Teaching assistant Riaz Ahmad Himat

1, 2 & 3. Horticulture Department, Horticulture faculty, Paktika Higher Education Institute.

## Abstract

For all creatures living on earth, cleaning the environment is important for them, Accordingly, horticulture contributes to the development of a wholesome environment, but has potential disadvantages. Horticultural plants help the environment by increasing the beauty of the environment, absorbing atmospheric pollution, absorbing noise, preventing hot air, preventing soil erosion, providing oxygen for humans and animals, and other beneficial effects. Unfortunately, some horticultural activities may indirectly cause problems for the environment as a result of improper practices For example, improper use of chemical fertilizers and pesticides can cause great harm to water, air, soil, plants, animals and humans, It may cause soil pollution or erosion, destruction and destruction of food sources, as well as destruction of the atmosphere layer, The cause is ultra violet radiation, which causes diseases such as blood cancer and other diseases, The temperature also increases and stops the growth of plants. In the same way, the use of a number of pesticides such as DDT, mercury, etc. is very dangerous because it is stored in the sebaceous glands and does not leave the body, causing various diseases, cause uterine cancer in women and limit the diversity of life on earth in.

**Key words:** Pesticides, environment, chemical fertilizers and horticulture product.

# د غواګانو د ويني په بيوشيميکي پارامترونو د شيدو ورکولو بېلابېلو دورو تاثيرات

پوهنيار عبدالمجيد بندارخېل*۱، پوهندوی دوکتور احمد فريد روان۲، پوهنيار فضل اکبر خليلي۳
۱حيواني علومو څانګه، کرنې پوهنځی، پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسه
۲،۳پري کلينيک څانګه، وترنري علومو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون
د مسؤل ايميل آدرس: majeedbandarkhil123@gmail.com

## لنډيز

شيدې د مختلفو بيوشيميکي فعاليتونو په نتيجه کې د غولانځي ترشحي حجراتو کې د شحم، پروټين، کاربوهايډريټونو، انزايمونو، ويټامينونو او مختلفو منرالونو د ترکيب څخه لاسته راځي. د شيدو ترکيب د مختلفو فکتورونو لکه د شيدو ورکولو مرحلې، شيدو ورکولو دورو شمېر، نسل، تغذيې شکل، محيط او د غولانځې ناروغي حالت په واسطه متاثره کېږي. دا څېړنه د ننګرهار ولايت سره رود ولسوالۍ د وطني نسل غواګانو د وينې په بيوشيميکې پارامترونو (ټرای ګليسرايډ، کلسټرول او کلسيم) باندې د شيدو ورکولو بېلابېلو دورو د تاثيراتو معلومولو لپاره تر سره شوې ده. په دې څېړنه کې ټولي ۲۷ سره غواګانې مطالعه شوې چې په درې ګروپونو ويشل شوي په هر ګروپ کې ۹ سره غواګانې شاملې دي چې لومړی ګروپ ۱-۳ مياشتي ، دويم ګروپ د ۴-۶ مياشتي او درېيم ګروپ د ۷-۹ مياشتي د شيدو ورکولو دوران کې وي. دغواګانو د Jugular Vein څخه 5 ml په اندازه وينه لابراتواري معايناتو لپاره اخيستل کيده. نتايجو وښوده ،چې د شيدو ورکولو په دورو کې د وينې په بيوشيميکې پارامترو کې د پام وړ تغير راغلی وو. چې د شيدو ورکولو په اوله دوره کې د کلسيم، کلسټرول او ټرای ګليسرايډ په اندازو کې د پام وړ کموالی راغلی وو ($P<0.05$). په پايله کې دا څېړنه ښيي چې د شيدو ورکولو لومړۍ دوره د وينې په بيوشيميکي پارامترونو ټرای ګليسرايډ، کلسترول او کلسيم باندې د پام وړ منفي تاثير لري نو په همدې اساس بايد د شيدو ورکولو په وخت کې د حيواناتو تغذيې ته زياته پاملرنه وشي.

**کليدي کليمې_** کلسيم، ټرای ګلايسرايد، کلسترول، شيدو غواګانې

## سریزه

شیدې یوه مکمله با کیفیته او توزین شوي غذا ده او ساینس دا ثابته کړې، چې د غذایي موادو ټولو اجزاوو څخه چې د انسان وجود ورته ضرورت لري ترکیب شوي دي. شیدې یوه سپینه مایع ده کوم چې په خپل ترکیب کې پروټین، شحم، لکتوز، مختلف ویټامینونه او منرالونه لري او دانسانانو په ژوند کې د ملاحظې وړ ارزښت لري شیدې د حیواني شحمو د موجودیت په اساس یوه انرژي لرونکې غذا ده او همدارنگه شیدې د باکیفیته پروټین یوه مناسبه سرچینه ده (Guetouache et al ,2014). شیدې د پروټین، شحم او انرژي یوه مهمه منبع ده چې د غذا له مخې زیات ارزښت لري چې په اوسط ډول پروټین ۸ گرامه\ورځ، شحم ۷،۳ گرامه\ورځ او ۱۳۴ کیلوکالوري انرژي برابروي او اوبه د شیدو اساسي برخه تشکیلوي چې د اوبو اندازه په مختلفو حیواناتو کې فرق کوي (FAO ,2012 ).

د شیدو ورکولو دوره کې شیدې د تیونو غدواتو په واسطه ترشح کېږي، په غواگانو کې د زیاتو شیدو ورکول د عمر، نسل، جنتیک او محیط پورې اړه لري (Hoynoski ,2017 ). د لنگون سره یوځای د شیدوحاصل زیاتېږي اوتقریباً د لنگون څخه 8 هفتې وروسته اوج ته رسیږي او وروسته په تدریج سره کمېږي چې تقریباً په هره هفته کې اندازه ٪۲ راکمېږي (Esslemont and kossaibati ,2000). یو ارزیابي چې د شیدو تولید په خاطر ترسره شوي (۳۰۵) ورځې د شیدو ورکولو حاصل ریپورټ ورکړل شوی، چې په دغه اساس لوړه سطحه د انگلستان هیواد غواگانو گلو کې د یو غوا ۱۰۰۰۰ کیلو گرامه هدف ښودل شوی (Bar-peled et al ,1995). شیدې د مختلفو بیوشیمیکي فعالیتونو په نتیجه کې د غولانځي ترشحي حجراتو کې د شحم ، پروټین، کاربوهایډریټونو، انزایمونو، ویټامینونو او مختلفو منرالونو د ترکیب څخه لاسته راځي. د شیدو ترکیب د مختلفو فکتورونو په واسطه لکه د شیدو ورکولو مرحلې ، شیدې ورکولو دورې شمیر ، نسل، تغذیي شکل، محیط اود غولانځي ناروغي حالت په واسطه متاثره کیږي (Brinez et al ,2003). د وینې پارامترونو اندازه ددې لپاره معلومیږي تر څو د حیواناتو د فزیکي، تغذیوي ، صحت حالت ارزیابي او څارنه وکړو(Gupta et al, 2007). د ځینو امراضو د تشخیص، عواقبو، تداوي او مخنیوي لپاره هم معلومیږي.

(Hewett;1975 , Saror and coles; 1989, Hawky;1999, kilnkon and Zadnik ,1974).

شحمیات، پروټین او یوریا مواد په شیدو کې د شیدو ورکولو د مرحلې مطابق تغیرکوي شحمي مواد په فوري ډول د لنگون څخه وروسته جگیږي مگر په پیل کې ژر کمېږي او دا له (۱۰ - ۱۲)

هفتو پوري جريان کوي او وروسته د شيدو ورکولو اخري مرحله کې د جګوالي طرف ته ميلان کوي(Chilliard et al ,2003,2007). د غواګانو صحت شايد ارزيابي شي چې دغه د وينې په بيوشيميکي اوهيماتولوژيکې پيژندنه پورې اړه لري(Roland et al,2014).

د شيدو کيفيت او غذايي ارزښت د زياتو فکتورونو په واسطه متاثره کيږي(tancin et ,2006 al; 2007, Tancin et al). يو له هغوی څخه خپله د شيدو لوشلو پروسس ده په کوم کې چې نه خوښيدونکو مايکروفلوراوو د ملوثيا په کموالي ټينګار کيږي کوم چې د پام وړ د شيدو د ټکنالوجيکي کيفيت فاصلې او کېدای شي صحت ته د ضررسبب شي (Kirchnerova and ,2005 folty). خصوصاً غذا او صحت حالت د غواګانو د شيدو خصوصياتو په مشخص کولو کې غټ فکټورونه دي. د شيدو ورکولو دورې په شروع کې د شيدو جوړښت د پاره د شيدوغواګانې د زياتې انرژۍ او پروتين لاسته راوړنې مقابله کوي په هغه وخت کې کله چې غذايي مواد کم اخيستل شوي وي. د شيدو توليد لپاره د انرژي ضرورت د حاصلولو کوشش کيږي اوغواګانې د هغوی د بدن د ذخيري اساسي شحم استعمالوي (Lubojaka et al and mulling,2006 ,2005) .

د وينې مقدار شايد د ځينو فکتورونو سره اړه ولري لکه جنس، عمر، اقليم، موسم، فشار، او فزيکي تمرين سره(Kaneko et al ,1999) په بدن کې فزيالوژيکې توازون زياتره د وينې په واسطه ساتل کيږي (Geneser , 1986) فزيالوژيکې حالت کېدای شي دي توازون ته تغير ورکړي. له دې امله د وينې مقدار مختلفو فزيالوژيکې حالاتو په دوران کې د مختلفو پتالوژيکې او ميتابوليک اختلالاتو تشخيص لپاره معلوميږي کوم چې کولای شي توليد او توليد مثل فعاليتونه متاثيره کړي چې د زياتو اقتصادي تاوانونو سبب کيږي ( Pyne and maira, 1988 and Dutta et al, 1988 ). Piccion او د هغه ملګرو په (۲۰۰۹) کې ښودلي چې د شيدو ورکولو مرحلې په دوران کې د غولانځې غدواتو ترشحي حجرات ۸۰٪ د وينې دوراني ميتابوليتونو (ګلوکوز، امينواسيدونو اوشحمې تيزابونو) څخه د شيدو د جوړښت د پاره کار اخلي چې دغه د شيدو مرکباتو لومړنې جوړونکې مادې د چټک نفوذ پورې اړه لري.

تراوسه پورې په افغانستان کې او په ځانګړې ډول په ننګرهار کې داسې څېړنه نه ده ترسره شوې چې د شيدو ورکولو په دوران کې د غواګانو بيوشيميکې پارامترونه مطالعه کړې؛ نو په همدې اساس په دې څېړنه کې د غواګانو د شيدو ورکولو په دوران کې د کلسيم، ټرای ګلايسرايډ او کلسټرول اندازو معلومول ترسره شوي دي.

# مواد او کړنلاره

دا څېړنه عموماً په ساحوي ډول او مقایسوي میتود سره تر سره شوې ده.

**الف. د څېړنې ځای او وخت**

دا څېړنه د ۱۳۹۹/۵/۱۷ نېټې څخه شروع او تر ۱۲/۶/۱۳۹۹ نېټې پوري دوام کړی ددې تحقیق په جریان کې د ننګرهار ولایت سره رود ولسوالۍ وطني نسل غواګانو څخه د وینې نمونې اخستل شوي او د وترنري علومو پوهنځي د پري کلینیک څانګې لابراتوار کې معاینه شوي چې ټولي یې ( ۲۵ ) ورځې دوام وکړو.

**ب. د څېړنې مواد او ډیزاین**

په دې مطالعه کې ۲۷ سره شیدو غواګانې شاملې وي، چې د شیدو ورکولو د دورې په جریان کې په درېو ګروپونو ویشل شوي چې لومړی ګروپ ۳-۱ میاشتو، دوهم ګروپ د ۴-۶ میاشتو او دریم ګروپ د ۹-۷ میاشتو شیدو ورکولو دوره کې د وینې نمونې اخیستل شوي چې په هر ګروپ کې ۹ سره غواګانې شاملې وي.

د غواګانو د غاړې له ورید(Jegular vein) څخه وینه د ټولو حفظ الصحوي شرایطو په نظرکې نیولو سره د تعقیم شوي ستنې په واسطه اخیستل شوي او په ضد لخته ټیوبونو کې د وترنري علوموپوهنځي د پري کلینیک څانګې لابراتوار ته راوړل شوي. د وینې ټیوبونه په rpm۳۰۰۰ سرعت کې سنټرفیوج شوي او سیروم ورڅخه جلا شوی.

الف. د کلسیم د اندازه کولولپاره لومړي درې ټیوبونوباندې لیبل (ټیسټ ، سټنډر او بلینک) وهل شوی او بیا په T tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه ۱، Calcium reagent ملي لیتر په اندازه Calcium reagent2 او ۲۰µl په اندازه سیروم اچول شوی. په S tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه ۱، Calcium reagent 1 ملي لیتر په اندازه Calcium reagent2 او ۲۰ µl په اندازه Calcium standard اچول شوی. په B tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه ۱ ، Calcium reagent 1 ملي لیتر په اندازه Calcium reagent2 او۲۰ µl په اندازه مقطري اوبه اچول شوي البته پورتني درې واړه ټیوبونو محلول ښه ګډ شوی او بیا ۳۷ سانتي ګراد درجه کې د ۱۰-۵ دقیقولپاره په Water bath کې کېښودل شوي. د نوموړي وخت د پوره کېدو وروسته لومړی د بلانک محلول (B tube) په واسطه د کالورومیتر OD (Optional density) صفرکوو بیا ستندرد محلول (S tube) راخیستل شوي او د کالوري میترپه واسطه یې درجه یاداشت شوې ورپسې ټسټ محلول (T

tube) راخیستل شوي او په ورته ډول د کالورومیترپه واسطه یي درجه یاداشت شوي او د لاندي فورمول په واسطه یي نتیجه محاسبه شوي.

$$Ca = \frac{\text{test tube}}{\text{standard} \times 10}$$

په پایله کې د لاسته راغلي اندازه g/dl سره ښودل کیږي (Khan et al ,2012).

**ب.** د کولسترول اندازه کولولپاره لومړی درې ټیوبونوباندې لیبل (ټیسټ، ستندرد اوبلینک ) وهل شوی اوبیا په T tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Cholestrol reagent او ۱۰ µl په اندازه سیروم اچول شوی. په S tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Cholesterol reagent او ۱۰ µl په اندازه Cholestrol Standard اچول شوی په B tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Cholestrol reagent او ۱۰ µl په اندازه مقطرې اوبه اچول شوي البته پورتني درې واړه ټیوبونه باید په یو وخت کې اماده شي د کالوري متر په واسطه یې اندازي یاداشت شوي او د لاندې فورمول په واسطه یې نتیجه محاسبه شوې.

$$\text{Cholestrol} = \frac{\text{test tube}}{\text{standard} \times 200}$$

C. د ټرای ګلایسراید اندازه کولو لپاره لومړی درې ټیوبونوباندي لیبل (ټیسټ، ستندرد او بلینک) وهل شوې اوبیا په T tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Triglyceride reagent او ۱۰ µl په اندازه سیروم اچول شوی. په S tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Triglyceride reagent او ۱۰ µl په اندازه Triglyceride Standard اچول شوی په B tube کې ۱ ملي لیتر په اندازه Triglyceride reagent او ۱۰ µl په اندازه مقطرې اوبه اچول شوي البته پورتني درې واړه ټیوبونه په یو وخت کې اماده شوي د کالوري میتر په واسطه یې اندازي یاداشت شوي او د لاندې فورمول په واسطه یې نتیجه محاسبه شوې ده.

$$\text{Triglyceride} = \frac{\text{test tube}}{\text{standard} \times 200}$$

**ج. احصایوي تحلیل:** تر لاسه شوي ارقام د Version 26 SPSS سافټویر په واسطه د One Way ANOVA د Tukey Test په مرسته تحلیل شوي دي او عمومي Confidence Interval یې ۹۵ سلنه او متغیر یې (P< 0.05) دی.

**نتیجې**

ددې څېړنې په لړ کې ۲۷ سره وطني د شیدو غواګانې تر مطالعې لاندې نیول شوي چې په درې ګروپونو ویشل شوي چې په هر ګروپ کې ۹ سره غواګانې شاملې دي چې لومړی ګروپ ۱-۳ میاشتي ، دویم ګروپ د ۴-۶ میاشتي او درېیم ګروپ د ۷-۹ میاشتي د شیدو ورکولو دوران کې وي. په دې څېړنه کې دا معلومه شوه چې شیدو ورکولو دوران د وینې په بیوشیمیکي پارامترونو

کلسیم، کلسټرول او ټرای ګلیسرایډ تاثیر کړی دی چې د کلسیم، کلسټرول او ټرای ګلیسرایډ په اندازو کې کموالی لیدل کیده.




اول ګراف: په پورته ګراف کې د کلسیم اندازه ښودل شوې، چې د شیدو ورکولو په اوله دوره ( First trimester ) کې نسبت دویمې دورې ( Second trimester ) او درېیمې دورې ( Third trimester ) ته د پام وړ کموالی (P< 0.05) راغلی وو.



دوهم ګـراف: پـه پورتـه ګـراف کـې د کلسـټرول انـدازه ښـودل شـوې، چـې د شـيدو ورکولـو پـه اولـه دوره ( First trimester ) کـې نسـبت دويمـي دورې ( Second trimester ) او درېيمـي دورې ( Third trimester ) تـه د پـام وړ کموالـی (P< 0.05) راغلـی وو.




دریـم ګـراف: پـه پورتـه ګـراف کـې د ټـرای ګليسـرايډ انـدازه ښـودل شـوې چـې د شـيدو ورکولـو پـه اوله دوره ( First trimester ) کـې نسـبت دويمـي دورې ( Second trimester ) او درېيمـي دورې ( Third trimester ) تـه د پـام وړ کموالـی (P< 0.05) راغلـی وو.

## مناقشه

ددې څېړنـې پايلـه کـې معلومـه شـوه چـې د شـيدو ورکولـو پـه لومړيـو دوو دورو کـې د کلسـيم، کلسـټرول او ټـرای ګليسـرايډ پـه انـدازو کـې د پـام وړ کموالـی راغلـی و(P< 0.05). چـې دا نتيجـه د Eman او د هغـه د ملګـرو ۲۰۱۴ ميـلادي کال لـه څېړنـې سـره ورتـه والـی لـرې چـې دوی معلومـه کـړې وه چـې اولنـۍ دورې پـه نسـبت کلسـيم اوټـرای ګليسـرايډ پـه دويمـه دوره او درېيمـه دوره کـې (P< 0.05) زيات شـوی اوکلسـټرول (P< 0.01) زيـات شـوی وو.

Sarker او دهغـه ملګـرو د ۲۰۱۵ ميـلادي کال څېړنـو کـې چـې پـه شـيدو ورکونکـو اونـه ورکوونکـو بانـدې ترسـره شـوې ښـودلې چـې کلسـيم پـه شـيدو نـه ورکوونکـو کـې نسـبت شـيدو ورکوونکـو تـه زيـات شـوی ؤ، چـې دپورتنيـو څېړنـو څخـه ښـکارې چـې د شـيدو ورکولـو دوران د وينـې پـه بيوشـيمي

ډیر تاثیر لري خصوصاً اوله دوره چې پورته درې واړه پارامترونو په کې کموالی کړی وو چې دا زمونږ له څېړنې سره ورته والی لري. هغه مطالعه چې د Irena لخوا په ۲۰۱۰ میلادي کال کې په هولستین نسل غواګانو په درې (وچه، اولنۍ او منځنۍ ) مرحلو باندې ترسره شوه د کلسټرول غلظت یې د سلو ورځو څخه وروسته د لنګون نسبت د دې نه شکته ورځو ته زیات وو مقصد یې دا ده چې اولنۍ دوره کې د کلسټرول غلظت کم وو چې دا زمونږ له نتیجې سره ورته والی لري.
Filipejova او Kovacik د ۲۰۰۹ میلادي کال څېړنو په اساس د شیدو ورکولو لومړی دوره کې د کلسټرول غلظت نسبت منځنۍ او د لنګون څخه ۳-۲ هفتې مخکې دورې ته کم وو چې منځنۍ دوره کې دغه مقدار نظر دواړو دورو ته زیات وو چې دا زمونږ له نتیجې سره ورته والی لري.
په پورتني مساوات کې $C_R$ نیمه- دایره ده چې په پورته شکل ښي لوري کې لیدل کېږي.

ثبوت: (a) او (b) له یو بل سره په ورته ډول په اساني سره ثبوتېږي، چې د انتګرالونو لپاره مثلثي نامساوات کار وو او نتیجه لاس ته راوړو.

$$\left|\int_{C_R} f(z)dz\right| \le \int_{C_R} |f(z)||dz| \le \int_{C_R} \frac{M}{|z|^a}|dz| = \int_0^{\pi} \frac{M}{R^a}Rd\theta = \frac{M\pi}{R^{a-1}}$$

څرنگه چې a>1 ، روښانه ده چې که R →∞ پورتنۍ نتیجه صفر ته ځي.

لاندې قضیه د هغو تابعگانو اړوند ده چې په لایتناهي کې د z/1 په شان صفر ته نږدې کېږي.

**قضیه۲:** (a) فرضوو چې f(z) په پورتنۍ نیمه- مستوي کې تعریف شوې. که چیرې M>0 داسې ولرو چې

$$|f(z)| < \frac{M}{|z|}$$

په دې صورت کې د a>0 لپاره لرو

$$\lim_{x_1\to\infty, x_2\to\infty} \int_{C_1+C_2+C_3} f(z)e^{iaz}dz = 0,$$

چې $C_1+C_2+C_3$ یوکې یو مستطیلي مسیر دی چې په لاندې (ب) شکل کې لیدل کېږي. (Jeremy, 2024)




(ب) ( الف )

(۲) شکل: د $x_1+x_2$ په اوږدوالي او ارتفاع مستطیلي مسیرونه

(b) په ورته ډول که چیرې a<0 وي، په دې صورت کې

$$\lim_{x_1\to\infty, x_2\to\infty} \int_{C_1+C_2+C_3} f(z)e^{iaz}dz = 0$$

چې $C_1+C_2+C_3$ یوکې یو مستطیلي مسیر دی چې په پورته (الف)شکل کې لیدل کېږي.

د مخکینۍ قضیې پر خلاف دې قضیه کې $e^{iaz}$ فکتور ته هم اړتیا لیدل کېږي.

**ثبوت:** (a) د $C_1,C_2,C_3$ له پارامتر کولو څخه یې پیلوو؛

$C_1: \gamma_1(t) = x_1 + i$, پورې $x_1 + x_2$ څخه تر $0$ له $t$

$C_2: \gamma_2(t) = t + i(x_1 + x_2)$, پورې $-x_2$ څخه تر $x_1$ له $t$

$C_3: \gamma_3(t) = -x_2 + it$, پورې $0$ څخه تر $x_1 + x_2$ له $t$

وروسته هر انتګرال په نوبت سره په پام کې نیسو، $x_1$ او $x_2$ داسې فرضوو چې د هرې

$C_j, j = 1,2,3$ منحنــي پــر مــخ

$$|f(z)| < \frac{M}{|z|}$$

$$\begin{aligned} \left|\int_{C_1} f(z)e^{iaz}dz\right| &\leq \int_{C_1} \left|f(z)e^{iaz}\right||dz| \leq \int_{C_1} \frac{M}{|z|}\left|e^{iaz}\right||dz| \\ &= \int_0^{x_1+x_2} \frac{M}{\sqrt{x_1^2 + t^2}}\left|e^{iax_1-at}\right|dt \\ &\leq \frac{M}{x_1}\int_0^{x_1+x_2} e^{-at}dt \\ &= \frac{M}{x_1}\left(1 - e^{-a(x_1+x_2)}\right)/a. \end{aligned}$$

څرنګـه چـې $a>0$ نـو؛ روښـانه ده، چـې کـه چیـري $x_1$ او $x_2$ بینهایـت تـه تقـرب وکـړي، وروسـتی عبارت صفـر تـه ځي.

$$\begin{aligned} \left|\int_{C_2} f(z)e^{iaz}dz\right| &\leq \int_{C_2} \left|f(z)e^{iaz}\right||dz| \leq \int_{C_2} \frac{M}{|z|}\left|e^{iaz}\right||dz| \\ &= \int_{-x_2}^{x_1} \frac{M}{\sqrt{t^2 + (x_1 + x_2)^2}}\left|e^{iat-a(x_1+x_2)}\right|dt \\ &\leq \frac{Me^{-a(x_1+x_2)}}{x_1 + x_2}\int_0^{x_1+x_2} dt \\ &\leq Me^{-a(x_1+x_2)} \end{aligned}$$

بیـا هـم روښـانه ده، کـه چیـري $x_1$ او $x_2$ بینهایـت تـه تقـرب وکـړي، وروسـتی عبـارت صفـر تـه ځـي. د $C_3$ لپـاره ثبـوت هـم د $C_1$ پـه شـان پـه اسـاني سـره تـر سـره کـولای شـو.

(b) هـم پـه ورتـه توګـه ثبوتـولای شـو، البتـه د تـوان علامـې تـه مـو بایـد پـام وي او د هغـې لـه منفـي والـي ډاډ تـر لاسـه کـړو.

## $\int_{-\infty}^{\infty}$ او $\int_{0}^{\infty}$ ډوله انټګرالونه:

فرضوو چې f(x) په [0 ,∞] انټروال کې یوه حقیقي متمادي تابع ده. له حقیقي انالیز څخه پوهېږو چې د [0,∞] پرمخ د f غیر عادي انټګرال په لاندې ډول لیکلای شو؛

$$\int_{0}^{\infty} f(x)dx = \lim_{r\to\infty}\int_{0}^{r} f(x)dx \qquad (۱)$$

په دې شرط چې د ښي لوري لیمټ شتون ولري. (Brown & Churchill, 2009)

که f د هر حقیقي عدد x لپاره تعریف شوې وي په دې صورت کې د $\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx$ غیر عادي انټګرال تقارب د دوو لاندې لیمټونو د شتون په معنا دی.

$$\int_{0}^{\infty} f(x)dx = \lim_{r_1\to\infty}\int_{0}^{r_1} f(x)dx \text{ او } \int_{-\infty}^{0} f(x)dx = \lim_{r_2\to\infty}\int_{-r_2}^{0} f(x)dx$$

او لیکو چې

$$\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = \lim_{r_1\to\infty}\int_{0}^{r_1} f(x)dx + \lim_{r_2\to\infty}\int_{-r_2}^{0} f(x)dx \quad (۲)$$

د باقي‌مانده قضیې د تطبیق په موخه پورتنی انټګرال د لاندې لیمټ په بڼه لیکو

$$\lim_{r\to\infty}\int_{-r}^{r} f(x)dx = P.V.\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx \text{ (په دې شرط چې لیمټ شتون ولري)} \qquad (۳)$$

دغه لیمټ د کوشي اصلي قیمت بلل کېږي چې په لنډ ډول یې په P.V سمبول ښیو. د $\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx$ غیرعادي انټګرال شتون د کوشي د اصلي قیمت شتون رانښیي او نوموړی قیمت هغه عدد دی چې (۲) انټګرال ورته متقارب دی. ځکه چې

$$\int_{-r}^{r} f(x)dx = \int_{-r}^{0} f(x)dx + \int_{0}^{r} f(x)dx$$

او په r→∞ حالت کې د ښي لوري د هر انټګرال لیمټ هغه وخت شتون لري چې (۲) انټګرال متقارب وي. (Sumit & Sanjay Kumar, 2020)

نکته: د P.V شتون د غیر عادي انټګرال تقارب نه تضمینوي.

په هر صورت، که چیر $f(x)$ د $-\infty < x < \infty$ لپاره یوه جفته تابع وي او د کوشي اصلي قیمت (۳) وجود ولري نو؛ (۱) او (۲) دواړه انټګرالونه متقاربېږي او

$$P.V.\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = \int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = 2\int_{0}^{\infty} f(x)dx \qquad (۴)$$

د غیر عادي انټګرالونو محاسبه د لاندې نظریې په اساس ترسره کېږي.

فرضوو چې $D \subseteq \mathbb{C}$ دومین $\overline{H_u} = \{z: \text{Im } z \geq 0\}$ نیمه پورته ترلې مستوي په ځان کې لري.

فرضوو چې $z_1,\ldots,z_k$ د $H_u$ پورتنۍ نیمې مستوي نقطې او

$$f: D \setminus \{z_1, \ldots, z_k\} \to \mathbb{C}$$

یوه تحلیلي تابع ده. اوس r>0 په کافي اندازه لوی انتخابوو ترڅو $1 \leq \alpha \leq k$ لپاره $r > |z_\alpha|$ . وروسته په D کې پروت γ کانتور او Cr نیمه دایره په پام کې نیسو، (۳) شکل وګورئ.



(۳) شکل: $C_R$ نیمه دایره

په همدې اساس پر f تابع د کوشي د باقي‌مانده قضیې د تطبیق له مخې لرو چې

$$\int_{-r}^{r} f(x)dx + 2\int_{C_r} f(z)dz = 2\int_{\gamma} f(z)dz = 2\pi i \sum_{j=1}^{k} \text{Res}\,[z_j, (f)]$$

که چیرې له دې ځخه چې r بېنهایت ته په تقرب سره د نیمې دایرې انټګرال $\int_{C_r} f(z)dz$ برخه د صرف نظر وړ(صفر) ده، ډاډ تر لاسه کړو په دې صورت کې

$$\text{P.V.} \int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = \lim_{r\to\infty} \int_{-r}^{r} f(x)dx = 2\pi i \sum_{j=1}^{k} \text{Res}\,[z_j, (f)]$$

که چېرې $\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx$ غیر عادي انټګرال شتون ولري په دې صورت کې

$$\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = 2\pi i \sum_{j=1}^{k} \text{Res}[z_j, (f)] \qquad (۵)$$

په هغه صورت کې چې f(x) یوه جفته تابع وي د (۵) معادلې له مخې لیکلای شو

$$\int_{0}^{\infty} f(x)dx = \frac{1}{2}\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = \pi i \sum_{j=1}^{k} \text{Res}[z_j, (f)] \qquad (۶)$$

پورتنۍ طریقه دلاندې مثال په مرسته لا روښانه کوو.

مثال: لاندې انټګرال محاسبه کړئ.

$$\int_0^\infty \frac{x^2dx}{(x^2+9)(x^2+4)^2}$$

حل: لومړی ښيو چې

$$\int_0^\infty \frac{x^2dx}{(x^2+9)(x^2+4)^2} = \frac{1}{2}\int_{-\infty}^\infty \frac{x^2dx}{(x^2+9)(x^2+4)^2} \qquad (۷)$$

انټګـرال متقـارب دی، وروسـته يې قيمـت لاسته راوړو. وينـو چې د وروسـتي مسـاوات د ښـي لـوري انټګـرال پـه مختلطـه مسـتوي کـې د حقيقـي محـور پـر مـخ د

$$f(z) = \frac{z^2}{(z^2+9)(z^2+4)^2}$$

تابـع انټګـرال را ښـيي. نومـوړې تابع پـه z=±3i  کـې سـاده قطبونـه، پـه z=±2i کـې دوه ګونـي قطبونـه لـري او پـه هـره نقطـه کـې تحليلـي هـم ده. کلـه چې r>3 وي، د z=3i او z=2i منفـرد ټکـي پـه پورتنـۍ نيمـه- مسـتوي کـې د هغـې دايـرې پـه دننـه کـې چـې د z=|r| دايـرې  د نيمـه پورتـه برخـې( Cr)  او د حقيقـي محـور د [r,r-]  ټوټـې پـه واسـطه محـدود شـوې پراتـه دي. (۴) شـکل.




(۴) شکل: د  z=|r| دايرې  نيمه پورته برخه

لـه باقي‌مانـده قضيـې څخـه پـه استفادې د سـاعت د عقربـې پـه مخالـف لـوري د نومـوړې ناحيـې پـه سـرحد کـې د انټګـرال نيولـو لـه مخـې؛

$$\int_{-r}^{r} f(x)dx + \int_{C_r} f(z)dz = 2\pi i(b_1+b_2)$$

چې $b_1 = \text{Res}\,[2i, f(z)]$ او $b_2 = \text{Res}\,[3i, f(z)]$اوس $b_1$ او $b_2$  لاسته راوړو.

$$b_1 = \lim_{z\to 2i}\left[\frac{d}{dz}(z-2i)^2\frac{z^2}{(z^2+9)(z^2+4)^2}\right]$$

$$= \lim_{z\to 2i} \frac{d}{dz}\left(\frac{z^2}{(z^2+9)(z+2i)^2}\right)$$

$$= \lim_{z\to 2i}\left[\frac{2z(z^2+9)(z+2i)^2 - z^2\{2z(z+2i)^2 + 2(z^2+9)(z+2i)\}}{(z^2+9)^2(z+2i)^4}\right] = \frac{-13i}{200}$$

$$b_2 = \lim_{z\to 3i}(z-3i)\frac{z^2}{(z-3i)(z+3i)(z^2+4)^2} = \frac{3i}{50}$$

نو؛

$$\int_{-r}^{r} f(x)dx + \int_{C_r} f(z)dx = 2\pi i\left(\frac{-13i}{200} + \frac{3i}{50}\right) = \frac{\pi}{100}$$

په همدې اساس لرو؛

$$\int_{-r}^{r} f(x)dx = \frac{\pi}{100} - \int_{C_r} f(z)dz \quad , \quad r > 3 \qquad (۸)$$

اوس ښیو چې که r→∞ ، د پورتني مساوات د ښي لوري قیمت صفر ته تقرب کوي.

کـه z پـه Cr نیمه دایره کې یوه نقطه وي، په دې صورت کې $|z^2| = |z|^2 = r^2$ او له $|z+w| \geq ||z| - |w||$ مثلثي نامساوات خخه په استفادې لرو چې

$$|(z^2+9)(z^2+4)^2| \geq (||z|^2 - 9|)(||z|^2 - 4|)^2 = (r^2-9)(r^2-4)^2$$

په پایله کې غوښتل شوی قیمت په لاندې توګه تر لاسه کوو.

$$L(C_r) = \pi r \quad \left|\int_{C_r} f(z)dz\right| = \left|\int_{C_r} \frac{z^2dz}{(z^2+9)(z^2+4)^2}\right| \leq \frac{r^2}{(r^2-9)(r^2-4)^2} L(C_r)$$

په همدې اساس لرو چې؛

$$\left|\int_{C_r} \frac{z^2dz}{(z^2+9)(z^2+4)^2}\right| \leq \frac{\pi r^2}{(r^2-9)(r^2-4)^2}$$

اوس د r →∞ پـه صـورت کـې د پورتنـي نامسـاوات ښـی لـوری ۰ تـه ځـي، پـه همـدې اسـاس $\int_{C_r} f(z)dz = 0$. لـه (۸) مسـاوات خخـه لـرو

$$\text{P.V.} \int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = \lim_{r\to\infty}\int_{-r}^{r} f(x)dx = \frac{\pi}{100}$$

څرنګه چې د کوشي اصلي قیمت شتون لري نو؛

$$\int_0^{\infty} \frac{x^2}{(x^2+9)(x+4)^2}\,dx = \frac{\pi}{200} \quad .$$

د پورتنیو توضیحاتو نتیجه د یوې قضیې په بڼه وړاندې کوو چې د f حقیقي تابع د انټګرال اړوند د کوشي د اصلي قیمت پیدا کولو کې را سره مرسته کوي. البته f تابع په $f(x) = \frac{p(x)}{q(x)}$ بڼه چې p(x) او q(x) په [-∞,∞] کې پولینومونه دي په پام کې نیسو. که چیرې د قضیې فرضیه صدق وکړي په دې صورت کې د $\lim_{r\to\infty}\int_{C_r} f(z)dz = 0$ حالت سموالی هم روښانه دی.

**قضیه:** فرضوو چې p او q له حقیقي ضریبونو سره دوه داسې پولینومونه وي چې $\deg(q) \geq \deg(p) + 2$ هر حقیقي عدد x لپاره q(x)≠0. فرضوو چې $z_1, z_2, \ldots, z_k$ په پورتنۍ نیمه-مستوي کې د $f(z) = \frac{p(z)}{q(z)}$ تابع د قطبونو ټولګه ده، په دې صورت کې؛

(Saminathan & Silverman , 2006) P.V. $\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = 2\pi i \sum_{j=1}^{k} \text{Res}[z_j, f(z)].$

**مثال:** لاندې انټګرال محاسبه کړئ.

$$I = \int_{-\infty}^{\infty} \frac{1}{(1+x^2)^2}\,dx$$

**حل:** فرضوو چې

$$f(z) = 1/(1+z^2)^2.$$

روښانه ده چې

$$f(z) \approx 1/z^4.$$

دلته په ځانګړې توګه د ۲ قضیې فرضیه صدق کوي. د هغه کانټور په کارونې سره چې په لاندې شکل کې ښکاري د باقي‌مانده قضیې له مخې لرو،

$\int_{C_1+C_R} f(z)dz = 2\pi i \sum Res f$ (د کانټور دننه د $f$ باقي‌مانده)




(۵) شکل: $C_R$ کانټو

هره ټوټه په پورتني مساوات کې امتحانوو؛

$\int_{C_R} f(z)dz$ د قضیه۲ (a) برخې له مخې؛

$$\lim_{R\to\infty}\int_{C_R} f(z)dz = 0$$

$\int_{C_1} f(z)dz$: په روښانه توګه وینو چې؛

$$\lim_{R\to\infty}\int_{C_1} f(z)dz = \lim_{R\to\infty}\int_{-R}^{R} f(x)dx = \int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = I$$

په همدې اساس د r→∞ له مخې؛

$$I = \int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = 2\pi i \sum \ \text{Res}\, f \ (\text{د کانټور دننه باقي‌مانده})$$

بالاخره د اړتیا وړ باقي‌مانده حسابوو: f(z)په ±i کې دوهمه مرتبه قطبونه لري چې یوازې z=i د کانټور په دننه کې دی په همدې اساس یوازې همدلته یې باقي‌مانده حسابوو. فرضوو چې

$$g(z) = (z-i)^2 f(z) = \frac{1}{(z+i)^2}$$

نو

$$\text{Res}\,(f,i) = g'(i) = -\frac{2}{(2i)^3} = \frac{1}{4i}$$

په همدې اساس

$$I = 2\pi i \text{Res}\,(f,i) = \frac{\pi}{2}.$$

**د $\int_0^{2\pi} f(\cos\theta, \sin\theta)d\theta$ ډوله انټګرالونو محاسبه:**

$z = e^{i\theta}$ $(0 \le \theta \le 2\pi)$ د واحدې دایرې پر مخ لاندې ابتدایي ځانګړتیاوې لري ؛

۱- $.e^{-i\theta} = 1/z$

$$\cos\,\theta = \frac{e^{i\theta}+e^{-i\theta}}{2} =$$

۲- $.\frac{1}{2}\left(z+\frac{1}{z}\right)$

$$\sin\ \theta = \frac{e^{i\theta} - e^{-i\theta}}{2i} =$$

۳- $.\frac{1}{2i}\left(z - \frac{1}{z}\right)$

۴- $dz = ie^{i\theta}d\theta \ \Leftrightarrow \ d\theta = \frac{dz}{iz}$

پورتنیو قیمتونو ته په پام لاندې قضیه چې د مثلثاتي انټګرالونو د محاسبه کولو تګلاره راښيي وړاندې کوو؛

قضیه: فرضوو چې $R(x,y)$ یوه حقیقي تابع ده چې د $x_2+y_2$ دایرې پر مخ هیڅ قطب نه لري، په دې صورت کې د

$$f(z) = \frac{1}{iz}R\left(\frac{z + 1/z}{2}, \frac{z - 1/z}{2i}\right)$$

لپاره لرو چې؛

$$\int_{0}^{2\pi} R(\cos{(\theta)}, \sin{(\theta)})d\theta = 2\pi i \sum_{C} \text{Res}\,[f(z)]\ .$$




(٦) شکل: z=|1| دایره

$\sum_C$ مجموعه د C دایرې په دخل کې د $f(z)$ ټول باقي‌مانده ښيي. (نامی, ۱۳۹۴)

**ثبوت:** د پورتنیو تعویضونو له مخې لیکلای شو؛

$$\int_{0}^{2\pi} R(\cos{(\theta)}, \sin{(\theta)})d\theta = \int_{|z|=1} R\left(\frac{z + 1/z}{2}, \frac{z - 1/z}{2i}\right)\frac{dz}{iz}$$

د فرضیې له مخې f د z=|1| کانتور پر مخ هیڅ قطب نه لري نو؛ د باقي‌مانده قضیې له مخې د قضیې ثبوت روښانه دی.

**مثال:** لاندې انټګرال محاسبه کوو.

$$\int_0^{2\pi} \frac{d\theta}{1+a^2-2a\cos(\theta)}, \qquad |a| \neq 1$$

**حل:** د

$$\begin{aligned} \cos(\theta) &= \frac{z+1/z}{2} \\ dz &= ie^{i\theta}d\theta \Leftrightarrow d\theta = \frac{dz}{iz} \end{aligned}$$

تعویضونو له مخې لیکلای شو:

$$\begin{aligned} I &= \int_0^{2\pi} \frac{d\theta}{1+a^2-2a\cos(\theta)} \\ &= \int_{|z|=1} \frac{1}{1+a^2-2a(z+1/z)/2} \cdot \frac{dz}{iz} \\ &= \int_{|z|=1} \frac{1}{i\big((1+a^2)z-a(z^2+1)\big)} dz. \end{aligned}$$

نو فرضوو چې

$$f(z) = \frac{1}{i\big((1+a^2)z-a(z^2+1)\big)}$$

د باقي‌مانده قضیې له مخې لرو چې؛

$$I = 2\pi i \sum_C \operatorname{Res}[f(z)]$$

د مخرج د فکټور نیونې په صورت کې لرو چې؛

$$f(z) = \frac{-1}{ia(z-a)(z-1/a)}.$$

ښکاري چې قطبونه په a,1/a کې دي چې یو یې د واحدې دایرې په داخل او بل یې د باندې دی.

کـه چیـري 1<|a| وي، $1/a$ د دواحـدې دایـرې داخـل او د دواحدې دایـرې داخل او $\operatorname{Res}(f,1/a) = \frac{1}{i(a^2-1)}$.

کـه چیـري 1>|a| وي، a د دواحدې دایـرې داخل او $\operatorname{Res}(f,a) = \frac{1}{i(1-a^2)}$.

$$I = \begin{cases} \dfrac{2\pi}{a^2-1} & \text{if } |a| > 1 \\ \dfrac{2\pi}{1-a^2} & \text{if } |a| < 1 \end{cases}$$

**مثال:** لاندې انټګرال محاسبه کوو.

$$I = \int_0^{\pi} \frac{d\theta}{a^2 + \cos^2\ \theta}, (a > 0).$$

حل: د $2\cos^2\theta=1+\cos 2\theta$ تساوي او $\phi=2\theta$ تعویض له مخې پورتنی انټګرال په لاندې بڼه لیکلای شو؛

$$I = \int_0^{2\pi} \frac{d\phi}{(2a^2 + 1) + \cos\ \phi}.$$

د $z = e^{i\phi}$ د کارونې په اساس لیکلای شو؛

$$I = \int_C \frac{1}{(2a^2 + 1) + \left(\frac{z + z^{-1}}{2}\right)} \frac{dz}{iz}$$

یا

$$I = -2i \int_C \frac{dz}{z^2 + 2(2a^2 + 1)z + 1}$$

یا

$$I = -2i \int_C \frac{dz}{\left(z + 2a^2 + 1 + 2a\sqrt{a^2 + 1}\right)\left(z + 2a^2 + 1 - 2a\sqrt{a^2 + 1}\right)}$$

وینو چې تر انټګرال لاندې عبارت یعني

$$f(z) = \frac{1}{\left(z + 2a^2 + 1 + 2a\sqrt{a^2 + 1}\right)\left(z + 2a^2 + 1 - 2a\sqrt{a^2 + 1}\right)}$$

لپاره منفرد ټکي لاندې قطبونه دي؛

$$z_1 = -\left(2a\sqrt{a^2 + 1} + 2a^2 + 1\right),\ z_2 = 2a\sqrt{a^2 + 1} - (2a^2 + 1)$$

دا چې a یو مثبت حقیقي عدد دی نو؛ $|z_1|>1$ او $|z_2|<1$. په بل عبارت $z_2$ د C کانټور دننه پروت دی. په همدې اساس په $z_2$ کې باقي‌مانده په لاندې توګه لیکلای شو:

$$\text{Res}\,[z_2, f(z)] = b_1 = \lim_{z \to z_2} (z - z_2) f(z)$$

یا

$$\begin{aligned} b_1 &= \lim_{z \to \left(2a\sqrt{a^2+1} - (2a^2+1)\right)} \left(\frac{1}{z + 2z\sqrt{a^2 + 1} + 2a^2 + 1}\right) \\ &= \frac{1}{4a\sqrt{a^2 + 1}}. \end{aligned}$$

او د باقي‌مانده قضیې له مخې لیکلای شو؛

$$I = (2\pi i)(-2i)\frac{1}{4a\sqrt{a^2+1}} = \frac{\pi}{a\sqrt{a^2+1}}.$$

## د څانګیزې پرېکوونې (branch cut) په مرسته انټګرال نیونه:

دا موضوع د یو مثال په مرسته روښانه کوو.

**مثال:** لاندې انټګرال حساب کړئ.

$$I = \int_0^\infty \frac{x^{1/3}}{1+x^2}\,dx$$

**حل:** لاندې تابع په پام کې نیسو

$$f(x) = \frac{x^{1/3}}{1+x^2}$$

څرنګه چې په مجانبي توګه یاده تابع له ($x^{-5/3}$) سره ورته ده، انټګرال دقیقاً متقارب دی. ددې لپاره چې دیوې مختلطې تابع په توګه

$$f(z) = \frac{z^{1/3}}{1+z^2}$$

تحلیلي یا حتی متمادي وي څانګیزې پرېکوونې ته اړتیا ده، په همدې اساس باید هغه د کانټور په انتخاب کې په پام کې ونیسو

لومړی د حقیقي محور په مثبت لوري لاندې څانګیزې پرېکوونه ټاکو. وروسته د لاندې شکل له $C_1+C_R-C_2-C_r$ کانټور څخه استفاده کوو.




(۷) شکل: د branch cut په چاپېر کانټور

د ټوټو علامې په داسې ډول وضع کوو چې انټګرالونه په طبیعي توګه پارامتر شي. څرنګه چې $C_1$ او $C_2$ د ځانګيزې پرېکونې په دوو مخالفو لوريو کې پراته دي لرو چې

$$\int_{C_1-C_2} f(z)dz \neq 0$$

لومړی انټګرال د منحني د هرې ټوټې پر مخ څېړو؛

- د $C_R$ پر مخ: د لومړۍ قضيې له مخې لرو چې

$$\lim_{R\to\infty}\int_{C_R} f(z)dz = 0$$

- د $C_r$ پر مخ: د ښه درک او پوهېدلو په موخه فرضوو چې $r<1/2$ . لرو چې $|z|=r$، په همدې اساس

$$|f(z)| = \frac{|z^{1/3}|}{|1+z^2|} \le \frac{r^{1/3}}{1-r^2} \le \frac{(1/2)^{1/3}}{3/4}$$

په پورتنۍ معادله کې وروستی عدد په $M$ ښيو. پوهېږو چې د $r$ لپاره $|f(z)|<M$. په همدې اساس

$$\left|\int_{C_r} f(z)dz\right| \le \int_0^{2\pi} \left|f\left(re^{i\theta}\right)\right|\left|ire^{i\theta}\right|d\theta \le \int_0^{2\pi} Mrd\theta = 2\pi Mr$$

روښانه ده چې که $r\to 0$، پورتنی عبارت صفر ته تقرب کوي.

- د $C_1$ پر مخ:

$$\lim_{r\to 0,R\to\infty}\int_{C_1} f(z)dz = \int_0^{\infty} f(x)dx = I$$

- **د $C_2$ پر مخ:** څرنګه چې $\theta=2\pi$ ، په همدې اساس

$$\lim_{r\to 0,R\to\infty}\int_{C_2} f(z)dz = e^{i2\pi/3}\int_0^{\infty} f(x)dx = e^{i2\pi/3}I$$

$f(z)$ په $\pm i$ کې قطبونه لري. څرنګه چې $f$ د کانټور په دننه کې Meromorphic ده، د باقي‌مانده قضيې له مخې لرو چې

$$\int_{C_1+C_R-C_2-C_r} f(z)dz = 2\pi i(\text{Res}\,(f,i) + \text{Res}\,(f,-i))$$

د $r\to 0$ او $R\to\infty$ په صورت کې پورتنی تحليل ښيي چې

$$\left(1-e^{i2\pi/3}\right)I = 2\pi i(\text{Res}\,(f,i) + \text{Res}\,(f,-i))$$

د $z^{(1/3)}$ ټوټې باقي‌مانده عبارت دي له

$$\mathrm{Res}\,(f,-i)=\frac{(-i)^{1/3}}{-2i}=\frac{\left(e^{i3\pi/2}\right)^{1/3}}{2e^{i3\pi/2}}=\frac{e^{-i\pi}}{2}=-\frac{1}{2}$$

$$\mathrm{Res}(f,i)=\frac{i^{\frac{1}{3}}}{2i}=\frac{e^{\frac{i\pi}{6}}}{2e^{\frac{i\pi}{2}}}=\frac{e^{-\frac{i\pi}{3}}}{2}.\quad \text{(Jeremy, 2024)}$$

تر لږ الجبري عملیو وروسته لرو چې

$$\left(1-e^{i2\pi/3}\right)I=2\pi i\cdot\frac{-1+e^{-i\pi/3}}{2}=\pi i(-1+1/2-i\sqrt{3}/2)=-\pi ie^{i\pi/3}$$

$$I=\frac{-\pi ie^{i\pi/3}}{1-e^{i2\pi/3}}=\frac{\pi i}{e^{i\pi/3}-e^{-\pi i/3}}=\frac{\pi/2}{(e^{i\pi/3}-e^{-i\pi/3})/2i}=\frac{\pi/2}{\sin(\pi/3)}=\frac{\pi}{\sqrt{3}}$$

## پایله

د کوشي باقي‌مانده قضیه د هغو حقیقي معین انټګرالونو اسانه محاسبه کولو ته لار پرانیزي چې د کلکولس په کلاسیکو تګلارو یې محاسبه ستونزمنه او حتي نا ممکنه وي. له باقي‌مانده قضیې څخه د استفادې په دې تګلاره کې لومړی تابع په مختلطه مستوي کې لیکو او وروسته یې د باقي‌مانده قضیې په مرسته انتګرال محاسبه کېږي. د بېلابېلو انټګرالونو د محاسبې لپاره بېلابېلې لارې روښانه شوې. د هغو تابع‌ګانو انټګرالونه چې په لایتناهي کې صفر کېږي، له لاندې اصل څخه په استفادې په اسانۍ سره حسابولای شو؛ که چېرې f(z) په پورتنۍ نیمه- مستوي کې تعریف شوې ، a>1 او M>0 وي په داسې ډول چې

$$|f(z)|<\frac{M}{|z|^{a}}$$

وي، په دې صورت کې

$$\lim_{R\to\infty}\int_{C_R}f(z)dz=0,$$

همدرانګه که چېرې f(z) په لاندینۍ نیمه-مستوي کې تعریف شوې وي او

$$|f(z)|<\frac{M}{|z|^{a}}\,,\quad a>1$$

وي، په دې صورت کې

$$\lim_{R\to\infty}\int_{C_R} f(z)dz = 0.$$

د $\int_{-\infty}^{\infty}$ او $\int_{0}^{\infty}$ ډوله انټګرالونو د محاسبه کولو لپاره لاندې رابطه کاروو

$$\int_{-\infty}^{\infty} f(x)dx = 2\pi i\sum_{j=1}^{k} \mathrm{Res}[z_j,(f)]$$

همدارنګه د مثلثاتي انټګرالونو د محاسبې لپاره لاندې مساوات راسره مرسته کوي

$$\int_{0}^{2\pi} R(\cos(\theta),\sin(\theta))d\theta = 2\pi i\sum_{C} \mathrm{Res}\,[f(z)]$$

کوم انټګرالونه چې پورتنۍ بڼې نه لري، د محاسبه کولو لپاره يې له ځانګيزې پرېکوونې طريقې او مثلثي انټګرالونو څخه استفاده کېږي.

## اخځليکونه


اروين, س. ک. (۱۳۸۹). رياضيات مهندسي پيشرفته (۱۰ ايډيشن). (ع. شيدفر, & ع. شاهرضائی, ژباړونکي) تهران: دالفک.

نامی, ح. (۱۳۹۴). رياضيات مهندسی (۲۰ ايډيشن). تهران: مدرسان شريف.

Brown, J., & Churchill, R. (2009). COMPLEX VARIABLES AND APPLICATIONS (8 ed.). Library of Congress Cataloging-in-Publication Data.

Greg, R. (2019). Residue Theorems and their applications. California: California State University, Monterey Bay.

Jeremy, O. (2024, 1 2). blog.libretexts.org/. Retrieved from libretexts: https://blog.libretexts.org/

Krantz, S. (2019). Complex Variables: A Physical Approach With Applications and MatLab Tutorials (2 ed.). New York: Chapman and Hall/CRC.

OSBORNE, A. (1999). Complex Variables and their Applications. NEW YORK: ADDISON WESLEY LONCMAN.

Saminathan, P., & Silverman , H. (2006). Complex Variables with Applications. Berlin: Birkhauser Boston.

Spiegel, M., Schiller, J., Lipschutz, , S., & Spellman, D. (2009). Schaum's outline of Complex Variables (2 ed.). New York: McGraw-Hill.

Sumit, N., & Sanjay Kumar, P. (2020). Block-2 Applications of Analytic Functions. New Delhi: Indira Gandhi National Open University.

# Application of residue theorem in calculating definite real integrals

Hayatullah saeed1★, Sidiqullah qasemi 2
Email address: saeed.hayatullah46@gmail.com

## Abstract

In this article, the methods of calculating real integrals, which may be difficult or even impossible to calculate with the classical methods of integral calculus, have been investigated. The calculation of these types of integrals is done using the Residue theorem known as Cauchy's Residue theorem. The Residue theorem not only opens a closed path in this regard, but can make the calculation of such integrals much easier than before. This article specifically explains how to use the Cauchy's Residue theorem in calculating definite integrals, trigonometric integrals, and improper integrals encountered in real analysis and applied mathematics. Sometimes it is not easy to calculate the integral of rational functions, trigonometric functions and logarithmic functions using the Residue theorem, in this case we use other methods such as trigonometric inequality and branch cutting.

**Key words:** residue theorem, integral inequality, residue, definite real integrals

# په افغانستان کې د انرژي نوې کېدونکې سرچینې

رحمت الله لیوال
فزیک څانګه، ښوونې روزنې پوهنځی، پکتیکا لوړو زده کړو موسسه
د مسؤل ایمیل آدرس: rahmat.lewal1990@gmail.com

## لنډیز

د معاصر افغانستان یوه عمده ستونزه د انرژي کموالی دی د انرژي د دې ستونزې حل کول د افغانستان لپاره یو له مهمو ننګونو څخه ده، ځکه چې د افغانستان د انرژي او اوبو وزارت د اټکلونو پر بنسټ په (۲۰۲۳) میلادي کال کې یوازې ۴۰ سلنه افغانانو برېښنا ته لاسرسی درلود. افغانستان د ډېرو سکرو، خامو تیلو او طبیعي ګازو پراخې زیرمې لري. مخکې له دې چې دا سرچینې په بشپړه توګه وکارول شي، دا فرصت رامنځته کوي، چې د انرژي د بدیلو سرچینو پراختیا او د هغو په منځ کې، د نوې کېدونکې سرچینې نوم واخلو.
افغانستان د نړۍ له بې وزلو هېوادونو څخه دی. وروسته د څو لسیزو جګړو له امله یې په ټولیز ډول اقتصادي ماتې خوړلې ده اوپه ساده ډول ویلای شو هیواد ویجاړ شوی دی. په ورته وخت کې افغانستان د نوې کېدونکې انرژي سرچینو کې یو ستر مقام لري د افغانستان د برېښنا ډېره برخه د مناسبو شرایطو په درلودلو سره کولای شي د دې سرچینو پر بنسټ وي. تر ټولو څرګند د اوبو برېښنا ده بل، په افغانستان کې د انرژي احتمالي سرچینې کېدای شي د ځمکې لاندې تودوخه وي. تودو اوبو چینې، لمریزې انرژي د اوبو انرژي او باد د یادولو وړ مسلې دي، دلته به ددې برخې کارکوونکې زده کړي چې څنګه د اوبو او لمریزې برېښنا فابریکې ساتل کېږي. په دې توګه په مناسبو شرایطو کې، د افغانستان د تجدید کېدونکې انرژي زیرمو ته لاسرسِ کېدای شي، نو بناٌ یه دې لیکنه کې مو د انرژي ټولې نوې کیدونکې سرچینې واضح او تشریح کړي دي چې کیدای شي د نوې کېدونکې انرژي ټولې سرچینې ممکن په راتلونکې کې اساس وي.

**کلیدي کلمې** – افغانستان؛ د نوې کېدونکې انرژي سرچینې؛ د اوبو برېښنا؛ ځمکې لاندې تودو اوبو چینې، لمریزه انرژي او د باد انرژي.

## سریزه

الحمدلله الـذي علم باالقلم علم الانسان مالم یعلم والصلات والسلام علی خاتم النبین و علی اله و اصحابه اجمعین. اما بعد

دا چې فزیک د نننۍ عصري نړۍ د پرمختګ یوه ډېره مهمه برخه ده، چې په اوسني وخت کې یې د پرمختګ او څېړنې لپاره ډېرې ساحې ځانګړې شوې دي. نړۍ د ضرورت وړ انرژي د پوره کولو لپاره د هستوي توکو او د طبیعي سرچینوو څخه کار اخلي او ډېر وسایل یې د انرژي، طبابت، صنعت، اقتصاد، زراعت، فوځي او داسې نورو برخو کې اماده کړي دي. اوس د نړۍ پوهان په دې خبره بوخت دي، چې د بشریت د پیشرفت او سوکالۍ لپاره د هستوي او نوې کېدونکې سرچینو په پایله کې رهبري شوې انرژي لاسته راوړي.

د فزیک ځانګې مینوالو لپاره مو په دې مقاله کې د( نوې کېدونکې انرژي ارزښت، د انرژي نوې کېدونکې سرچېنې سره له ټولو مشخصاتو) موضوعات ځای پر ځای کړي دي. د موضوعاتو د ښه توضیح په موخه مو شکلونه او ګرافونه هم ځای پر ځای کړي دي. دا چې په ګران هیواد افغانستان کې په دې اړه زیات کار او زیار ته اړتیا ده ، له دې امله اړینه ده، چې د نوې کېدونکې انرژي په برخه کې کار وشي او د رهبري شوې هستوي او نوې کېدونکو سرچینوو څخه د انرژي د تولید په مټ د هیواد د انرژي برخه پیاوړې اوغني کړو.

نوې کېدونکې انرژي هغه انرژي ده چې د نوې کېدونکو سرچېنو څخه را ټولیږي، دا سرچېنې په کائیناتو او طبیعت کې شتون لري او یا په طبیعي ډول بیا را پیدا کېږي لکه د لمر وړانګې، باد، باران، د اوبو څپې، د ځمکې د عمق تودوخه، اوبو تودې چېنې، بیوګاز ، نباتي تیل، ایتانول، هایدروجن او نور .

د نوې کېدونکې انرژي سرچینې په څلورو مهمو ساحو کې انرژي برابروي : د برېښنا تولید، د اوبو او هوا ګرمول / یخول، انتقالات او ترانسپورتیشن، عمومي شبکو او د شبکو څخه جلا کلیوالي سیمو ته انرژي او برېښنا برابرول.

د نوې کېدونکې انرژي سرچینو د ټول بشریت د انرژي د مصرف ۱۹،۳ سلنه برخه اماده کوي، په دې کې ۲۴،۵ سلنه د برېښنا تولید دي د انرژي دا تولید ۸،۹ سلنه د عنعنوي عضوي کتلو ۴،۲ سلنه د تودوخې انرژي ( د عضوي کتلو، د ځمکې او لمر تو دوخه۳،۹ سلنه د اوبو برېښنا او ۲،۲ سلنه د باد، لمر، جیوترمال او عضوي کتلو برېښنا ده، د نوې کېدونکې انرژي د سرچینوو امتیاز دادي چې په ټولو جغرافیوي سیمو کې شتون لري په داسې حال کې چې د انرژي نورې سرچینو په ځینو او خاصو جغرافیوي مناطقو کې شتون لري نوې کېد ونکې انرژي د سرچینوو ژر او چټکه

په کار اچونه او موثریت د ا نرژی د امنیت د اقلیم د بدلون د کمښت او اقتصادي ګټو سبب ګر ځیدلی دي، د نوې کېدونکې انرژي د سرچینوو په کار اچونه د چاپیریال د ناپاکې او د اب او هوا د ناپاکې د زیا تیدو مخنیوي کړیدي. نوې کېدونکې انرژی ته پا که انرژي یا شنه انرژي هم ویل کېږي (Raeisi, 2019).

مواد او کړنلاره

د څېړنې کړنلاره

کتابتوني تحقیق دی، چې د ترتیبولو لپاره د بیلابیلو داخلي او خارجي کتابونو څخه پوره استفاده شوې ده او همدارنګه د باوري انترنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ورپکې هم کار اخیستل شوی دی او زیار ویستل شوی، چې د موضوع اړوند علمي معلومات راټول او ترتیب شي.

د نوې کېدونکې انرژي د سر چېنو ډلوونه

د نوې کېدونکې انرژي سرچینې په لاندې ډولونو باندې ویشل شوې دي چې لاندې پرې بحث شوی دی.

## ۱- د باد انرژي

د باد انرژي د نوې کېدونکې ا نرژي د ډولونو څخه په یوه ډول کې حسابیږي، د ځمکې د اتموسفیر غیر متوازنه تودوخه او یخني د باد سبب ګرځي، همدا رنګه د ځمکې دوران او نور جیولوجیکي فکتورونه د باد سبب ګرځي، د باد جریان د بادي توربینو پواسطه راګرځول کېږي او په برېښنا بدلیږي، په اوس وخت کې د بادي کوچنیو ژرندو څخه د اوبو د پمپولو د پاره کار اخیستل کېږي، زیات خدماتي مؤسسات د بادي تولیدي سیستمونو څخه د کارو بار د پاره کار اخلي، د باد جلا توربینونه د شته برېښنایي تدارکاتو د تکمیل د پاره کار اخلي، او د باد خدماتي فارمونه د خرڅلاو د پاره برېښنا تولیدوي (Qasimi Abdul Baser, 2022).

د باد جریان د بادي کنستیو، بادي ژرندو او د برېښنا د تولید د پاره د بادي جنراتورونو د چلولو د پاره په کار اچول کېږي او سني بادي توربینونه د (۶۰۰) کېلو وا ټه څخه تر (۵) میګا واټه تولیدي قدرت لري، د صنعت او تولید د پاره هغه بادي توربینونه چې (۱،۵ ) څخه تر (۳ ) میګا ه واټه تولیدي قدرت ولري په کار اچول کېږي، تر ټولو قوي توربین چې( ۷،۵ ) میګا واټه تولیدي قدرت لري په بحر کې درول شوېدی، په هره اندازه چې د باد سرعت زیات او ثابت وي په هغه اندازه د بادي جنراتور تولیدي قدرت زیات او ثابت وي. د بادي توربینونو د فارمونو د پاره ساحلي سېمې او سمندر مناسب دي. په ( ۲۰۱۵ ) کال کې بادي انرژي د ټولې نړۍ د اړتیا وړ۴ سلنه

برېښنا تولید کړې ده. د افغانستان په پنجشیر او بدخشان کې د (G,E,Z) لخوا بادي امتحاني جنراتورونه نصب شوي دي، کومې مسئولې اداري د دې توربنو د کار او نتایجو څخه د پام وړ استفاده نه ده کړې. ځېنې خصوصي متشبثین کوچني بادي توربینونه جوړوي خو؛ د دې کار د پراختیا او دوام ملاتړ ورسره نشته. نن ورځ نورو هېوادونو لکه هالنډ، جرمني، بریتانیا، ایټالیا او هند هم په دې برخه کې ملي او ځانګړي پروګرامونه پیل کړي دي، چې له مخې یې جرمني هڅه کوي تر(۱۸۰۰۰ ) میګاواټه زیاته برېښنا په تولیدولو سره له دغې نوې کېدونکې انرژۍ څخه ډېره ګټه پورته کړي (Waseq, 2020).


انځور(۱): بادي جنراتور

## ۲- د اوبو انرژي

د رودونو او دریابونو د اوبو حرکي انرژي په مختلفو ډولونو را ګرځول کېږي ترڅو برېښنا تولید کړي، ډېر معمولي ډول یې د اوبو د ډېمونو او ذخیرو جوړول دي، چې اوبه پر توربینو جریان پیدا کوي او برېښنا تولیدوي.

د اوبو په زور توربینونه په حرکت راځي، ژرندي په کار لویږي، د اوبو د بخار په زور برېښنا تولیدیږي، په (۲۰۱۵) م کال کې د اوبو په زور د نړۍ د ټولې برېښنا ۱۶،۶ سلنه تولید شوې ده چې دا دنوې کېدونکې انرژۍ په وا سطه د برېښنا د تولید ۷۰ سلنه تشکېلوي(Jahangiri Mehdi, 2019).

افغانستان د خپلو اوبو پر مټ د (۲۳۰۰۰) میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري. افغان دولت د سیمې او ګاونډ له هېوادونو څخه د برېښنا د لا زیاتو بندونو د جوړولو په برخه کې د مرستې ترلاسه کولو هڅه کوي. د دغه هېواد یو شمېر د اوبو بندونه چې د برېښنا د تولید وړتیا لري د (۱۹۵۰) مې لسیزې څخه تر (۱۹۷۰) مې لسیزې پورې جوړ شوي، چې په دغو کې د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې د کجکي بند او د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د نغلو بند هم شامل دي. د کجکي بند د ( ۱۵۱) میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې د هلمند او کندهار ولایت برېښنا تامینوي. د کمال خان د برېښنا بند بیا د نیمروز ولایت برېښنا تامینوي (Akporhonor, 2023).

د نغلو د بند برېښنا کابل، لغمان او ننګرهار ولایتونو ته رسیږي. د کندز ولایت اوسېدونکي د

نهرګاوکوش بند له برېښنا ګټه کوي او بدخشان بیا په فیض آباد ولسوالۍ کې د شورابک د برېښنا له بند سره وصل دی.

د سلما د برېښنا بند (د افغانستان او هند د دوستۍ بند) د هرات ولایت د وګړو لپاره (۴۲) میګاواټه برېښنا تولیدوي. ورته مهال یو شمېر نور بندونه هم د هېواد په بېلابېلو نورو برخو کې جوړ شوي، څو د برېښنا په برخه کې د خلکو لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي (Ahady, 2020).

جدول (۱): په افغانستان کې سیندونو پر بنسټ د اوبو برېښنا ظرفیت

| پټانشیل (MW) | سیند | زون |
|---|---|---|
| 408 | کابل | کابل |
| 400 | پنجشیر | |
| 44 | لغمان | |
| 1089 | کنړ | |
| 9050 | پنج | |
| 9110 | امو | پنج-امو |
| 1927 | کوکچه | |
| 50 | کندز | |
| 460 | جوزجان | شمالي |
| 300 | بلخ | |
| 102 | هریرود | هري روډ- مرغاب |
| 100 | مرغاب | |
| 190 | هلمند | هلمند |
| 80 | فراه رود | |
| 23310 | | مجموعه |

په مرکزي ولایتونو کې د کوچنیو ښارونو وګړي بیا د ځان لپاره د اوبو د زیرمو او د برېښنا د تولید په موخه د کوچنیو بندونو جوړولو ته دوام ورکوي. په دې وروستیو کې یو شمېر چینایي پانګوالو لیوالتیا ښوولې څو د دغو پروژو په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي.



انځور(۲): د سلما بند

په افغانستان کې د برېښنا ډېره برخه د اوبو د توربینو څخه په لاس راځي همداشان د اوبو د ژرندو پر ځای د برېښنا کوچنی توربینونه په کار لویدلی دي، ښه نتیجه یې ورکړې ده خو؛ په دې باب د دولتي پالیسي او د ملاتړ د پروګرام نه شتون ددې سبب ګرځیدلی دي چې د برېښنا په تولید کې د کوچنی توربینو سهم ډېر لږ وي (Ahady, 2020).



انځور(۳) : د بند او توربین جوړښت

## ۳- د لمر د وړانګو انرژي

لمر چې قطر یې تقریبا ($۱,۳۹×۱۰^{٦}$) کېلو مترو ته رسیږي د ځمکې څخه یي واټن په منځنۍ توګه($۱,۴۹×۱۰^{۸}$ ) کېلومتره دی، د لمر کُره چې په عمومي توګه د هایدروجن څخه جوړه شوې ده، یو ډېر غټ هسته ای طبیعی ریاکټور دی چې د ورځې یې د هستې څخه ۳۵۰ ملیارده ټنه کتله د هستوي تعاملاتو په نتیجه کې په انرژي بدلېږي. د لمر باندنۍ طبقه چې د هغه څخه انرژي خپرېږي د تودوخې درجه یې( ۵۷٦۲ ) کالوینه ته رسیږي، پداسی حال کې چې دداخلي برخې انرژي یې د($۸×۱۰^{٦}$ ) څخه تر($۴۰×۱۰^{٦}$ ) کالوین درجو پورې اټکل شوېده. د لمر څخه خپره شوې انرژي($۳,۸×۱۰^{۲۳}$) کېلو واټه ته رسیږي. ددې کچې څخه یې یوازې یوه لږه برخه چې د$۱,۷(x)۱۰^{۱۴}$ کېلو واټو سره برابریږي ځمکې ته رسیږي. نژدې (۳۴ ) سلنه انرژي یې په مستقیمه توګه د ځمکې سره د وړانګو په لګیدلو سره بیرته فضا ته منعکسه کېږي، نژدې ۴۲ سلنه انرژي یې د ځمکې سطحې ته په رسیدلو سره په دریابونو او وچو کې په تودوخه بدلیږي او ۲۴ سلنه انرژي یې په ځمکه کې د اوبو د بخار کېدلو ، بادونو، بارانونو، فتوسنتیز، بحري جریانونو او موجونو د منځته راتلو سبب کېږي. د ځمکې د سطحې څخه د باندې د سپوږمکېو په واسطه د لمر د انرژي په اندازه کولو سره د لمر انرژي (۱۳۵۳ ) واټونو ته په متر مربع کې رسیږي. چې د ځمکې د اتموسفیر څخه په تیریدلو سره په هوا کې د ګازاتو، د اوبو بخارونو او په هوا کې د موجودو ذرو له کبله یې یوه اندازه انرژي ضایع کېږي او کله چې ځمکې ته رسیږي په متر مربع کې یې اندازه (۱۰۰۰) واټه ته رسیږي. په ځمکه کې د لمر د انرژي ډېروالی په جغرافیوي موقعیت، د بحر د سطحې څخه په لوړوالي، د کال په څلورو فصلونو، د ځمکې په مختلفو ساعتونو او په صافې هوا پورې اړه لري. د سرته رسېدلو څېړنو له مخې په کال کې په اوسطه توګه د لمر د وړانګو انرژي پر یوې افقي سطحې په متر مربع کې( ۳۰۰) واټو ته رسیږي. په افغانستان

کې د لمر انرژي په متر مربع کې د(۲۵۰) واټه څخه تر(۳۰۰) واټو پورې رسیږي، په داسې حال کې چې په جرمني کې دا کچه(۱۱۰) واټه ده چې په کال کې په منځنۍ توګه په ورځ کې (۲,٦) کیلو واټ ساعته کیږي ((۲۰۱),Raeisi H. A.).



انځور(۴): لمریزې وړانګې

## ۴- جیوترمال انرژي یا د ځمکې تودوخه:

د ځمکې تودوخه د ځمکې د داخل د حرارت څخه لاس ته راځي، د ځمکې تودوخه کولای شو چې د ځمکې د سطحې د تودوخې یا د ځمکې د ژورو ډبرو په څنګ کې د تودو اوبو څخه په لاس را وړو.

په لوړه درجه د ځمکې د تودوخې انرژي د حرارتي انرژي څخه تولیدیږي او په ځمکه کې سا تل کیږي. د ځمکې د هستې او مرکز د حرارت درجه د ځمکې د سطحې سره فرق لري. په (٦۴۰۰) کیلو متره کې د ځمکې د حرارت درجه زیاته وي د ځمکې د هستې د مرکز د حرارت درجه (۵۰۰۰) سانتي ګراده ته رسیږي، دا حرارت د نیږدې ډبرو د لارې دځمکې لوړو برخو ته انتقا لیږي. د حرارت لوړه درجه او زیات فشار ددې سبب کیږي چې ډبرې د مګما په شکل ویلې او زوب شي، دا زوب شوي مواد تر ډبرو سپک دي، په خپل مسیر کې ډبرې او اوبه تر(۳۷۱) سا نتي ګرادو پورې تودوي، د اوبو تودو چینو د حرارتي انرژي څخه د اوبو د تودولو او ځایونو د ګرمولو د پاره کار اخیستل کیږي(2019, Jahangiri Mehdi).




انځور(۵): د ځمکې لاندې انرژي

## ۵- بیوګاز یا بیولوژیکي انرژي

نن ورځ په ډېرې هیوادونو کې بیوغاز د سون د مادې په حیث د پخلي اوروښنایي لپاره ښه ځای پیدا کړی دی، بیوغاز سوځیدونکی غاز دی چې ٦۰ سلنه د میتانو ،۴۰ سلنه د کاربن دای اکساید

د ترکیب څخه جوړ شوی دی. کله چې ارګانیک مواد لکه د حیواناتو او انسانانو فضله مواد یا نباتات د میکروبیولوژیکې عملیو په واسطه په یوه تړلي چاپیریال کې د (۳۰) تر (۴۰) یا( ۵۰) تر( ٦۰) درجو د سا نتي ګراد لاندې تجزیه شي نو؛ ددې تړلي چاپیریال یا کولاب د تل څخه غاز پورته کېږي، دغه غاز د نلونو دلارې د پخلي او روښنا یي ځایونو ته انتقالیږي. (Waseq, 2020)
بیوانرژي د نوې کېدونکې ا نرژي یو بل ډول دی چې د بیولوژیکې کتلو څخه مشتق کېږي، تودوخه او برېښنا تولیدوي یا مایع تیل لکه اېتا نول او بیوډیزل چې په ترانسپورت کې کار ځنې اخیستل کېږي. بیولوژیکې کتلې په ژوندي موجوداتو پورې اړه لري چې د ژوندیو نباتاتو او حیواناتو څخه په لاس راځي. که څه هم چې بیولوژیکي انرژي په هم هغه اندازه کاربن ډای اکساید تولیدوي لکه فوسیلي تیل خو؛ ددې نباتاتو وده او په بیولوژیکي کتلو باندې د هغوي بدلېدل د اتوموسفیر څخه په هم هغه اندازه کاربن ډای اکساید جذبوي، په دې خاطر یې چا پیریالي تاثیرات بې خطره دي. د بیولوژیکې کتلو د مستقیمې سوځونې څخه نیولې د میتان د غاز تر لاسته راوړنې پورې چې د ارګا نیکو موادو د تجزیې څخه په لاس راځي ډ یر سیستمونه شته چې په کار اچونه یې برېښنا تولیدیږي. (Raeisi, 2019)
بیوانرژي له بیولوژیکي کتلې، بیولوژیکې غازاتو او بیولوژیکي تیلو څخه لا سته راځي، بیولوژیکي کتلې عبارت دي له بیولوژیکي موادو څخه چې د ژوندي موجوداتو یا ژوندي ارګانیزمو څخه مشتق کېږي، بیولوژیکي کتلې کولاي شي چې په مستقیم ډول د حرارت د تولید د پاره په کار واچول شي، یا په غیر مستقیم ډول سره د بیولوژیکي تیلو د تولید د پاره په کار واچول شي، د بیولوژیکي کتلو څخه د تېلو په لاس را وړل په څو میتودو و تر سره کېږي؛ حرا رتي، کېمیا وي او بیولوژیکي ـ کېمیاوي. بیولوژیکي او عضوي کتلې په نورو انرژیکې سرچینوو د بدلیدو قا بلیت لری لکه : د میتان غاز، یا د ترانسپورت د پاره په تیلو لکه ایتانول یا بیوډیزل. د اشپزخانو، انسانانو، حیواناتو او زراعتی فا ضله مواد همدارنګه دفن سوي زبالی میتان غاز را باسی. بیولوژیکې تیل ډېر پراخ استعمال لري، د بیولوژیکي کتلو څخه مشتق کېږي، تر دې اصطلاح لاندې سخت، مایع او غازي تیل را ځي. (Mohammad, 2021)




انځور(٦) : د بیوګاز د تولید دستګاه

## ۶. د انرژي ذخیره کول

د انـرژي ذخیـره کـول د هغـو میتودونـو د مجموعـې څخـه عبـارت دي چـې برېښـنایي انـرژي پـه برېښـنایي شـبکو کـې سـاتي. برېښـنایي انـرژي او تودوخـه پـه هغـه وختونـو کـې سـاتل کېـږي چـې تولیـد تـر مصـرف زیـات شـي، یـا د تولیـد پـه وخـت کـې ا ړتیـا ورتـه نـه وي او پـه هغـه وخـت کـې بیرتـه شـبکې تـه ور کـول کېـږي چـې تولیـد تـر مصـرف کـم شـي یـا ا ړ تیـاوي ورتـه زیاتـه وي. (Raeisi, 2019)




انځور(۷): د انرژي د ذخیره کولو تخنیک

## پایله

پـه اوس وخـت کـې د نـوې کېدونکـې انـرژي د سـرچینوو څخـه د کار اخیسـتنې وضعیـت پـه خپـل سـر، ګـډوډ، بـې کیفیتـه او بـې دوامـه، د تجارانـو پـه ګټـه او عامـو خلکـو او چـا پیریـال پـه زیـان پـر مـخ روان دی. د هغـو غیـر دولتـي مؤسسـو او نړیوالـې ټولنـې مرسـتې چـې د نـوې کېدونکـې انـرژي څخـه د کار اخیسـتنې د تجاربـو او تخنیـک پـه انتقـال کـې شـوېدي لـږ او پـه اغلبـو مـواردو کـې د کار د دوام او سـاتنې تدابیـر نـه دي نیـول شـوي، دا دسـتګاوې او تخنیـک د کاره لویدلـي دي.

کـه مـوږ افغانـان غـواړو چـې د اقلیـم د خرابیـدو پـه مخنیـوي کـې داسـې رول ادا کـړو چـې د اقلیـم د خرابیـدو لـه کبلـه طبیعـې افـات او حـوادث لـږ کـړو، د فقـر سـره مبـارزه وکـړو، د خپـل اوسـنې او راتلونکـې نسـل ژونـد وژغـورو، بایـد حکومـت تـر فشـار لانـدې راولـو تـر څـو نـور وخـت ضایـع نـه کـړي، د نـوې کېدونکـې انـرژي د سـرچینوو څخـه د کار اخیسـتنې پـا لیسـي د عملـي کولـو د پـاره یـې سـتراتیژي د تقنینـی اسـنادو پـه دول تصویـب کـړي، ترڅـو پـه دې سـاحه کـې قوانیـن پـاس شـي چـې ددې پـه مرسـته دا سـکتور ملاتـړ ترلاسـه کـړي .

د ACEP دننه، امریکایانو د انجنیري پوهنځي د یوې برخې په توګه، په کابل پوهنتون کې د نوې کېدونکې انرژي لابراتوار (KURE لابراتوار) په جوړولو کې مهم رول لوبولی دي. د KURE لابراتوار د انجینرانو لپاره د نوې کېدونکې انرژي روزنې، څېړنې، اجزاو ازموینې او ارزونې لپاره د څو اړخیزو تاسیساتو په توګه تاکل شوي.

له بلې خوا، د چین هیواد د نوې کېدونکې انرژي د سرچېنو د کارولو په اړه په پانګونه او روزنه کې ښکېل دی. اوس د نوې کېدونکې انرژي د ټکنالوژۍ د لومړني روزنیز مرکز بنسټ ایښودل شوی دی. دلته به ددې برخې کارکوونکې زده کړي چې څنګه د اوبو او لمریزې برېښنا فابریکې ساتل کېږي. په دې توګه په مناسبو شرایطو کې، د افغانستان د تجدید کېدونکې انرژي زیرمو ته لاسرسی کېدای شي، لکه څنګه چې د ګرین فیوچر مدیر مارتین رایټ لیکلي دي، افغانستان به " نوې کېدونکې انرژي له مخې د جنت حیثیت ولري.

## اخځلیکونه


Abdullah, F. (2017, December 28). The renewable energy sector in Afghanistan: Policy and potential. The renewable energy sector in Afghanistan, Pp. 8-9.

Ahady, S. D. (2020). 2. AhadAn overview of the opportunities and challenges in sustaining the energy industry in Afghanistan. E3S Web (P. 173 ). Afghanistan: E3S Web.

Akporhonor, G. K. (2023, June 10). WIND ENERGY ASSESSMENT. DATA RETRIEVAL, PERIODICITY, AND TIME SERIES, Pp. 44-46.

Jahangiri Mehdi, H. i. ( 2019, january 12). Assessment of solar-wind power plants in Afghanistan. A solar-wind power plants in Afghanistan, Pp. 169-171.

Mohammad, A. C. (2021, June 22). Research and Investigate of Renewable Energy in Afghanistan. enewable Energy in Afghanistan, Pp. 2-5.

Qasimi Abdul Baser, I. V. (2022, 09 27). • Qasimi Abdul Baser, Is A REVIEW OF SUSTAINABLE AND RENEWABLE SOURCES OF ENERGY FOR AFGHANISTAN. RENEWABLE SOURCES OF ENERGY FOR AFGHANISTAN, Pp. 5-7.

Raeisi, H. A. (2019). Assessment of solar-wind power plants in Afghanistan. A review Renewable and Sustainable Energy Reviews, 75.

Waseq, W. M. (2020, 08 28). The impact of air pollution on human health and Environment with mitigation Measures to reduce Air Pollution in Kabul Afghanistan. 11.

Waseq, W. M. (2020). The impact of air pollution on human health and Environment reduce Air Pollution in Kabul Afghanistan, Pp. 2-4.

# Renewable Resources of Energy in Afghanistan

Teaching assistant Rahmatullah Liwal
Physic Department, Education Faculty, Paktika Higher Education Institute

## Abstracts

One of the main problems of contemporary Afghanistan is lack of energy. Solving this energy problem is one of the most important challenges for Afghanistan, because according to the estimates of the Ministry of Energy and Water of Afghanistan, in (2023) only 40 percent of Afghans had access to electricity.

Afghanistan has vast reserves of coal, crude oil and natural gas. Before these sources are fully utilized, it creates an opportunity to develop alternative sources of energy and among them, renewable sources.

Afghanistan is one of the poorest countries in the world. After several decades of war, it has suffered a total economic defeat and simply said, the country has been destroyed. At the same time, Afghanistan has a great position in renewable energy sources, most of Afghanistan's electricity can be based on these sources if the conditions are right.

Hot water wells, solar energy, water energy and wind are important issues, here the workers of this section will learn how to maintain water and solar power plants. In this way, under suitable conditions, Afghanistan's renewable energy resources can be accessed, so in this article, we have clarified and explained all the renewable energy sources that may be possible in the future. be based on.

**Keywords** – Afghanistan; renewable energy sources; hydropower; Underground hot springs, solar energy and wind energy.

# د قرآن او ساینس په رڼا کې د انساني جنین د تکامل څېړنه

پوهنمل محمد عزیزخان امیرزی★۱، پوهنیارسلطان محمد احمد۲
پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه/ د ښوونې او روزنې پوهنځي بیولوژي څانګه
ایمل : aziz.amirzai72@gmail

## لنډیز

د جنین د ودې موده د حمل له مرحلې څخه د جنین د زیږون پورې مرحله ده. په دې موده کې په مور او جنین کې ډېر بدلونونه او پېښې واقع کیږي، د انسان د ژوند دغه مرحله کې د هغه د وجود تر ټولو پراسراره مرحله ده او د ساینس او ټیکنالوژۍ له هڅو سره سره، بیا هم د هغې ډېری مسایل لا هم ناڅرګند دي. دا په داسې حال کې ده چې قرآن کریم سل کاله مخکې له هر ډول اسانتیاوو څخه په استفادې او په معجزه توګه دغه پړاوونه تشریح کړي دي. د انسان د ودې د پروسې په اړه بېلابېل مواد چې د مور په ګېډه کې له پیدا کېدو څخه تر هغه وخته پورې چې د ژوند لپاره پیدا کېږي، په قرآن کې ذکر شوي دي. په دې قضیو کې د جنین د پروسې توضیحات او د مور په رحم کې د جنین وده شامله ده. په ځینو مواردو کې قرآن د نباتاتو، حیواناتو او انسانانو د ودې او بدلونونو څخه کار اخلي ترڅو په دې بهیرونو کې سیستم او الهي پلان ته اشاره وکړي. قرآن کریم په مکرر ډول د نورو مخلوقاتو لکه: حیواناتو، نباتاتو او نورو ژوندیو موجوداتو د پیدایښت یادونه کړې ده. په دې حوالو کې په طبیعت کې د تخلیقي او تکامل پروسې توضیحات شامل دي چې په پایله کې مخلوقات رامنځته کېږي. د دې څېړنې موخه د قرآن او ساینس له نظره دامبریولوژي علم تحلیل دی، چې قرآن کریم د انسان پیدایښت ته په اوو مرحلو کې اشاره کړې ده. له کتابتوني ډول او توضیحي میتود څخه په دې څېړنه کې استفاده شوې ده.

**کلیدي کلیمې –** جنین، سپرم، جامده وینه، غوښینه ټوټه، کامل انسان

## سریزه

الله(ج) په قرآن کریم کې د طبیعت او د هغه د مخلوقاتو رازونه څرګند کړي، چې خورا حیرانونکي دي. د قران کریم اعجاز ته که ځیر شو نو د ساینس او طبیعي پېښو په اړه په قرآن کریم کې ګڼ آیتونه موجود دي . یو یې په رحم کې د انسان د پیدایښت په اړه دی. دا مسایل د قران کریم په مبارکو سورتونو سورة الطارق: ٦، سجده: ٨، انسان: ٢، عبس: ١٩-٢٠، البقره: ٢٢٣، سورة القیامة: ٣٧. نون: ١٢-١٤، حج: ۵، او الرعد: ٨، ایاتونوکې ذکر شوي دي. که څه هم قرآن کریم د انسان په رحم کې د پیدایښت یادونه په (٧ مه) پیړۍ کې کړې وه، مګر د دې آیتونو ساینسي مفهوم یوازې په شلمه پیړۍ کې د علمي تحقیقاتو پر مټ روښانه شو. د دې آیتونو په صحیح تفسیر کې اوږده ځنډ اصلاً د ناسم تعبیر او د علمي پوهې د نشتوالي له امله دی. ساینس او ټکنالوژي په رحم کې د انسان د پیدایښت په اړه قرآني متن هدف او مفهوم تحلیل کولای شي. مګر کله چې قرآن نازل شو، د یو حجروي ژوندي موجودات لکه سپرماتوزیت حجره (نارینه ګیمیټ حجره) او د هګۍ حجره (د ښځینه ګیمټ حجره)،زیګوټ، مورولا، بلاستوسایت، او جنین نامعلوم وو، نو د دې تشریح په اړه د قران کریم متن لا تر اوسه اټکل دی. د انسان امبریولوژي په رحم کې د انسان د پیدایښت په اړه د قرآن کریم د متن په تحلیل کې د کارولو لپاره خورا مناسبه ده ځکه چې دا د انسان د ژوند پیل او په رحم کې د بدلونونو په اړه پوهه رامینځته کوي. د امیندوارۍ په جریان کې او له زیږون وروسته د امیندواره میرمنو (مور) او جنین اناتومیکي او فیزولوژیکي بدلونونه مطالعه کوي(Husairi ،۲۰۱۹).

## موخې

۱ . د قران او ساینس له نظره به د انساني جنین د تکامل په اړه پوه ترلاسه کړو.

## د څېړنې پوښتنې

۱.ایا د قران کریم او ساینس له نظره د انسان د خلقت په اړه معلومات لرئ ؟

## د موضوع ارزښت

د دې لپاره چې د انسان ژوند د قران او ساینس له نظره مطالعه کړو نو لازمه ده، چې د انسان د ژوند پیل او په رحم کې د بدلونونو په اړه پوهه تر لاسه کړو ترڅو د امیندوارۍ په جریان او د زیږون وروسته د امیندوارۍ میرمنو (مور) او جنېن اناتومیکي او فزولوژیکي بدلونونه په اړه معلومات ولرو.

# مواد او کړنلاره

## الف. کړنلاره

نوموړې څېړنه چې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې ترسره شوې ده، د هارډ کتابونو سربېره د بهرنیو نړېوالو ساینسي لوړو سایټو د عصري مقالو څخه په سافټ ډول ګټه اخستل شوې ده چې تر ډېره بریده کتابتوني ده.

## ب. مواد

هغه مواد چې استفاده ترې کېږي په څېړنه کې ورڅخه یادونه شوې ده .

## د انسان خلقت د قران کریم او ساینس له نظره

(وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِن سُلاَلَة مِّن طِين) (ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَار مَّكِين) (ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَاالْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًاآخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَا) (شاکری و همکاران، ۱۳۹۷).ژباړه: (مونږ انسان له سوچه خټې څخه جوړکړ. بیا مو هغه په محفوظ ځای کې د اوبو یو څاڅکی وګرځاوه. بیا مو هغه څاڅکي ته د ویني د یوې ټوټې بڼه ورکړه. بیا مو د وینې ټوټه بوټۍ غوښه وګرځوله، بیا مو بوټۍ غوښه هډوکی جوړ کړ، بیا مو هډوکي ته غوښه ور واغوستله، بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړکړ، یعنې ژوندی مو کړ، نو خورا زیات برکت ناک دی الله (ج) تر ټولو کاریګرو څخه ښه کاریګر او صورت جوړونکی او صورت ترونکی دی. دانسان انکشاف اوتکامل یوه اوږده پروسه ده کله چې د نارینه سپرم د ښځې له اووم سره یوځای شي اوتخمه القاح شي د القاح څخه وروسته یوه نوې حجره مینځته راځي چې د زایګوټ( zygote) په نوم یادیږي. د دغه زایګوټ د نمو او تجزیې(ویشلو) په نتیجه کې په کثیرالحجروي حجراتو چې وروسته په یو کامل انسان بد لیږي (هدف، ۱۳۹۰ ). هر ماشوم د خپل ژوند لمړنۍ نهه میاشتې یا (۲٦٦ - ۲۸۸) ورځې یا (۳٦- ۴۰ ) هفتې دخپل مور په رحم یا ( Womb) کې تېروي. په دغه موده کې هغه له یو واحد جوړښت (زایګوټ) څخه په یو داسې موجود باندې انکشاف کوي کوم چې د بیلونونو حجراتولرونکی وي په دغه موده کې انساج اوغړي تشکیل کیږي او په دې توګه دوظیفې د ترسره کولو وړتیا پیدا کوي. د دغو تغیراتو ډېره برخه د داخل رحمي ژوند په اولو دوو میاشتوکې پېښیږي په دغو دوو میاشتوکې تشکیل شوي موجود ته امبریو ویل کیږي. او دې دغې مودې په پای کې تشکیل شوی موجود د انسان شکل ځان ته غوره کوي. داخلي رحمي ژوند د دریمې میاشتې د لومړۍ ورځې څخه تر زېږون پورې تشکیل شوي موجود ته جنین ( Fatus) ویل کیږي. (صدیقي،۱۳۹۵)

## د انسان د جوړښت لومړی پړاو

الله (ج) فرمایی: ( وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِن سُلاَلَةٍ مِّن طِينٍ ) المؤمنون سورت ۱۲ آیت شریف ژباړه:(ا مونږ انسان له سوچه خټې څخه جوړکړ) د لومړي پړاو په هکله د تفسیر پو هانو نظر د انسان اصل پېداېښت له سوچه خټې څخه دی او خټه د خاورې او اوبو مجموعه ده. جمهورو مفسرینو د سلآله من طین څخه هم د انسان نطفه مراد دی ځکه چې دغه له خوراک څخه پیداکیږي. (ابراهیمی او همکاران، ۱۳۹۱).

## د لومړي پړاو په هکله د ساینس پوهانو نظر

دوه ویشت عناصر د انسان د بدن په جوړښت او تر کیب کې برخه لري. کله چې هایدروجن اوکسیجن سره تعامل وکړي چې په نتیجه کې اوبه جوړه وي. دانسان بدن (۷۰) سلنه له اوبوڅخه تشکیل شوی ده. په انساني جسم کې وچ خاورین عناصر شل ښودل شوي دي. کلورین (Cl )، سلفر (S )، فاسفورس(P)، مګنیزیم (Mg)، کلسیم (Ca )، پوټاشیم(K )، سوډیم (Na ) او نور دغه اووه عناصر د بدن په سلو کې له شپیتو څخه تر اتیا پورې برخه تشکیلوي (قایدی و همکاران، ۱۴۰۲).

## دوهم پړاؤ

(ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ( دالمؤمنون سورت( ۱۳ آیت ) ژباړه : (دلته له نطفې نه مراد د نر او ښځې یو ځای شوې اوبه (مني) دي.

## دوهم پړاو په هکله د ساینس پوهانو نظر

د تخم تو لید د لومړي ځل لپاره په۱٦٦۷ م ، کال کې د آلمان په انتزیک پوهنتون کې د یو متعلم له لخوا کشف کړای شو او د سپرماتو زوئید نوم ورته ورکړل شو. امبریولوژي پوهانو ویلي دي کله چې یوبالغ نارینه له بالغې ښځې سره جماع وکړي په یو ځل انزال سره له (۲۰۰ــ۳۰۰) ملیونو سپرماتوزواوو له جملې څخه چې د منوي مایع په ترکیب کې د مهبل په جوف کې غورځول کیږي، یوسپرماتوزوا یوه هګۍ القاح کوي. په نتیجه کې نوی ژوندی موجود منځته راځي، چې په طبي اصطلاح کې ورته زایګوټ ( Zygote ) ویل کېږي اوپاتې نور د تیزابي محیط اویا نورو عواملو په وسیله له منځه ځي(یما، ۱۳۹۵).

## دریم پړاو

د انسان د پیدایښت دریم پړاو علقه ده ( ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً(سورت المؤمنون (۱۴) علقه یوه ټوټه وینه ده چې له نطفې څخه یې بدلون موندلی دی. (البار، ۱۳۹۵).

## دریم پړاوپه هکله دساینس پوهانونظر

په دویمه اونۍ کې زایګوټ (Zygote) د مارولا (Marula) چې څمکني توت ته ورته وي. د حجراتو دغه کتله د رحم په دا خلي جدار پورې ونښلي بیا په دغه کتله کې سطحیه حجرات منځ ته راشي او هغه په ډېره لږه موده کې په اسطوانیه حجراتو او بیا هغه په مغزیه حجراتو بدلولی شي چې په طبي اصطلاح کې ورته (Trophy Blast) ټروپي بلاسټ ویلی کیږي، چې دغه حجرات ځان ته د غذایي موادو جوهر جذبوي. په دې توګه د دویمې اونۍ په موده کې د مغزي حجراتو په ذریعه د حجراتو کتله په علق سره بدلیږي. (Ghaly ,۲۰۱۴).

## څلورم پړاو

د وینې دغه ترلې وړه ټوټه وده کوي او په یوې ژوول شوې ټوټې غوښې بدلیږي، چې قران کریم ورته مضغې نوم ورکړی دی. جنین د مضغې په مرحله کې د دریو سانتي متره په اندازه اوږدوالی لري چې د مخ او پوزې نښې په هغه کې د ډېرو نریو خطونو په بڼه جوړیږي. (فخلقنا العلقة مضغه ) ژباړه : بیا مو د وینې پرنده ټوټه د غوښې ټوټه وګرځوله
بل ځای کې الله(ج) فرمایلي دي : (ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ (ژباړه :( بیا مو تاسې د غوښې له تام الخلقة او ناقص الخلقة بوټې څخه پیدا کړی، څو تاسې ته ستاسې د خلقت په دغو پړاو سره د خپل بشپړ قدرت او حکمت یوه کوچنۍ نمونه بیان کړو (البار، ۱۳۹۵).

## څلورم پړاو په هکله د ساینس پوهانو نظر

په دریمه اونۍ کې له علق څخه د مضغیه حجرات چې په طبي اصطلاح کې (Embryo Blast) امبریو بلاسټ ویلی کیږي چې درې نرې نرې پوړونه یعنې پاڼې لري یعنې د غوښې دغه بوټۍ له درې پاڼو څخه متشکله وي. یوه خارجي پاڼه چې په طبي اصطلاح کې ورته Ectoderm)) ایکتودرم ویل کېږي. دویمه داخلي پاڼه ده، چې په طبي اصطلاح کې (Endoderm) ایندو درم نومېږي. د دغو دواړو پاڼو تر منځ دریمه او منځنۍ پاڼه وي چې په طبي اصطلاح کې ( Mesoderm ) میزو درم ورته ویلی کیږي. دغه تخلیقي پړاو د څلورمې اونۍ تر پای پورې دوام لري او په دغه موده کې د جنین د بدن نه کوم اندام ځانګړی او نه فرق لرونکی او نه کوم

جهاز، بلکه د غوښې د بوټۍ پورتنۍ درې پاڼې الله تعالی داسې جوړوي، چې هره یوه یې د بدن د یوې غټې برخې د اندامونو د جوړولو جوګه و ګرځیږي (قایدی او همکاران، ۱۴۰۲).

## پنځم پړاؤ

دا ټوټه غوښه (مضغه) د الله (ج) په قدرت خپل پرمختګ او بدلون ته دوام ورکوي تر څو په هډوکي بدل شي (فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا) المؤمنون سورت (۱۴)آیت ژباړه: (بیا مونږ دغه د غوښې بوټۍ) غضروف (هډوکی وګرځوله)

## پنځم پړاوپه هکله دساینس پوهانونظر

کله چې د غضروف په هډوکو د بدلولو پروسه پیل شي، نو دوه ډوله حجرات کار کوي یو ډول یې هډوکي تولید وي چې(Osteoblast) استیوبلاسټ ورته ویل کېږي او دویم ډول حجرات چې هډوکی ماتوي او دغه ډول حجراتو ته په طبي اصطلاح کې(Osteoclast) اوستیوکلاسټ ویل شوي دي. کله چې د هډوکو کوشیر غلط جوړ شي دغه حجرات ایستیوکلاسټ یې بیرته مات کړي او هغه تولیدوونکي حجرات ایستیوبلاسټ یې بیا له سره جوړوي تر دې چې هغه سم په منظم ډول سره کوشیر شي. دغه د ماتیدو او جوړیدو پروسه تر دولسمې اونۍ پورې جاري وي له دولسمې اونۍ څخه وروسته د الله تعالی په حکم سره د هډوکو کالبوت بشپړ شي او جسمي بڼه ورکړای شي. (اکبري و زهرا، ۱۳۹۷)

## شپږم پړاؤ

چې الله تعالی ورته ( فکسونا العظام لحما ) مرحله ویلې ده یعنې پر هډوکو باندې د غوښې د هوارولو مرحله ده. دا چې د هډوکو حجرات د عضلي حجراتو څخه توپیر لري او د هډوکو حجرات د عضلي حجراتو څخه مخکې راځي،نو ځکه د هډوکي حجرات د بشپړیدو مخکې جوړیږي چې دغه حقیقت ۱۴۰۰ کاله مخکې ثابت او تائید شوی دی (بشیر، ۱۳۹۱).

## شپږم پړاوپه هکله د ساینس پوهانو نظر

دا پړاو وروسته له هغه وخت څخه پیل کیږي چې د هډوکو په تکمیل کړای شوي جسم کې پلې او رګونه وغځولی شي بیا نو لومړی پر هډوکو باندې خورا نری پوست هوار او پیدا کړای شي، په هغه پسې د غوښې هوارولو مرحله پیل شي او کله چې غوښه هواره کړای شي نو بیا ور پسې پریړ پوست چې دوه طبقې لري یوه داخلي طبقه (ادمه) او بله خارجي طبقه ( بشره ) ده

پـرې واغوسـتلی شـي چـې پـه دې توګـه د بـدن غوښـه د دوو پوسـتکو تـر منـځ راوسـتلی کیـږي. طبي امبریولـوژي څېړونکـو ویلـي دي چـې تـر شپاړسـمې اونـۍ پـورې پـر هډوکـو بانـدې د غوښـې هوارولـو مرحلـه بشـپړېږي.(عمدی، ۱۳۹۸).

## اووم پړاو

وروسـتی پـړاو د جنیـن د صـورت د بشـپړېدو او روح د پـو کولـو پـړاو دی، چـې پـه دې ایت کـې ورتـه د (حلقـا اخـر) یـا بـل محلـوق نـوم ورکـړل شـوی دی. اللـه تعالـی پـه بـل ایـات کـې ددې پـړاو پـه هکلـه داسـې فرمایـي: (هُـوَ الّـذِي يُصَوِّرُكُـمْ فِـی الْاَرْحَـامِ كَيْـفَ يَشَـاءُ) [ال عمـران] یعنـې اللـه تعـال هغـه ذات دی چـې د مینـدو پـه رحمونـو کـې تاسـې تـه د خپلـې خوښـې صورتونـه درکـړې دي.

)ثُـمَّ أَنشَـأْنَاهُ خَلْقًاآخَـرَ فَتَبَـارَكَ اللَّـهُ أَحْسَـنُ الْخَالِقِيـنَ) سـورت المؤمـن ۱۴آیـت. ژبـاړه :( بیـا مـود مـور پـه ګېـډه کـې هغـه تـه د تخلیـق بلـه بڼـه ورکـړه یعنـي روح مـو ورکـړ نـو اللـه تعالـی خـورا برکتنـاک ذات دی، د خلقـت او پیـدا کولـو لـه حیثـه لـه ټولـو صـورت جوړونکـو څخـه بـې سیاله ښـه صـورت جوړوونکـی دی.

(ثُـمَّ سَـوَّاهُ وَنَفَـخَ فِيـهِ مِـن رُّوحِـهِ وَجَعَـلَ لَكُـمُ السَّـمْعَ وَالأَبْصَـارَ وَالأَفْئِدَةَ قَلِيـلاً مَّـا تَشْـكُرُونَ (۹)سـورت السـجده ۹ آیـت ژبـاړه :(بیـا یـې دې دغه انسـان د مور په ګېډه کې جسـمي قالب جوړ او بشـپړ کړ او روح یـې پـه کـې واچولـو او تاسـې ته یـې غوږونـه، سترګې او زړونه درکړل خو له دې هر څه سره سره بیا هم لـه تاسـې څخـه ډېر لږ داسـې وګـړي دي چې اللـه تعالی شـکر کوونکي وي). رسـول اکـرم (ص) فرمایلي دي څلويښـت ورځـې د مـور پـه ګېـډه کـې نطفـه وي، بیا څلويښـت ورځې علقـه وي، بیا څلويښـت ورځې مضغـه وي. بیـا اللـه تعالی پرښـته ورته را ولیږي او هغه په کې روح واچوي او پرښـتې تـه حکم وکړي چې د دغـه ماشـوم پـه هکلـه څلور امـور ولیکئ: په دنیا کـې دې د روزي، د عمـر، د عمل او دا چـې دا به نیک وي او کـه بـد) دا حدیث بخاري او مسلم روایت کړی دی .

( وَنُقِرُّفِـي الأَرْحَـامِ مَـا نَشَـاءُ إِلَـى أَجَـلٍ مُّسَـمًّى ثُـمَّ نُخْرِجُكُـمْ طِفْلاً))سـورت الحـج ۵ آیـت ژبـاړه: او مونـږ یـې د مینـدو پـه ذیلانځـو کـې روغ رمټ او ثابت پریـږدو تـر ټاکلـې نیټې پـورې هغـه شـی چـې مونـږ یـې د ثابـت پریښـودلو اراده اوفرمایـو، بیـا مونـږ تاسـې د مینـدو لـه ګېـډو څخـه د طفولیـت او کوچنـي والـي پـه حالـت کـې راوباسـو یعنـي د زیږنـدې پـه حالـت کـې مـو ور څخـه را بهـر کـوو( ثـم السـبیل یسـره ). سـورت عبـس ۲۰آیـت ژباړه:(بیـا اللـه تعالـی د ماشـوم بهـر تـه د راوتـو او زیږنـدې لاره آسـانه کـړه او هغـه یـې پـه آسـانتیا سره پیـدا کـړ) پـه دې مرحلـه کـې د جنیـن د غـړو د جوړښـت عملیـه دوام لـري او هـره ورځ او هـر سـاعت پـه هغـه کـې بدلـون راځـي او پـه دقیقـه او منظمـه توګـه

وده کوي.څرنګه چې د رسول اکرم (ص) احاديث د قران عظيم الشان د ايتونو تفسير کوی، نو په ځينو احاديثو کې د انسان د حلقت مراحل داسې شرحه شوي دي په هغه حديث کې چې امام مسلم (رحمه الله) روايت کړی دی په هغه کې رسول اکرم (ص) داسې فرمايی: (اِذَ مَرَّ بِالنُّطفَةِ ثِنَتانِ وَأَرْبَعُونَ لَيْلَةَ بَعثَ اللّهُ اِلَيهاً مَلَکاً فَصُورَهاَ وَ خَلَقَ سَمْعَهاَ وَبَصَرهاَ وَجَلِهَا وَلحْمَهَا وَعِظَامَهَا ، ثُمَ قَالَ: يَا رَبّ، أَذْکَر أَمْ أُنْثِی؟ فَيَقْضِی رَبّکَ مَا شاء وَيَکْتُبُ الْمَلَکْ ) ژباړه: کله چې د نطفې د عمر څخه ۴۲ شپې تېرې شي الله تعالی ورته فرښته رواليږي، تر څو د هغه صورت جوړ کړي او د هغه اوريدنه، کتنه، پوستکی، غوښه او هډوکی جوړ کړي، وروسته بيا فرښته د الله (ج) څخه پوښتنه کوي، چې جنين هلک دی که جينۍ؟ نو الله (ج) پريکړه کوي چې څه يې غوښتي وي فرښتې هغه ليکي (رحماني او همکاران،۱۳۹۲).

## اووم پړاوپه هکله دساينس پوهانو نظر

د معاصر طب د اناټومي ځانګې اطباوو د خپلو تجربو او څېړنو په نتيجه کې ويلي دي چې له شپاړسمې هفتې څخه وروسته ماشوم ژوندی کيږي، د لاسونو او پښو د ګوتو نوکان په اوولسمه هفته کې جوړولی شي او وده کوي، د بدن د وزن په غټ والي او اوږدوالي کې يې ورځ په ورځ زيات والی پيدا کيږي او تقريباً تر نهمې مياشتې پورې عادي او معياري وزن تر ( ۳۰۰۰ ) درې زره ګرام پورې وي او طول يې پنځوس (۵۰ ) سانتي متر پورې وي او کله نا کله د ماشوم وزن درې زره دوه سوه پنځوس(۳۲۵۰ ) ګرام ته هم رسيږي. د څلورمې مياشتې له پوره کېدو وروسته لومړی د الله تعالی په کامل قدرت او حکم سره زړه حرکت کوي او په خپل فعاليت پيل کوي. د مصر يوې ډاکټرې چې فلک الجعفري نوميږي ويلي دي چې د مصر د طبي استادانو له جملې څخه يوه استاد پريکړه وکړه، چې په لابراتواري وسايلو سره د مور په ګېډه کې د ماشوم د زړه لومړی حرکت او ټکان ثبت او تسجيل کړي. ټيپ اوکيسټ يې ورته عيار کړل او کله چې هماغه شيبه راغله او د ماشوم زړه لومړی حرکت او ضربان وکړ او د ټيپ ستن د زړه له حرکت سره سمه په حرکت راغله، استاد وويل هناالله يعنې هنا قدرت الله – يعنې دغه د زړه حرکت او ټکان د الله تعالی په کامله قدرت سره دی، د انسان له وس او ځواک څخه بهر دی او دغه معجزانه خلقت، وده او په دې کې روح د ننه کول او بيا له ټولو بدني اندامونو څخه لومړی زړه په حرکت راوستل او د زړه نبضونه فعالول يوازې او يوازې د مطلق قادر ذات الله تعالی حکم دی (رحماني او همکاران، ۱۳۹۲).

امبريولوژي څېړونکو د جنين د اوومې مرحلې په هکله داسې ويلي دي له القاح څخه (۲۶۶)

ورځې یا(۳۸) هفتې له پوره کیدو څخه وروسته چې نهه میاشتې لس ورځې کیږي د مور په ګیډه کې له پوره کیدو وروسته په طبیعي توګه ماشوم پیدا کیږي او د زېږندې نیټه یې راځي. د دغې نیټې په وروستۍ ورځ یا شپه کې د ذیلانځ خوله پرانستل کیږي او بندیږي څکه که په یو ځل خلاصه شي نو د هغو درې واړه پردو د شلیدلو او ماشوم د هلاکت ویره ده چې ماشوم نهه میاشتې او لس ورځې ور په کې محفوظ و؛ نو دغه تقلصات له بهر دنیا سره د ماشوم لپاره د مقاومت او استعداد او عادي کیدو لپاره وي. له همدې امله د رحم دغه تقلصات یعنې بندېدل او خلاصېدل په ترتیب سره وي لومړی لږ لږ او بیا تدریجاً ډیریږي او د ماشوم مور ته سخت دردونه پیدا کیږي تر دې چې وروستی خلاصوالی طولاني وي، په دغه وروستي خلاصیدو کې هغه هورمون چې په امینو سي کې موجود دی په شدت سره ماشوم بهر ته ټیل وهي او خارجوي یې او یو بل هورمون دی. چې پرو جسترون ورته ویلی شي په ماشوم پسې مشیمه پرده چې په پښتو کې پریوان نومېږي هغه په شدت سره بهر کوي (صدیقي، ۱۳۹۰)

## پایله

د قرآن په آیتونو کې د انسان پیدایښت له دوو اړخونو څخه ګڼل شوی دی: یو یې مادي اړخ دی په دې معنی، چې د انسان پیدایښت اصل خاوره یا خټه ګڼي او په دې بیان سره عناصرو ته هم وایي چې د هغه د وجود مادییت د مادي تخلیق سمبولیک اړخ ته اشاره کوي. کوم چې د جنین د جوړولو مرحلې په قرآن کریم کې ذکر شوي دي، دوهم د هغه معنوي اړخ دی، چې قرآن کریم کې یې هم ذکر شوی دی، چې خدای(ج) له بشپړېدو وروسته مادي تخلیق یو بل تخلیق رامینځته کوي، کوم چې په انسان کې د الهی روح تنفس کول دي. د انسان ترتیب په دوه اړخونو بشپړ شوی دی، مادي او معنوي اړخ. که معنوي اړخ ته یې ځیر شو کله چې زایګوټ جوړ شو په درېیمه ورځ زایګوټ د۱٦ حجرو درلودونکی وي د مارولا په نوم یادیږي له مارولا څخه وروسته دګسترولېشن دعملیې په نتیجه کې دوه صفحوي رشمې ډسک په درې صفحوي رشمې ډسک تبدیلیږي. له هغه څخه وروسته غضروف په هډوکو بدلولو پروسه پیل کېږي همدغه د هډوکو جوړېدو اوماتېدو پروسه ددولسمې اونۍ تر پایه دوام کوي بیا پر هډوکو باندي د غوښې او تر شپاړسمې اونۍ پورې دوام کوي، له شپاړسمې اونۍ وروسته ماشوم ژوندی کېږي نارمل وزن یې (۳۰۰۰) ګرامه اوطول یې (۵۰) سانتي متره وي. له( ۲٦٦ ) ورځوله پوره کېدوڅخه وروسته چې نهه میاشتې لس ورځې اویا( ۳۸ ) اونۍ کېږي د مور په ګېډه کې له پوره کېدو څخه وروسته په طبعي توګه ماشوم پیداکیږي.

## اخځلیکونه


۱. ابراهیمي او فاضل. (۱۳۹۱).نگاهي نو به پدیدهي جنین شناسي در تفسیر علمي آیات قرآن فصلنامه اندیشه دیني دانشگاه شیراز صفحات. ۷۵-۹۶.

۲. اکبری و زهرا .(۱۳۹۷) مؤثر عوامل و رشد مراحل بررسی بر قبل انسان جنین رشد از تولد مجله پیشرفت های نوین علوم رفتاری، شماره سوم دوره بیست نهم ماه اسفند ۱۳۹۷، صفحات ۶۴-۹۴.

۳. البار، محمدعلي.(۱۳۹۵) ه ق ، خلق الانسان بین الطب والقرآن ،الدارالسعودیه للنشروالتوزیع.

۴. ۵۴- رحماني، محمدبن اسماعیل ، ۱۳۹۲ بخاري، صحیح البخاري .

۵. زماني، عبدالرحمن (۱۳۸۸). اوسنۍ روغیتا یې ستونزې داسلامي فقې په رڼاکې. کالیفورنیا،امرکامتحده ایالات، اسلامي فقې اداره،

۶. هدف، عنایت الله. ۱۳۹۰ (تفسیر شریف صنف ۱۱) د تعلیمي نصاب، دښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست.

۷. شاکری و همکاران(۱۳۹۷). بررسی مراحل تکوین جنین در منابع دینی و طب ایرانی و نقش قوا در رشد و نمو جنینی دوره شش شماره۲ صفحه۲۰-۳۰.

۸. صدیقی، یما. ۱۳۹۵ . (طبي امبریولوژی ) مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.

۹. صدیقي، شاه فیصل،طه ، امیرنواز، خیرکثیر، تفسیر القرآن العظیم (څلورم اوشپږم جلد) فیصل کتب خانه پشاور.

۱۰. صدیقي،بری.(۱۳۹۰). عمومي امبریولوژي،عنایت خپرندویه ټولنه.

۱۱. عمیدي، فردین. ( ۱۳۹۸ ). کتاب جنین شناسي پزشکي لانگمن (شومیز) علوم پزشکی تهران.

۱۲. کامران قایدی، اسکندري و خداشناس (۱۴۰۲). بررسی تطبیقی مراحل امبریوزنز تکامل جنین ازدیدگاه قران و علم جنین شناسی مقاله پزوهشهای جانوری جلد ۳۶ (۳-۱۱).

۱۳. نورمل، بشیر (۱۳۹۱ ه ش)،امبریولوژي عمومي انسان، مطبعه شهر کابل افغانستان، پوهنتون طبی کابل.

14. Ghaly, M. (2014) Human Embrology in the hsalamic tradition. islamic and socity (157208)

15. Husairi, A. (2019, October). Embryology in the qur'an and hadith:expanded multidisiplinary perspective. In Third International Conference on Sustainable Innovation Humanity, Education and Social Sciences (IcoSIHESS 2019) (pp. 459-

463). Atlantis Press.

# Research on the evolution of the human embryo in the light of Quran and science

*1 Teaching assistant Mohammad Aziz Khan Amirzai, 2Teaching Assistant Sultan Mohammad Ahmad.

1, 2. Biology Department, Education Faculty, Paktika Higher Education Institute.

## Abstrac

The period of fetal development is the stage from the stage of conception to the birth of the fetus. During this period, many changes and events occur in the mother and the fetus. This stage of human life is the most mysterious stage of its existence and despite the efforts of science and technology, many of its issues are still unknown. are unclear. This is while the Holy Quran has explained these stages miraculously using all kinds of facilities a hundred years ago. Various materials about the process of human development, from birth in the mother's womb to the time when it is born for life, have been mentioned in the Qur'an. These cases include descriptions of the embryo process and the development of the fetus in the mother's womb. In some cases, the Qur'an uses the growth and changes of plants, animals and humans to indicate the system and divine plan in these processes. The Creation of Other Creatures the Qur'an has repeatedly mentioned the creation of other creatures such as: animals, plants and other living beings. These references include descriptions of the creative and evolutionary processes in nature that result in creation. The purpose of this study is to analyze the science of embryology from the perspective of the Quran and science. The Holy Quran has indicated the creation of man in seven stages. In this research, more than the library method has been used.

**Keywords:** Salalah, sperm, Make a decision, Relationship, weak, the end of the circle

# په بکتریاوو کې د حرکت څېړنه

پوهنیارفضل معبود عادل★۱، پوهنیار زاهدالله ذهین۲
★۱ بیولوژي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، سید جمال الدین افغاني پوهنتون
بیولوژي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، شیخ ذاید پوهنتون ۲
ایمیل آدرس: Adilhussain1366@gmail.com

## لنډیز

څرنګه چې بکتریا د ژوندیو موجوداتو لویه برخه جوړوي نو؛ اړینه ده چې د نورو ژوندیو موجوداتو ژوندنیزو څانګړنو ته ورته حرکت وکړي. نوموړې څېړنه هم په بکتریاوو کې د حرکت څېړنه په خپل ترکیب کې رانغاړي چې بنسټیزې موخې یې د بکتریا د حرکت څېړنه جوړوي. د څېړنې بنه کتابتوني ده چې د چاپ کتابونو سربېره د معتبرو عصري مقالو څخه په ګټې اخېستلو سره ترسره شوې ده. د څېړنې پایله دا ښیي چې په بکتریاوو کې حرکت په ډول ډول مېتودونو لکه: فلاجیل، لامبو وهل، سرکوندۍ وهل، لړزېدل، ګروپي حرکت، انقباضي حرکت، چټک حرکت او آرام حرکت په بڼه ترسره کېږي او سربېره پر دې د دغو حرکتونو له منځه یو ډول یې فلاجیلي حرکت دی. همدارنګه دا پایله هم په لاس راځي چې په بکتریاوو کې فلاجیل د موقعیت له مخې مختلف ځایونه لري چې د اترایش، مونوترایش، لوپوتریش، امپي تریش، پیري تریش او امپي لوپو تریش په بڼه شتون لري او د پېژندنې له پاره یې د مختلفو مایکروسکوپي او رنګولو مېتودونو څخه ګټه اخېستل کېږي.

**کلیدي کلمې:** بکتریا، فلاجیل، مونوترایش، لوپوترایش، امپي ترایش، پیري ترایش، امپي لوپوترایش.

## سریزه

معلومه ده چې د بکتریا په جوړښتونو کې یو هم فلاجیل دی چې د هغې په بهرنۍ برخه کې موجود وي. د بکتریاوو پر بهرنۍ برخه د فلاجیل موقعیت ټاکلو بشپړ عوامل لا تراوسه په لاس کې نشته خو هر کله چې دغه جوړښت د بکتریایي حجرې پر بهرنۍ برخه کې تظاهر وکړي، هغه مهال یې موقعیت ټاکل کېږي. د جوړښت له پلوه د فلاجیل په جوړښت کې د نورو ترکیبي موادو بر علاوه اساسي ماده فلاژیلین شتون لري. د فلاجیل د کتنې له پاره د ډول، ډول مېتودونو څخه کار اخېستل کېږي.

د جنتيکي څېړنو په پايله کې داسې نتايج لاسته راغلي چې د فلاجيل په جوړښت کې له (۴۰) پورته جنتيکي مواد برخه لري او همدرانګه څېړنې ښيي چې د فلاجيل په جوړښت کې له(۵۰) ور اخوا مختلف جينونه موجوديت لري او د هغې په فعاليت او بايوسنتيز کې ونډه اخلي. (اعتمادی فر، ۱۳۹۵)

لکه څرنګه چې حرکت د بکترياوو د عمده ځانګړنو څخه ګڼل کېږي او د فلاجيل سره نېغه اړيکه لري. د څېړنو پر بنسټ د بکترياوو د حرکتونو څخه يو ډول حرکت هم فلاجيلي حرکت دی او د يو، دوه او څو فلاجيلونو په وسيله ترسره کېږي. دا چې د بکترياوو په بهرنۍ برخه کې د فلاجيلونو تعدد متفاوت وي نو؛ په دې اساس د هغوی حرکت هم يو له بله سره توپير کوي. د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د دې څېړنې په تر سره کولو کې له معتبرو او لومړي لاس اخځليکونو څخه ګټه اخېستل کېږي او د څېړنې د معاصرو مېتودونو سره سم تري کار اخېستل کېږي. همدارنګه د دې موضوع په تړاو د هر اړخيزو علمي لويو، منځنيو او کوچنيو سرليکونو څخه د بيولوژي او په ځانګړې توګه د مايکروبيولوژي د علم په ډګر کې ګټه اخېستل کېږي چې دا يې اړتيا ده. د زراعت، په ډګر کې هم اړينه موضوع ده او اړتيا ورته ليدل کېږي. د داسې يوې موضوع څېړنه نن ورځ ځکه بنسټيز ارزښت لري چې د بکترياوو د حرکت ارزښت په اړه د مسلک مينه والو ته معلومات ورکړل شي.

## موخې

۱ . په بکترياوو کې د حرکت پر ډولونو هر اړخيز اکاډميک بحث کول.

۲. په بکترياوو کې د فلاجيل جوړښت  پېژندل.

۳. د بکترياوو د فلاجيل د رنګولو او کتنې له پاره علمي تګلارو باندې رڼا اچول.

## د څېړنې پوښتنې

۱ . په بکترياوو کې حرکت د نورو ژونديو اجسامو سره کوم توپير لري؟

۲. په بکترياوو کې حرکت په کومو ډولونو ترسره کېږي؟

۳. د فلاجيل د رنګه ونې او پېژندنې د پاره له کومو مېتودونو څخه کار اخېستل کېږي؟

## د موضوع ارزښت

ښکاره ده چې بکتريا د ژونديو موجوداتو له منځه يوه لويه نړۍ ده او دغه ژوندي موجودات د خپل ژوند د دوام له پاره پر نورو ټولو ځانګړنو سربېره د حرکت کولو ځانګړنه لري چې دا حرکت

د ډول، ډول جوړښتونو او په ځانګړې توګه حرکت د فلاجیل په وسیله ترسره کېږي. دا چې حرکت او فلاجیل د بکتریاوو په ژوند او حرکت کې څه ارزښت لري څېړو.

## کړنلاره، وسایل او مواد

### الف. کړنلاره:

نوموړې څېړنه چې په سیدجمال الدین افغاني پوهنتون کې ترسره شوې ده، د هارډ کتابونو سربېره د بهرنیو نړیوالو ساینسي لوړو، منل شویو او معتبرو انټرنیټي سایټونو د عصري مقالو څخه په سافټ ډول ګټه پورته شوې ده چې تر ډېره بریده کتابتوني ده.

### د بکتریاوو حرکت

په بکتریاوو کې حرکت یو له هغه ځانګړنو څخه دی چې له یو ځای څخه بل ځای ته د بکتریاوو د انتقال سبب ګرځي، ددې لپاره چې لازمو او د اړتیا وړ شرایطو ته ځان ورسوي، بکتریاوې دحرکت لپاره د ډول- ډول لارو څخه کار اخلي، هینریکسن(Henrichsen) بکتریاوې د حرکت له مخې په لاندې برخو وېشلې دي




چې په پورته ګراف کې راوړل شوي دي. (Chun) athere and, 2020

اړینه ده، چې د بکتریاوو ضمایم او حرکت باندې لږ څه رڼا واچوو.(Nan او ۲۰۱٦ ،Zusman)

## فلاجیل او حرکت

ډېری متحرکې بکتریاوې د فلاجیل څخه په ګټې اخېستلو سره حرکت کوي. فلاجېل یو تار ډوله راوتلی جوړښت دی چې د بکتریاوو په بهرنۍ سطحه شتون لري او د سایتوپلازمیکې پردې څخه سرچینه اخلي. فلاجیل په بکټریاوو کې په سوارمینګ حرکت کې اړین او مهم رول لوبوي. سربېره پر دې د ناروغۍ په تولید او نورو ځیزونو پورې په پیوستون کې مهم رول ترسره کولای شي. فلاجېل پیلي ته ورته والی لري، خو د کار او اندازې له مخې د هغې څخه توپیر لري. فلاجیل یو اوږد جوړښت دی چې (۲۰) نانو متره قطر او (۱۵ــــ۲۰) میلی متره اوږدوالی لري. همدارنګه فلاجېل یو نری جوړښت لري، چې د تیاره مایکروسکوپ په واسطه هم نه شو کولای هغه وګورو نو اړینه ده، چې د فلاجېل د کتلو لپاره یوازې د الکټرانیک مایکروسکوپ څخه کار واخلو.(۱-جدول)( اعتمادي فر، ۱۳۹۵).

## لامبو وهل(Swimming)

د لامبو له لارې حرکت کول په بکتریاوو کې د نورو ټولو حرکتونو په نسبت ډېر لیدل کېږي. په بکتریاوو کې دا ډول حرکت لپاره د فلاجیل شتون اړین دی، چې وکولای شي په اساني سره اوبو کې حرکت وکړي. د حرکت اندازه کېدلای شي چې په یوه دقیقه کې (۲۰۰- ۱۰۰۰) دور پورې وي. نوموړی حرکت کېدلای شي د ساعت د عقربې پر خلاف او یا هم د ساعت د عقربې په لورې وي او مختلفې پایلې ولري. لکه: هر کله چې حرکت د ساعت د عقربې مخالف لورې ته وي نو؛ بکتریاوې مخ پر وړاندې حرکت کوي او که د ساعت د عقربې پر لورې حرکت وکړي نو بکتریاوې شاه لورې ته حرکت کوي(Kearns, 2010).

## سرکونډې وهل(Gliding Motility)

د نورو ټولو حرکتونو پر تله دا ډول حرکت په بکتریاوو کې ډېر ورو دی. نوموړی حرکت په بسیلوس بکتریاوو کې په روښانه ډول لیدل کیږي او فلاجیل ته اړتیا نه لري. د یادونې وړ ده چې په دا ډول حرکت کې جامدې سطحې ته اړتیا وي تر څو بکتریاوې د همدې سطحې سره په اړیکه کې وي او اړینه ده، چې د بکتریاوو ضمایم او حرکت باندې لړ څه رڼا واچوو.(Nan او Zusman، ۲۰۱۶)

(۱ـ جدول) په لاندې جدول کې د بکټریایي حجرو د حرکت په اړه تشریحات ورکړل شوي دي.

| د حرکت ډول | د حرکت چټکتیا µm/min | د حرکت عامل | ټولنیز حرکت | انفرادي حرکت |
|---|---|---|---|---|
| Swarming ګروپي حرکت | ۲۰-۷۵ | فلاجیل | + | |
| لامبو وهل Swimming | ۵۰ | فلاجیل | | + |
| Gliding لړزېدل | ۳.۵-۱۵ | حجروي فعالیت | + | |
| انقباضي حرکت Twitching | ۴-۵ | حجروي فعالیت یا پیلي | | + |
| آرام حرکت Sliding | ۲-۱۰ | په کالونیو کې د مرکزڅخه تښتېدونکې قوه | + | |
| چټک حرکت Darting s | ۶ | په کالونیو کې د جذب قوه | + | |

## بکټریاوې د فلاجیل له مخې

په لاندې ډولونو وېشل شوې دي.

**A- Monotrichous:** په دې ډله کې هغه بکټریاوې شاملېږي کومې چې په یو سر کې یو فلاجیل لري. لکه: (Diphtheria bacilli and Lactobacillus)

**B- Lpphotrichous:** هغه ډله بکټریاوې په دې برخه کې ډلبندي کیږي کومې چې په یو سر کې له یو څخه ډېر فلاجیلونه ولري. لکه: ( Salmonella Typhus).

**C- Amphitrichous:** په دې برخه کې هغه بکټریاوې شاملېږي چې د خپل جوړښت په دواړو سرونو کې یو، یو فلاجیل ولري. لکه:(Rhodospirillum rub rum) .

**D- Peritrichous:** هغه ډول بکټریا په دې ډله کې راځي چې په ټول بهرني جوړښت او ټوله سطحه فلاجیلونه ولري. لکه: (Bacillus subtitles).

**E- Amphilophotrichous:** هغه ډول بکټریاوې په دې ډله کې داخلېږي چې په دواړو سرونو کې له یو څخه ډېر فلاجیلونه موجود وي. لکه: (Alcaligenes faecalis).

**F– Atrichous:** هغه بکټریاوې په دې ډله کې شاملېږي چې په بهرنۍ سطحه کې هیڅ ډول فلاجیل شتون نه لري. لکه: (Bacillus typhus's).( کرمنشاهی او روحاکسری، ۱۳۸۹)




(۱- انځور) په پورته جدول کې بکتریاوې د فلاجیل له مخې ښودل کېږي (Aizawa, ۲۰۰۱).

## د فلاجیل سنتیز

د جنتیکي مطالعاتو پر مټ د فلاجیل پېچلی جوړښت ښودل شوی چې د (۴۰) څخه ډېر جنیتیکي محصولات د هغې په جوړښت کې ونډه لري. تر اوسه دقیقاً معلومه نه ده چې یوه حجره په څه ډول د فلاجیل له پاره محل(ځای) تنظیم او تشخیصوي. څرنګه چې وړاندې وویل شول د فلاجیل جوړونکی فلاژلین د فلاجیل د ساقې له لارې د فلاجیل د سر برخې ته انتقالیږي او سر ته له رسیدو وروسته په خپل سر تجمع کوي او د ساقې وده د سر برخه کې ترسره کیږي چې له ځانګړو عواملو او انزایمونو پرته جوړونکې اجزا یو د بل سره اتصال پیدا کوي.

فلاجیل له مخې د بکتریاوو ډېری ډولونه وجود لري خو (E.coli) او سلمونیلا د فلاجیل څېړلو له پاره د موډل په حیث کارول کېږي. په دغه دوه بکتریاوو باندې څېړنو ښودلې ده چې له (۵۰) ډېر متفاوت جینونه په کروموزوم کې شته چې د فلاجیل په فعالیتونو او بیوسنتیز کې دخالت لري. څرنګه چې جینونه د فلاجیل په جوړښت کې دخیل دي او دغه جینونه کروموزوم کې په خپاره ډول ځای لري. د (۵۰) جینونو له منځه (۳۰) جینونه د فلاجیل مختلفې برخې کوډ او جوړوي. نور جینونه د فلاژلین په تجمع کې ونډه لري او پاتې (۱۰) جینونه شیموټاکسي او چاپیریالي عواملو پر وړاندې سیګنالینګ او غبرګون کې رول لري. نوموړي (۵۰) جینونه د دغه دوه بکتریاوو تقریباً یو سلنه برخه برابروي.( کرمنشاهی او روحاکسری، ۱۳۸۹).

د فلاجیل د سنتیز پړاوونه په لاندې ګراف کې ښودل کېږي:

(Kidane and athere, 2022 )







په(-۲ انځور) فلاجيل جوړښت او د هغې برخې راوړل شوې دي چې په مختلفو پړاونو کې جوړېږي.
(Khan and Scholey, 2018)

## د فلاجیل د کتنې مېتودونه

د مختلفو مېتودونو په وسیله کولای شو د بکتریاوو فلاجیل وڅېړو چې د هغو له منځه:

- Phase Contrast Microscope
- Electron Microscope
- Dark Field Microscope

په وسیله کولای شو فلاجیل په آسانۍ سره وګورو.

د فلاجیل د کتنې او څېړلو له پاره دویمه لاره د فلاجیل رنګول دي، چې د :

- Fontana tribondeau
- Leif son
- Rhodes

## مېتودونو په وسیله ترسره کېږي.

د فلاجیل د مشاهده کولو له پاره یو بل ساده مېتود هم د مرطوب سلایډ مېتود دی چې په دې مېتود کې بکتریایي (Suspension) د سلایډ پر مخ جوړیږي او بیا د سلایډ پر مخ د ځای پر ځای شوي سسپینشن له پاسه کاور سلایډ کېږدو. که چېرې بکتریاوې د مینځلو وروسته اړخونو لور، ښکته او پورته حرکت وکړي نو ددې دلیل کېدلای شي چې بکتریاوې متحرکې دي او که چېرې ټولې بکتریاوې په یوه اړخ حرکت او خوځنده وي نو دا مانا لري چې بکتریاوې غیر متحرکې دي. پر دغه مېتودونو سربېره د بکتریاوو د حرکت کتنې له پاره یوه بله لاره د نیمه جامد کلچر څخه ګټه اخیستل دي چې په لابراتواري لوله کې دننه په نیمه جامد چاپیریال کې د خنجري کلچر په طریقه کنښت کو. که چېري بکتریاوې یوازې د خنجر وهنې د خط په لور وده وکړي د بې حرکتۍ مانا او که چېرې په ټول کلچر کې په خپاره ډوله وده وکړي نو د حرکت مانا لري. د فلاجیل د څېړنې له پاره تر ټولو نوی مېتود ایمونومایکروسکوپ دی چې د (Plasma Poly Merrization Metal) Extraction Replica په نوم یادېږي.

دا مېتود د الکتروني مایکروسکوپ او د H انټي جن ضد انټي کر په وسیله ترسره کېږي. انټي کر میکروبي سسپینشن ته اضافه کېږي او بې له ځنډه د طلا په وسیله پوښل کېږي. له هغې وروسته د هغې د پاسه یو فیلم ځای پر ځای او بیا د یو کلوئیدي حلال په وسیله پاسنۍ برخه پورته کو او فیلم د الکتروني مایکروسکوپ په وسیله څېړو(کرمنشاهی او روحاکسری، ۱۳۸۹)

## پایله

په بکتریاوو کې د فلاجیل او حرکت څېړنې څخه دا پایله ترلاسه شوه چې په بکتریاوو کې فلاجیل د دفاعي وسیلې تر څنګ د حرکي وسیلې په توګه هم کاریږي. چې د حرکت لپاره د ډول ډول طریقو او لارو څخه کار اخلي لکه: سرکونډۍ وهل، لامبو وهل، لړزېدل، انتقباضي او نور. همدارنګه څېړنو وښودله چې د فلاجیل په جوړښت کې له نورو ټولو موادو سربېره له (۵۰) ډوله ډېر متفاوت جینونه په کروموزوم کې شون لري چې د فلاجیل په فعالیتونو او بیوسنتیز کې ونډه اخلي. څرنګه چې جینونه د فلاجیل په جوړښت کې دخیل دي او دغه جینونه کروموزوم کې په خپاره ډول ځای لري. د (۵۰) جینونو له منځه (۳۰) جینونه د فلاجیل مختلفې برخې کوډ او جوړوي. (۱۰) نور جینونه د فلاژلین په تجمع کې ونډه لري او پاتې (۱۰) جینونه شیموټاکسي او چاپیریالي عواملو پر وړاندې سیګنالینګ او غبرګون کې رول لري.

## وړاندیزونه

د موضوع له تحلیل او انالایز کولو وروسته خپل وړاندیزونه په لاندې ډول خرګندوم:

۱. د فلاجیل له پېژندنې وروسته پر دې کار کول چې انټي بیوټیک پر فلاجیل کوم ډول اغېز لري.

۲. په نارغیو کې د فلاجیل پر رول څېړنې ترسره کول.

## اخځلیکونه


۱. اعتمادی فر، زهرا، ۱۳۹۵، فیزیولوژي پروکاریوت ها( ساختار و متابولیسم) دانشگاه اصفهان، چاپخانه دانشگاه اصفهان، ایران.

۲. کرمنشاهی، روحاکسری، ۱۳۸۹، ریست شناسی سلولی و مولکولی ساختار باکتری ها جلد اول، دانشگاه اصفهان، چاپخانه دانشگاه اصفهان، ایران.

3. Aizawa, S. I. (2001). Bacterial flagella and type III secretion systems. FEMS microbiology letters, 202(2), 157-164.

4. Chun, C. N. W., Tajarudin, H. A., Ismail, N., Azahari, B., Makhtar, M. M. Z., & Yan, L. K. (2020). Bacterial Flagellum versus Carbon Nanotube: A Review Article on the Potential of Bacterial Flagellum as a Sustainable and Green Substance for the Synthesis of Nanotubes. Sustainability, 13(1), 21

5. Kearns, D. B. (2010). A field guide to bacterial swarming motility. Nature Re-

views Microbiology, 8(9), 634-644.

6. Nan, B., & Zusman, D. R. (2016). Novel mechanisms power bacterial gliding motility. Molecular microbiology, 101(2), 186-193.
7. Kidane, D. T., Mehari, Y. T., Rice, F. C., Arivett, B. A., Gunderson, J. H., Farone, A. L., & Farone, M. B. (2022). The inside scoop: Comparative genomics of two intranuclear bacteria,"Candidatus Berkiella cookevillensis" and "Candidatus Berkiella aquae". Plos one, 17(12), e0278206.
8. Khan, S., & Scholey, J. M. (2018). Assembly, functions and evolution of archaella, flagella and cilia. Current Biology, 28(6), R278-R292.
9. Renault, T. T., Abraham, A. O., Bergmiller, T., Paradis, G., Rainville, S., Charpentier, E., ... & Erhardt, M. (2017). Bacterial flagella grow through an injection-diffusion mechanism. Elife, 6, e23136.
10. Wadhwa, N., & Berg, H. C. (2022). Bacterial motility: machinery and mechanisms. Nature reviews microbiology, 20(3), 161-173.

# The study of motility in bacteria

FAZAL MABOOD ADIL, ZAHID ULLAH ZAHIN
E-mail: Adilhussain1366@gmail.com
Department of Biology, Faculty of Education
Sayd Jammaluddin Afghani University

## Abstract

Since bacteria make up the majority of living organisms. Therefore, it is necessary to move to the living characteristics of other living beings. This study also includes the study of movement in bacteria in its composition, the basic purpose of which is to study the movement of bacteria. The form of the research is bibliographic, which has been done by taking advantage of printed books as well as reliable modern articles. The result of the research shows that the movement in bacteria is done in the form of various methods such as flagellation, swimming, shaking, shaking, group movement, contractile movement, rapid movement, and slow movement. It is a kind of flagella movement. Also, the result is that the flagellum in bacteria has different locations according to location, which is available in the form of Attrich, Monotrich, Lopotrich, Ampitrisch, Peritrisch, and Ampilupotrisch, and for their identification, different microscopy and Coloring methods are used.

**Keyword:** bacteria, flagella, atrich, monotrich, lopotrich, amphitricha, perithrich,, amphilupothrich

# ارجاع گروپ کاربونیل

جمعه خان "واثق"
نامزد پوهنیار، دیپارتمنت کیمیا، پوهنحی تعلیم وتربیه، موسسه تحصیلات عالی دایکندی
د مسؤل ایمیل آدرس: jumakhan.wasiq33@gmail.com

**خلاصه**

ارجـاع گـروپ کاربونیـل در تهیـه الکول هـا، الدیهایدهـا و کیتون‌هـا نقـش عمـده و نهایتاً در حیات بشـر اهمیـت خاصـی دارد، گـروپ کاربونیـل، از یـک رابطـه سـاده کاربـن و اکسـیجن و یک رابطـه π کاربن و اکسـیجن تشـکیل شـده اسـت. رابطه دوگانه کاربن و اکسـیجن گروپ های کاربونیل شـباهت فراوانی به رابطـه دوگانـه کاربـن و کاربـن الکین‌هـا دارد. رابطـه دوگانه، ماننـد رابطه دوگانـه کاربن و کاربن، شـامل یـک رابطـه سـیگما (σ) و یـک رابطه (π) بین اتوم های متصل شـده اسـت. اتوم کاربن گـروپ کاربونیل و اتـوم هـای کاربـن متصل بـه آن هم صفحه هسـتند و زاویه هـای رابطوی °۱۲۰ تشـکیل می دهنـد. رابطه هـای دوگانـه کاربـن و اکسـیجن، بـه دلیـل الکترونگاتیویتـی بودن اکسـیجن، قطبی شـده انـد. از آنجا که کاربـن کاربونیـل بـه صـورت مثبـت قطبی شـده اسـت، خاصیـت الکترون دوسـتی دارد و با هسـته دوست تعامل می‌دهد. اما، اکسـیجن کاربونیل به صورت منفی قطبی شـده اسـت و خاصیت هسـته دوسـتی (قلوی لیویـس) دارد بـه وسـیله هایدروجـن دار شـدن کتلسـتی ویـا با اسـتفاده از عوامـل ارجاع دهنـدهٔ کیمیاوی نظیـر لیتیـم المونیـم هایدرایـد، LiAlH۴ ، مـی تـوان الدیهایـد هـا را به الکول هـای نـوع اول وکیتون‌ها را بـه الکول‌هـای نـوع دوم ارجـاع نمـود. چنیـن ارجاع بـرای تهیه برخـی از الکول‌هـای که دسترسـی به آنها مشـکل تـر از ترکیبـات کاربونیـل مربوطه به آنها می‌باشـد مفید اسـت، بـه خصوص ترکیبـات کاربونیلی که می‌تواننـد از تراکـم الدولـی به دسـت آیند.

**کلمات کلیدی:** ارجاع، الدیهایدها، گروپ کاربونیل،کیتون‌ها،.

## مقدمه

ازآنجائیکه گروپ کاربونیل تشکیل دهنده الدیهایدها و کیتون‌ها است و این مرکبات عضوی در حیات بشر اهمیت خاصی دارد، اکثر وقت در رابطه به ارجاع این مرکبات به مشکل مواجه میشویم بنابراین این تحقیق را روی دست گرفتم، یک سلسله تعاملات کیمیاوی که در این نوع از مرکبات صورت می‌گیرد اهمیت زیادی را دارد. لذا من که این تحقیق را تحت نام ارجاع گروپ کاربونیل انجام داده ام و اهمیت حیاتی در اثر ارجاع آنرا ما می‌توانیم با موضوعات مانند ساختار گروپ کاربونیل، خواص گروپ کاربونیل، خواص فزیکی گروپ کاربونیل، ارجاع الدیهایدها و کیتون‌ها، ارجاع ترکیبات کاربونیل دار و ارجاع دو مالیکولی. وغیره را می‌توان مورد مطالعه قرار داد.

## بیان مسئله

گروپ کاربونیل در تشکیل الدیهایدها و کیتون‌ها، ارجاع این گروپ در تهیه الکول ها، الدیهایدها و کیتون‌ها نقش عمده و نهایتاً در حیات بشر اهمیت خاصی دارد، گروپ کاربونیل، از یک رابطه ساده کاربن – اکسیجن و یک رابطه π کاربن – اکسیجن تشکیل شده است. رابطه π از تداخل جانبی اوربیتال P کاربن SP۲ با اوربیتال P اکسیجن ایجاد می شود. پس مسئله بر این است که گروپ کاربونیل چه‌گونه تشکیل می‌گردد؟ و از ارجاع کدام مرکبات که دارنده گروپ کاربونیل است الدیهاید و کیتون حاصل می‌گردد؟

## اهمیت و ضرورت

گروپ کاربونیل، از یک رابطه ساده کاربن و اکسیجن و یک رابطه π کاربن و اکسیجن تشکیل شده است. رابطه دوگانه کاربن و اکسیجن گروپ های کاربونیل شباهت فراوانی به رابطه دوگانه کاربن و کاربن الکان ها دارد. رابطه دوگانه، مانند رابطه دوگانه کاربن و کاربن، شامل یک رابطه سیگما (σ) و یک رابطه (π) بین اتوم های متصل شده است. اتوم کاربن گروپ کاربونیل و اتوم های کاربن متصل به آن هم صفحه هستند و زاویه های رابطوی ۱۲۰°۸ تشکیل می دهند. ارجاع این گروپ در تهیه الدیهایدها و کیتون‌ها نقش عمده و نهایتاً در حیات بشر اهمیت خاصی دارد. بنابر این ضرورت تحقیق احساس می شود.

## پیشینه تحقیق

یک تحقیق در سال ۱۳۹۳ از دیدگاه جان مک موری چنین بیان شده است:

از نظر جان مک موری: رابطه دوگانه کاربن – اکسیجن گروپ های کاربونیل شباهت فراوانی به پیوند دوگانه کاربن – کاربن الکان ها دارد(مک موری جان،۱۳۹۳).

از دیدگاه دکتر شهناز رستمی زاده: گروپ کاربونیل، از یک رابطه ساده کاربن – اکسیجن و یک رابطه π کاربن – اکسیجن تشکیل شده است. رابطه π از تداخل جانبی اوربیتال Pکاربن SP۲ با اوربیتال Pاکسیجن ایجاد می شود. چگونگی تشکیل رابطه σ و π در فارم الدیهاید، نشان داده شده است(رستمی زاده شهناز،۱۳۷۷).

## اهداف تحقیق

اتوم ها و عناصر تشکیل دهنده گروپ کاربونیل، واضح ساختن ارجاع گروپ کاربونیل و چگونگی تشکیل مرکبات در اثر این عملیه.

## سوالات تحقیق

۱-گروپ کاربونیل چگونه شکل می گیرد؟

۲- میخانیکیت ارجاع گروپ کاربونیل چگونه است؟

## مواد و روش کار

روش تحقیق این‌جانب تحقیق کتابخانه‌ای بوده که در این میتود بیشتر استفاده از فلش کارت ها، خلاصه نویسی و استفاده از متون بکار رفته است.

## ساختار گروپ کاربونیل

از دیدگاه دکتر شهناز رستمی زاده: گروپ کاربونیل، از یک رابطه ساده کاربن – اکسیجن و یک رابطه π کاربن – اکسیجن تشکیل شده است. رابطه π از تداخل جانبی اوربیتال Pکاربن SP۲ با اوربیتالP اکسیجن ایجاد می شود. در شکل(۱) چگونگی تشکیل رابطه σ و π در فارم الدیهاید، نشان داده شده است. همان قسم که ملاحظه می کنید، کاربن و اکسیجن و اتم های متصل به آن در یک صفحه قرار دارند و مسطح هستند. ابر الکترون در هر دو رابطه σ و π به دلیل الکترونیگاتیویتی اکسیجن در سمت اکسیجن متراکم تر است و در نتیجه کاربن قسماً مثبت و اکسیجن هم قسماً منفی می شود شکل(۲).




شکل: (1) تداخل اوربیتالهای هایبریدی $SP^2$ کاربن و اکسیجن منجربه تشکیل رابطه σ می شود (مکموری، 1393).




نظربه شکل(2) از تداخل اوربیتالهای 2P کاربن و اکسیجن رابطه π تشکیل می شود (مکموری، 1393).

توزیع چارچ ها در گروپ کاربونیل در معادله (۱) بیان گردیده است.




الف( تشکیل رابطه در فارم الدیهاید، (ب) توزیع چارچ در گروپ کاربونیل(رستمی زاده1377).

از نظر جان مک موری: رابطه دوگانه کاربن – اکسیجن گروپ های کاربونیل شباهت فراوانی به پیوند دوگانه کاربن – کاربن الکان ها دارد شکل (1)، اتوم کاربن گروپ کاربونیل، SP2 است و سه رابطه σ تشکیل می دهد. چهارمین الکترون ظرفیتی آن، در اوربیتال P کاربن باقی می ماند که نتیجه تداخل آن با اوربیتال P اکسیجن، تشکیل رابطه π بین کاربن و اکسیجن است. اکسیجن، دو زوج الکترون بدون رابطوی نیز دارد که در دو اوربیتال باقی مانده جای می گیرند. ترکیبات کاربونیل دار نیز مانند الکان ها، در ادامه رابطه دوگانه مسطح هستند و زوایای راطه شان در حدود 120° است.




(مورتیمر، ۱۳۸۹).

## ساختار الکترونی گروپ کاربونیل

رابطه های دوگانه کاربن – اکسیجن، به دلیل الکترونگاتیویتی بودن اکسیجن، قطبی شده اند. از آنجا که کاربن کاربونیل به صورت مثبت قطبی شده است، خاصیت الکترون دوستی دارد و با هسته دوست تعامل میدهد. اما، اکسیجن کاربونیل به صورت منفی قطبی شده است و خاصیت هسته دوستی (قلوی لیویس) دارد.(مکموری، ۱۳۹۳)

بنا به دیدگاه چارلزمورتیمر: اتوم کاربن می تواند با اتوم اکسیجن رابطه دوکانه تشکیل داده وگروپ کاربونیل تولید کند:



رابطه دوگانه، مانند رابطه دوگانه کاربن – کاربن، شامل یک رابطه سیگما (σ) و یک رابطه (π) بین اتوم های متصل شده است. اتوم کاربن گروپ کاربونیل و اتوم های کاربن متصل به آن هم صفحه هستند و زاویه های رابطوی 120^° تشکیل می دهند که همان ضعیت هندسی اجزای دارای هایبرید SP2 است. تفاوت رابطه دوگانه کاربونیل با رابطه دوگانه اولفینی در این است که به طور چشمگیری قطبی است بخاطریکه اکسیجن الکترونیگاتیف تر از کاربن است. اگر گروپ کاربونیل به یک یا دو اتوم هایدروجن متصل باشد ترکیب های الدیهایدی حاصل می شود (مورتیمر، 1389).

از نظر موریسون وبوید ساختار گروپ کاربونیل چنین بیان شده است:

الدیهاید ها ترکیباتی با فورمول عمومی R-CHO وکیتونها ترکیباتی با فورمول عمومی R'-CO-R می باشند. گروپ های R و R^' ممکن است الیفاتیک یا اروماتیک باشند. (گروپ R در الدیهاید، T می باشد.)




معادله (2)

الدیهاید ها و کیتونها هر دو دارای گروپ کاربونیل، C=O هستند و در مجموع به عنوان ترکیبات کاربونیل در نظر گرفته می شوند. گروپ کاربونیل به طور عمده شیمی الدیهاید ها و کیتونها را تعیین می کند.

تعجبی ندارد که در یابیم الدیهاید ها و کیتونها در بسیاری از خواص به یکدیگر شباهت دارند. به هر حال در الدیهاید ها به گروپ کاربونیل یک اتوم هایدروجن و در کیتونها به گروپ کاربونیل در گروپ عضوی متصل است. این اختلاف ساختمانی به دو طریق خواص آنها را تحت تأثیر قرار می دهد:

الف: الدیهاید ها بسیار آسان اکسیدیشن می یابند، در صورتی که کیتونها تنها به سختی اکسید می گردند.

ب: معمولاً الدیهایدها در برابر افزایش نکلیوفیلی که تعامل مشخصه ترکیبات کاربونیل است تعامل پذیرتر از کیتونها می باشند.

حال ساختمان گروپ کاربونیل را مورد بررسی قرار می دهیم. کاربن کاربونیل به وسیلة رابطه سیگما(σ) به سه اتوم دیگر متصل شده است، چون این رابطه از اوربیتالهای SP2 استفاده می کنند هر سه در یک صفحه قرار می گیرند و با یکدیگر زاویه 120° می سازند. اوربیتال باقی مانده Pکاربن با اوربیتال Pاکسیجن تداخل می کند تا یک رابطه π را به وجود آورد. بنابر این کاربن و اکسیجن به وسیلة یک رابطه دوگانه به یکدیگر متصل می شوند.

معادله(3)



معادله (4)

گـروپ هـای وظیفـوی الدیهایـدی وکیتونـی در بسـیاری از ترکیبـات مهـم زیسـتی نیز وجـود دارنـد. برای مثـال، گلوکـوز وبیشـتر قنـد هـای دیگـر گـروپ هـای وظیفـوی الدیهایـدی دارنـد. تیسـتیترون وبسـیاری از هورمونهـای اسـتروئیدی نیـز دارای گـروپ های کیتونـی هسـتند(مکموری، ۱۳۹۰).







معادله (۵)

## تشکیل رابطه هایدروجنی

از نظر دکتر شـهناز رستمی زاده داریـم کـه: قطبـی بـودن رابطـه در گـروپ کاربونیـل، باعـث افزایـش قـوه هـای جاذبـه بیـن مالیکولـی مـی شـود کـه از رابطـه هایدروجنـی ضعیـف تـر اسـت. قـوه هـای جاذبـه بیـن مالیکولـی و نقطـه غلیـان ترکیـب هـای کاربونیـل دار، از الکانهـا بیشـتر و از الکول‌هـای بـا وزن مالیکولـی مشـابه کمتـر اسـت.

ترکیـب هـای کاربونیـل دار بیـن هـم دیگـر رابطـه هایدروجنـی تشـکیل نمی‌دهنـد، امـا ماننـد ایتـر هـا بـا آب قـادر بـه تشـکیل رابطـه هایدروجنـی می‌باشـند(مکی، اسـمیت و ار، ۱۳۷۶).



# ارجاع الدیهاید ها و کیتونها

## ارجاع به الکولها

ارجاع الدیهاید ها و کیتونها توسط انواعی از روش ها نظیر هایدروجن دار شدن کتالیتیکی، هایدراید فلز، فلز حل شده و المونیم ایزوپرپوکساید .

معادله(٦)

(واکنش میرواین – پوندورف – ورلی) قابل انجام است. تمامی واکنش های کیتون ها والدیهاید های غیرحلقوی، منجر به محصول یکسانی می شوند. تعامل میرواین – پوندورف – ورلی زمانی که گروپ کاربونیل باید در حضور گروپ های ارجاع پذیر دیگر، ارجاع یابد، مفید است:




معادله(۷)

اخیراَ پیشنهاد شده است که ارجاع الدیهاید ها و کیتونهای حل شده در یک محلل خنثی توسط Propane-2-ol کتالیز شده با المونیم خنثی آب زدایی شده، روش عمومی مناسبی است. مزایای ادعا شده برای روش عبارت اند از:

۱. الدیهاید های غیر مشبوعی β,α به الکول های الیلی ارجاع می یابند.
۲. الدیهاید ها در حضور برخی از کیتونها می توانند ارجاع یابند.
۳. بسیاری از گروپ های عاملی تغییر پذیر (نظیر نایترو، سیانو و هلوجن) در شرایط واکنش دست نخورده باقی می مانند.

۴. واکنش گر پروپانول / المونیم در یک لوله مسدود شده به مدت طولانی می تواند نگهداری شود.

۵. قیمت ارزان تعامل کننده ها و سهولت جدا سازی محصولات.



معادله(۹)

$$(CH_3)_2C=CH(CH_2)_2CH=CHCHO \xrightarrow[Al_2O_3,\ CCl_4]{(CH_3)_2CHOH} (CH_3)_2C=CH(CH_2)_2CH=CHCH_2OH$$

معادله(10)

زمان که فکتور های فضایی درگیر باشند، با یک وضعیت پیچیده تری روبرو هستیم. اگر ارجاع هایدراید فلز بتواند دو الکول دای استریومیر بدهد، حاصل ممکن است یا به (i) پایداری های نسبی دو محصول، یا (ii) جهت ارجح نزدیک شدن تعامل کننده هایدراید آینده بستگی داشته باشد. زمانی که حجیم باشد، در آن صورت فکتور اخیر، تأثیر غالب خواهد بود و حمله هسته خواه از جهتی که ممانعت کمتر دارد انجام خواهد شد. اگر تعامل کننده هایدراید نیازمندی فضایی نداشته باشد، معمولاً تعامل طوری صورت می گیرد که الکول ثابت تری را بدهد. ازجاع های الکتروکیمیاوی و فلز حل شده نیز الگوی اخیر را تبعیت می کنند.

هایدروجنیشن کتلستی منجر به افزایش سیس (Cis) از سمت کمتر ممانعت شده مالیکول می شود. محصولات تشکیل شده در ارجاع ۴ –t – بیوتایل سایکلو هگزان (۱۴) و ۳ ،۳، ۵ – ترای میتایل سایکلو هگزان (۱۷) تحت شرایطی که در جدول های ۱-۱ و ۱ ۲- به ترتیب درج شده اند برای نشان دادن اهمیت انتخاب تعامل کننده بایستی فکتور های استریو کیمیاوی در نظر گرفته شوند. ثبات نسبی ترمودینامیکی (۱۵) و (۱۶) حدوداً ۱:۴ و (۱۸) و (۱۹)، حدوداً ۱:۱۶ است.

نجدول(1): محصولات ارجاع -۴ -t بیوتایل سایکلو هگزانون

| معرف ارجاع کننده | نسبت (۱۶) : (۱۵) |
|---|---|
| $LiAlH_4$ | ۹: ۱ |
| $LiAlH\ [OC(CH_3)_3]_3$ /THF | ۹ : ۱ |

| | |
|---|---|
| ۱ : ۴۹ | بیوتانول / ایتر |
| ۱ : ۱ | رنه / ایتانول / $H_2$ |
| ۱ : ۳ | $Al[OCH(CH_3)_2]_3$ |

(عابدینی، 1373).

جدول (2): محصولات ارجاع ۳،۳، ۵ – ترای میتایل سایکلوهگزانون

| نسبت (۱۹) : (۱۸) | معرف ارجاع کننده |
|---|---|
| ۱ :۹ | ایتر / $LiAlH_4$ |
| ۱ : ۸ | $LiAlH[OC(CH_3)_3]_3$ /THF |
| ۱ : ۹ | رنه / ایتانول / $H_2$ |
| ۱ : ۱۰ | LiCl کتود/ Pt |
| ۱ : ۹۹ | ایتانول |

(عابدینی،1373).




(14) (15) (16)




(17) (18) (19)

## ارجاع دو مالیکولی

وقتـی کـه کیتـون هـا بـا منیزیـم، روی، المونیـم (اغلـب بـه صـورت ملقمـه ها بـه کار مـی رونـد) در غیاب پروتـون دهنـده تعامـل مـی دهنـد، رادیـکال آیونهـای تشـکیل شـده در اول بـه دی آنیـون، ۱، ۲ – دایـول، دایمریـزه مـی شـوند. ارجـاع دومالیکولـی بـا ارجـاع هـای دیگـر، نظیـر تعامـل کلمنسـن رقابت مـی کند:



معادله(11)

(مکی، اسمیت و ار، 1376).

## ارجاع ترکیب های کاربونیل دار

الدیهایـد هـا وکیتونهـا در اثـر هایدروجنیشـن در موجودیـت کتلسـت و یـا بـا اسـتفاده از احیا کننـده های هایدریـدی، نظیـر لیتیـم المونیـم هایدرایـد و یا سـودیم بـور هایدراید به الکولهـای مربوط احیا می شـوند.



معادله(12)

$$\underset{\text{2- Biotenal}}{CH_3CH=CH\,CHO} \xrightarrow[Ni]{H_2} \underset{\text{1- Biotanol}}{CH_3\,CH_2\,CH_2\,CH_2\,OH}$$

معادله(13)

روش هایدروجن دار شدن کتلستی به دلیل اینکه کتلست های چون ( Pd,Pt و Rh) گران هستند و هم چنین اگر در مالیکول عواملی نظیر $C = C$, $C \equiv C$, $NO_2$ و $C \equiv N$ وجود داشته باشند آنها نیز احیا می شوند، چندان سودمند نیست.




معادله(14)




معادله(15)

تعامل با لیتیم المونیم هایدراید معمولاً با افزایش محلول ایتری الدیهاید ویا کیتون به محلول ایتری المونیم هایدراید صورت می گیرد. مکانیسم تعامل شامل انتقال آیون هایدراید از تعامل کننده احیا کننده به کیتون یا الدیهاید است.




معادله(16)

فعالیت سودیم بورهایداراید از لیتیم المونیم هایدراید کمتر است. با این تعامل دهنده ها فقط الدیهایدها و کیتونها فعال می شوند. به همین دلیل، چنانچه در ترکیبی علاوه بر گروپ کاربونیل گروپ ایستری وجود داشته باشد فقط گروپ کیتونی با این تعامل دهنده فعال می شود. مثال:




معادله(17)

(رستمی زاده، 1377).

## ارجاع الکانوئیل کلورایدها ( اسید کلوراید ها )

$$RCOCl \xrightarrow{LiAlH[(CH_3)_3CO]_3} RCHO$$

معادله(19)

(ونت ، ۱۳۷۹).

## ارجاع به وسیله افزایش

الدیهاید ها و کیتونها با NaOH or EtOH یا با هایدروجن دار کردن به وسیله کتلست های Pt یا Pd به الکول های مربوط شان ارجاع می شوند. که از جمله می توان تعامل افزایشی هسته دوستی، برگشت ناپذیر را نام برد:

i. افزایش آیون هایدراید ($H^-$)




معادله(20)

ii. افزایش کاربوانیون ها

۱ تعامل با تعامل دهنده های گرینیارد



Methanal=> Primary, Another Aldehydes => secoundary and Ketones => Tertiary Alcohols

۲. تعامل با الکایل یا آریل لیتیم



معادله(21)

۳. تعامل با الکیندی ها (استیلایدها)



معادله(22)

۴. تعامل با ایلیدهای فاسفورس (ویتینگ)



معاله(23)

(ونت، ۱۳۷۹).

بنا به دیدگاه جان مک موری ارجاع کاربونیل چنین می باشد: ارجاع گروپ های وظیفوی مختلف، عوامل ارجاع دهنده گی متفاوتی را می خواهد: $NaBH_4$(سودیم بور هایدراید) از قدرت

کافی برای ارجاع الدیهاید ها به الکول برخوردار است، اما نمی تواند کاربوکسیلیک اسید ها را ارجاع نماید. ارجاع کاربوکسیلیک اسید ها با $LiAlH_4$ (لیتیم المونیم هایدراید) صورت می گیرد. طبیعت، به جای این تعامل دهنده های ساده آزمایشگاهی، مالیکول های پیچیده ای به کار می گیرد که تعامل های تحمضی وارجاعی را به صورت رجعی انجام می دهند.

عوامل ارجاع برگشت ناپذیر در آزمایشگاه




Sodium Bor hydride    Litiuom Almoniuom hydride

معادله(24)

عوامل ارجاع برگشت پذیر در اندامگان زنده




*if X=OH ⇒ Reducted Nicotinamide Adenine di Nucleotide (NADH)*

*if* $x=OPO_3^{2-}$ ⇒ *Reducted Nicotinamide Adenine di Nucleotide Phosphate (NADPH)*

معادله(25)

در این مالیکول، منبع $H:^-$ مشخص شده است. با مقایسه نمودن الکترونگاتیویتی H با B یا Al

، مـی تـوان بـه قـدرت ارجـاع دهنـده گـی بیشـتر $NaBH_4$ نسـبت بـه $LiAlH_4$ پـی بـرد.Al نسـبت بـه B دارای الکتروپوزیتـی بالاتـر مـی باشـد، در نتیجـه، هایدرایـد $LiAlH_4$ نسـبت بـه هایدرایـد $NaBH_4$ تعامـل پذیرتـر و فعالتـر مـی باشـد. امـا، منبـع هایدرایـد در NADH یـا NADPH کـدام اسـت؟ (حرف "H" بیانگـر شـکل ارجـاع شـده اسـت). لـذا مـا مـی دانیـم کـه تفـاوت الکترونگاتیویتـی بیـن C و H بسـیار ناچیـز اسـت.

طبیعـت چگونـه مـی توانـد هزینـه ایجـاد $H:^-$ از رابطـه غیرقطبـی C-H را جبـران کنـد؟ پاسـخ ایـن سـوال در اروماتیـک شـدن نهفتـه اسـت. بـا حـذف نمـودن هایدرایـد از NADH یـا NADPH ، یـک حلقـه اروماتیـک باثبـات تشـکیل مـی گـردد.

در بحـث مخانیکیـت ایـن تعامـلات، تمـام عوامـل هایدرایـد دهنـده را سـمبول $H:^-$ نشـان مـی دهیـم. همـان طـور کـه در تعامـل زیـر مشـاهده مـی کنیـد، هایدرایـد هسـته دوسـت جفـت الکتـرون خـود را بـرای تشـکیل رابطـه بـا ام کاربـن گـروپ کاربونیـل $C = O$ بـه کار مـی گیـرد.

و هـم زمـان، هایبریدیزیشـن اتـوم کاربـن $C = O$ از $SP^2$ بـه $SP^3$ تغییـر مـی کنـد و دو الکتـرون از رابطـه $C = O$ بـه اتـوم اکسـیجن انتقـال می‌کنـد و آیـون الکوکسـاید را می‌سـازد. سـپس، در اثـر ازدیـاد $H^+$ بـه آیـون الکوکسـاید، الکـول خنثـی اسـتحصال می‌شـود.

یـک جفـت الکتـرون هسـته دوسـت، بـا حملـه کـردن بـه کاربـن الکتـرون دوسـت گـروپ کاربونیـل جفـت الکتـرون رابطـه $C = O$ را بـر روی اکسـیجن قـرار داده وآیـون الکوکسـاید را می‌سـازد. هایبریـد اتـوم کاربـن کاربونیـل نیـز از $SP^2$ بـه $SP^3$ تغییـر می‌کنـد.




معادله(26)

بـا پروتـون دار شـدن آنیـون الکوکسـاید بدسـت آمـده از افزایـش هسـته دوسـتی، محصـول افزایشـی الکـول خنثـی بـه دسـت مـی آیـد.

افزایش هسته دوستی آب یا آب پوشی (هایدرولیز)

پیـش از بررسـی افزایـش هسـته دوسـتی آب یـا الکـول بـه کاربونیـل هـا، اولتـر بـا قاعـده H بـه O در

باره تعامل کردن شان بحث می کنیم و آشنا می شویم. کیمیای افزایش به رابطه C = O مشابه تعامل آب یا الکول با یک الدیهاید یا کیتون است. با افزایش گروپ RO - H به یک رابطه C = O،H به اتوم اکسیجن رابطه C = O و RO به اتوم کاربن رابطه C = O اضافه می شود.

و اکنون نگاهی به آبپوشی (یعنی اضافه نمودن $H_2O$ ) می اندازیم.

محصول تعامل افزایش هسته دوستی (الدیهاید ها و کیتونها با آب، 1,1-Diols، یا دایون های دوغلو) است. این تعامل رجعی بوده و یک دایول دو غلو می تواند با از دست دادن آب به کیتون یا الدیهاید مربوطه اش تبدیل شود.




معادله(29)

موقعیت تعادل بین دایول های دوغلو و الدیهاید یا کیتونها به ساختار ترکیب کاربونیل دار بستگی دارد. اگر چه در بیشتر موارد، تعادل شدیداً به سمت ترکیب کاربونیل دار می باشد. برای بعضی از الدیهایدهای ساده، دایول دوغلو بهتر است. مثلاً، محلول آبی استیون شامل حدود 0،1% دایول دوغلو و 99،9% کیتون است، در حالی که محلول آبی فارم الدیهاید 99،9% دایول دوغلو و 0،1% الدیهاید موجود است.

